کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د بېلانس تحلیل

څانګه: محاسبه

راټولونکی: عبدالجبار قیومي

ژباړن: نور الله حقمل

د څار کمېټه:

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

د تصحیح کمېټه:

- نصیراحمد احمدي
- محمد احسان احسان
- عبدالجمیل ممتاز

د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول: محمد جان علیرضایي

ګرافیک او ډیزاین: عبدالله شاهي

چاپ کال: ۱۳۹۲ لمریز کال

تیراژ: ۳۰۰۰ ټوکه

چاپ ځل: لومړی

وېب پاڼه: www.dmtvet.gov.af

برېښنالیک: info@dmtvet.gov.af

کډ ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۸۵-۹

Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطـــن افغانســـتان دی　　دا عـــزت د هر افـــغان دی

کـــور د سولې کـــور د تورې　　هر بچـــی يې قـــهرمان دی

دا وطـــن د ټولو کـــور دی　　د بلوڅـــو د ازبکـــو

د پـــښتون او هـــزاره وو　　د ترکمنـــو د تاجکـــو

ور سره عـــرب، ګـــوجر دي　　پاميـــريان، نورستانيـــان

بر اهـــوي دي، قـــزلباش دي　　هم ايمـــاق، هم پـــشه يان

دا هيـــواد به تل ځليـــږي　　لکـــه لمـــر پر شـــنه آسمان

په سيـــنه کې د آسيـــا به　　لکـــه زړه وي جـــاوېدان

نـــوم د حـــق مـــو دی رهـــبر　　وايو الله اکبـــر وايو الله اکبـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت پېغام

ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!

د يوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پياوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زيار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هيواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د يوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمينوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چی د ځمکې په عمران او د يوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ايجاباتو د تکميل لپاره خپل اغيزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځايه ده چې د يوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېريال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کيږي او نه هم منقطع کيږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت مسوولیت او مکلفيت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانينو ته په ژمنتيا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفيت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنيکي کادرونو روزنه او پراختيا يو اړين مقصد دی. همدا په تخنيکي او مسلکي زده کړو مزين تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سيستماتيک ډول د هيواد انکشاف محقق او ميسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنيز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخيســتی؛ نو لازمه ده چې زمونږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي بايد په علمي معيارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زمونږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړيتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفيت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربيت او په سوچه اسلامي روحيې د هغوی پالنه نه يواځې پخپل ذات کې يوه اساسي وجيبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زمونږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه يې وژغوري او د نورو له سياسي او اقتصادي احتياج څخه يې آزاد کړي.

زمونږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربيون بايد په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، يواځې او يواځې د دوی په پياوړو متو، ويښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنيکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو ليکوالانو، مولفينو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقيق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهيــر کــې د ټولو کورنيو او بهرنيو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پيــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هيله کوم چې د دې نصــاب په کتور تدريس او فعاله تدريب سره دې د زړه په ټول خلوص، صميمي هڅو او وجداني پيکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ويارمن افغانستان په هيله

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

څپرکي	سرليکونه	مخ
لومړی	د بيلانس تحليل او تجزيه	۱
دويم	د بيلانس د اقلامو تصنيف او قيمت ګذاري	۱۴
درېيم	د بيلانس د تحليل اړتيا او تخنيکونه	۳۰
څلورم	د بيلانس د ترتيب طرز	۷۲
پنځم	د بيلانس په اقلامو کې تغير او تعويض	۹۶
شپږم	د بيلانس تحديدي حسابونه	۱۰۴
	سرچينې او اخځليکونه	۱۶۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدمه

د محاســبې د مختلفو مباحثو لپاره بیلابیل تالیفونه تر سره شــوي دي، چې زیاتره یې د پخوانیو تجربــې او د اوســنیو محققانــو او صاحب نظرانو نظریات دي. په دې کتاب کې هڅه شــوې چې د مختلفو کتابونو له متنونو او د فن د خاوندانو له علمي تجربو څخه استفاده وشي، همدارنګه په سمه توګه د ګرانو زده کوونکو لپاره د بیلانس د تحلیل او تجزیې په اړه مفاهیم او مطالب راوړل شوي دي.

دا چې د صنعتي او تجارتي موسساتو د هدفمنو او اګاهانه تصمیم نیونو په پروسه کې د تصدۍ د مالي وضعیت په اړه معلومات او اطلاعات زیات ارزښت لري او هغه معلومات چې د یوې تصدۍ مــالي وضع څرګندوي، د بیلانس په مرســته تر سره کیــږي او همدارنګه د بیلانس تحلیل او تجزیه د محاسبې مهمه څانګه تشکیلوي.

په اوسني حال کې هغې اغیزې ته په پام سره چې د بیلانس تحلیل او تجزیه یې د موسساتو پر پلانګذاری او د مدیرانو پر تصمیم نیونه باندې لري، د هغو زده کړه له یو خاص ارزښت څخه برخمنه ده. دې ته په پام سره ددغه کتاب په چمتو کولو کې دا هڅه شوې، څو نوي مطالب او ګټور مسایل مطرح شي، تر څو محصلین وتوانیږي چې له فراغت نه وروسته په خپلو دندو کې په ډیرې اسانۍ سره له ورپېښو ستونزو څخه ووځي.

په درناوي

عبدالجبار قیومي د انسټیټوټ استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ټولیزه موخه:

د بیلانس د تحلیل، په بیلانس کې د اقلامو قیمت ګذاري، ترتیب، په اقلامو کې د تغیر او همدارنګه د بیلانس تحدیدی حسابونو په اړه معلومات ترلاسه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس تحلیل او تجزیه

ټولیزه موخه:

له بیلانس سره په ټراو د مهمو اصطلاحاتو پېژندنه.

د زده کړې موخې: د دې څپرکي په پای کې باید زده کوونکي د لاندې موضوعاتو په هکله معلومات ولري:

- د بیلانس تعریف Definition of Balance.
- د بیلانس ډولونه Natures of Balance.
- د بیلانس دندې Functions of Balance.
- د بیلانس معادله Equation of Balnce.
- د بیلانس پاڼه Balance sheet.

۱- د بیلانس تعریف Definition of Balance

دغه اصطلاح د ایټالوي ژبې له (bilancia) لفظ څخه اخیستل شوي ده چې د تلې یا ترازو معنا ورکوي.

بیلانس ټول ورته یا مشابه اقلام خلاصه کوي او د موجودي یا stockد لست په خلاف د مقدار له شمولو یا څرګندولو څخه صرف نظر کوي.

د بیلانس په چپ لوري کې د دارایي یا asset ټول اقلام شمول کیږي چې د Active یا فعال

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري په نامه او په ښـــي لوری کې يې شـــخصي سرمايه او ټولې باندنۍ سرمايې ثبت کيږي چې د Pasive يا غير فعال لوري په نامه يادیږي.

د اکټيف او پســـيف لوريـــو مجموعي بيلانس د تل لپاره سره مســـاوي وي چې په دې توګه د Balance يا تلې د اصطلاح مفهوم او معنا په ښه توګه واضح کيږي.

د سرمايې په يوه بيلانس کې د يوې موسســـې سرمايه ګذاري د دوهم ځل لپاره څرګنديږي په دې معنا چې په پســـيف لوري کې د اخيســـتل شـــوې سرمايې منابع او مدارک ښودل کيږي او په اکټيف لوري کې د نوموړي سرمايې د استعمال صورت په ډاګه او ښودل کيږي.

لاندې نمونه تاسو ته په يوه معينه دوره کې د يوه شرکت مالي وضعي بيلانس در په ګوته کوي.

پسيف		بيلانس		اکټيف

بيلانس

مسلسل نمبر	د حساباتو نوم يا ليجر	د ليجرونو نمبر	مبالغ	
			پسيف	اکټيف

بيلانس

مسلسل نمبر	د حساباتو نوم يا ليجر	No / L	مبالغ	
			پسيف	اکټيف
1	ماشين آلات	5		1300000
2	تجهيزات	6		500000
3	امتعه	7		2100000
4	طلبات	8		180000
5	نقده	9		300000
6	ديون يا liabilities	10	1500000	
7	شخصي سرمايه	11	2880000	
مجموعه			4380000	4380000

د بيلانس ډولونه Natures of Balance

افتتاحيـــه بيلانس (Beginning Balance): د حســـاب له هغه صورت يـــا statement څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبارت دی چې د کال په لومړیو کې د یوه شرکت مالي وضعیت روښانه کوي.

آزمایــشي بیلانس (Trail Balance): دا له هغو بیلانســونو څخه عبــارت دی چې د لیجر له حساب څخه را کښل شوی وي او ټول اسمي او واقعي حسابات په کې شامل وي.

لکه مخکې چې ور نه یادونه وشوه ازمایشي بیلانس یا trail balance په ژورنال یا (Journal) کې د معاملې له ثبت کېدلو او لیجر(Ledger) ته له لیږدول کېدلو وروســته ترتیب کیږي. دوهم ازمایــشي بیلانس لیجر ته د تعدیلي معاملاتو له لیږدېدلو وروســته ترتیب کیږي چې د (د تعدیل شوي ازمایشي بیلانس یا ....) په نامه یادیږي.

دریم ازمایشي بیلانس د حســابونو له تړل کیدلو وروسته ترتیب کیږی چې د حساباتو د پای د ازمایشي بیلانس په نامه یادیږي. دغه ازمایشــی بیلانس Loss AccountدProfit and یا د ګټې او ضرر حساب ته د کریډیټ او ډبټ حسابونو د انتقال ښودنه کوي.

د حساباتو د پای ازمایشي بیلانس یوازې د واقعي حساباتو یعنې د دارایي، دیون یا liabilities و او شخصي پانګې لرونکی وي.

اختتامیه بیلانس (Balance sheet)

د حســاب له هغه صورت یــا statement څخه عبارت دی چې د کال پــه پای کې په بیلابیلو ستونونو کې د ګټې او تاوان په توګه د یوه شرکت د مالي وضعې څرګندونه کوي.Balance sheet یا اختتامیه بیلانس ځینې وخت د یوه شرکت د مالي وضع د حساب په نامه هم یادیږي چې په یوه معینه دوره کې د یوه شرکت د دارایي یا ... او دیون یا liabilities سرمایه ســهم داران یا د شرکت د ونډې والو د پانګې او دیونو یا liabilitie ښودنه کوي.

Balance sheet پــه یوه شرکت کې د اچول شــوې پانګې، د هغــې د تمویل د منابعو، د قرض ورکونکو په مقابل کې د شرکت د ژمنو یا تعهداتو او شخصي پانګې په اړه مفصل معلومات ورکوي، نو په دې توګه ویلای شــو چې بیلانس شــیټ د راتلونکو نغدي جریاناتو یا Cash flow په اړه د وړاند وینې غوره وسېله ده.

د تجارت بیلانس یا (Balance of Trade)

د یوه هیواد د وارداتو د ارزښت د مجموعې په وړاندې د هغه د صادراتو د ارزښت د مجموعې له پرتلې یا مقایسې څخه عبارت دی . همدا شان د پولې ارزښت په بڼه د یوه هیواد تجارتي اموالو د وارداتو او صادراتو د مجموعي توپیر د تجارت د بیلانس یا Balance of Trade په نامه یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسابي معاملاتو بيلانس يا Trading Accounts

دغه حساب د ناخالصې ګټې او ضرر د ترلاسه کيدلو په موخه ترتيب کيږي. د حسابي معاملاتو بيلانس يا trading account دوه برخې لري چې يــوه يې له ډبټ يا (debit) لوري او بله يې له کريډيټ يا (Credit) لوري څخه عبارت ده چې په ډبټ لوري کې يې د اخيستل شوې امتعې ټول معاملات او په کريډيټ لوري کې يې د پلورل شوې امتعې ټول معاملات درج کيږي.

که چيرته کريډيټ لوری تر ډبټ لوري زيات وي ، په دې صورت کې ناخالص مفاد او که چيرته ډبټ لوری تر کريډيټ لوري زيات وي نو ناخالص ضرر يا تاوان زيات دی.

د ګټې او ضرر بيلانس يا Profit and Loss Accounts

دغه ډول حساب د خالص مفاد يا خالص زيان د موندلو په موخه ترتيب کيږي او دوه ستونونه لري چې له کريډيټ او ډبټ څخه عبارت دي.

په ډبټ ستون کې د دورې ټول مستقيم مصارف يا لګښتونه او په کريډيټ ستون کې د دورې ټول مستقيم عوايد درج کيږي او له هغه وروسته غير مستقيم مفاد او عوايد درج کيږي.

کــه چيرته ډبټ لوری تر کريډيټ لوري زيات وي، په دې صورت کې خالص ضرر او که چيرته کريډيټ لوری تر ډبټ لوري وي، په دې صورت کې خالص مفاد زيات وي.

د تجارت مثبت بيلانس Favorable Balance of Trade

کله چې په يوه معين وخت کې په مجموعي توګه د صادراتو پولې ارزښــت د وارداتو تر پولې ارزښت زيات شي دغه حالت ته ديوه هيواد د خارجي تجارت مثبت يا مساعد بيلانس ويل کيږي.

د تجارت منفي بيلانس يا Passive Trade Balance

کله چې په يوه معين وخت کې په مجموعي توګه د وارداتو پولې ارزښــت د صادراتو تر پولې ارزښت زيات شي دغه حالت ته ديوه هيواد د خارجي تجارت منفې يا نا مساعد بيلانس ويل کيږي.

د بيلانس دندې يا وظايف Funtions of Balance

معمولاً د بيلانس دندې په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

۱- د موجودي يا stock لســت خلاصه کول چې په هغه کې د شرکت ټوله شــتمني او ديون يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

liabilities په خلصه توګه درج او ښودل کيږي.

۲- بيلانــس په يوه معين وخــت کې د شرکت د مالي وضعيت څرګندونه کوي چې ايا په شرکت کې سياليت يا Leqidity شته اوکنه.

۳- د بيلانس پســيف طرف د دې ښــودنه کوي چې سرمايه ګذاري شوې پانګه له کومو منابعو څخه تر لاسه شوې او د بيلانس اکټيف طرف د نوموړې سر مايې د استعمال د صورت يا statement ډول روښانه کوي.

۴- بيلانــس د ټولې شــخصي او بهرنــۍ سرمايې په مقابل کې د موســسي يا شرکــت د دارايي څرګندونه او د هغوی دموازنې ښودنه کوي.

۵- بيلانس په لنډه توګه د موسسې يا شرکت د قرضونو او سرمايې په هکله معلومات وړاندې کوي.

۶- بيلانس د شرکت د راتلونکو تصاميمو په هکله مالي راپور چمتو کوي.

۷- آزمايشي بيلانس د ليجرونو له ټولو حسابونو څخه د هغه کريډيټ او ډبټ لوري ته د درج شويو ارقامو د ليږد يا انتقال بهير کنټرولوي.

۸- بيلانس د شرکت د ګټې او ضرر حساب معلوموي.

۹- بيلانس په اســانه توګــه د دورې پای کې د موجودې امتعې تر عنــوان لاندې د ليجرونو له حساب څخه د باقي مانده موجودي راپور ورکوي.

د حساب معادله او بيلانسAccounting Equation and Balance

- حسابی معادله (Accounting Equation)
- د حسابي معادلې ثبت (Recording of Accounting Equation)

حسابي معادله: Accounting Equation: تر دغه عنوان لاندې د حسابي معادلې په اړه لنډه مطالعه کوو.

اســاسي حســابي معادله د مضأعف اندراج يا Double Entry System د اســاس په توګه ګڼل کيږي. دغه معادله د دې ښودنه کوي چې دارايي څه ډول تمويل کيږي.

Capital + Liabilities = Assets

دارائي = ديون + د مالک شخصي سرمايه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسابداري علم د لاندې حسابي معادلې په اساس استوار دي.

دارايي = ديون + د مالک خالصه دارايي (شخصی سرمايه)

پــه کار ده چــې دغه معادله د توازن پــه حالت کې قرار ولري او د همــدې دليل له مخې د حســابونو عصري سيســتم، د مضأعف اندراج يا Double Entry Stystmپه نامه يادېږي. دغه امر په دې مفهوم دی چې په حســابي اســنادو کې د هرې معاملې ثبت بايد په دوه اندراج يا Duble entryډول تــر سره شي، کــه يوازې پــه يوه ګوڼي درج کېدنه باندې بســنه وشي ممکن معادله غير متوازنه بڼه غوره کړي.

د معادلې درې برخې په لاندې ډول دي

Asset يــا دارايي: د شرکت لــه مالکيت څخه عبارت ده چې تجهيزات، د نغدي وجه يا Cash in hand، اجناس او تر لاسه کيدونکي حسابونه په کې شامل دي.

ديون يا Liability: عبارت له هغه څخه دي چې شرکت د قرض په ډول تر لاسه کړي وي لکه بانکي قرضه، او تاديه کيدونکي حسابونه.

د مالــک خالصــه دارايي يا Net Asset: له هغه څه څخــه عبارت دی چې مالک يې د تصرف حق لري لکه سرمايه او تجارتي نفع.

اســاسي حســابي معامله د دفتر داري د مضاعف اندراج سستم د مبنا په توګه پيژندل کيږي. دا معادله د دې ښــودنه کوي چې د دارايیو دحصول مصرف په څه ډول له درېيم کس څخه د قرض اخستلو او يا له خالصې و جوه (د څښتن دخالصه دارايي) څخه په استفادې سره تامين کيدی شي. د مثال په توګه يو شــاګرد يوه پايه کمپيوټر د ۹۴۵ افغانيو په بدل کې اخلي. دغه شــاګرد له خپل نږدې ملګري څخه ۵۰۰ افغانۍ قرض کوي او پاتې ۴۴۵ افغانۍ مبلغ د نيم وخته وظيفې له مدرک څخه تحصيل کوي. اوس نو د نومورې دارايي ارزښت ۹۴۵ افغانۍ دی چې له دې جملې څخه ۵۰۰ افغانۍ يې قرضه ده، نو په دې توګه د هغه خالصه دارايي ۴۴۵ افغانۍ ده.

د حسابي معادلې تعريف Definition of Accounting Equation

اســاسي حســابي معادله د ثبت او مضاعف اندراج سيستم اســاس ګڼل کيږي. دغه معادله د دې ښــودنه کــوي چې دارايي څه ډول تمويــل کيږي، له درېيم کس څخه د قرض اخســتلو له درکه او يا ستاســو له شــخصي مصرف يا د ونډه والو له خالصې دارايي څخه د پرداخت يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

Payment لــه درکــه دی.

فورمول يې په لاندې ډول ليکلای شو:

Stock holder Eguity = Liability – Assets

دارايي - ديون = (د څښتن يا ونډه والو خالصه دارايي)

اوس نو معادله ښــيي چې د څښــتن ونډه د ديون يا liabilities له مدرکه د منفي دارايي له رقم سره برابر دی. تر کومه ځايه چې د يوه شرکت مالکين له ونډه والو څخه تشکيليږي، د مالک منفعت ته د څښتن خالصه دارايي يا Net Asset ويل کيږي.

هره حســابي معادله حداقل د معادلې يو عنصر متاثره کوي خو معادله د توازن په حالت کې قرار لري.

د بيلانس مفهوم

له هغه حسابي صورت يا statement څخه عبارت دی چې دارايي، ديون او د ونډه والو ملکيت پــه يوه معينه زماني مقطع کې منعکســوي. دغه درې کتګوری د پانګــه اچونکو لپاره د شرکت د دارايي، پورونو او مالکينو د ونډې په هکله يوه مفکوره يا ايډيا ورکوي.

لکه چې پوهيږئ، د بيلانس په پاڼه يا بيلانس شيټ کې لاندې فورمول تطبيق کيږي.

Capital +Liability = Assets

دارايي = ديوني + شخصي سرمايه

ځنګه چې پورتنی توازن د تل لپاره صدق کوي، نو د حساب دغه صورت يا statement د تلي د بيلانس يا بيلانس (ترازو) په نامه يادیږي او د دې ښودنه کوي چې دارايي په کوم تناسب دپورونو او يا ملکيت (شخصي سرمايې) له لارې تمويليږي.

د بيلانس د پاڼې يا بيلانس شيټ جوړښت

دا د مالي حســابونو تر ټولــو مهم صورت يا statement ګڼل کيــږي، په داسي حال کې چې د عوايدو صورت يا statement په يوه معينه دوره کې د تر لاسه شوي مفاد او عوايدو ښودنه کوي، د بيلانس پاڼه په يوه معينه زماني مقطع کې د يوه شرکت د مالي وضعې څرګندونه کوي. د حساب دغه صورت د حسابونو له ټولو صورتونو سره د شرکت د مالي مسايلو روښانه انځور وړاندې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس د پاڼې یا Balace Sheet شکل او جوړښت

د ( ) کال لپاره د بیلانس پاڼه

د حساباتو نوم	فرعي حسابونه	مجموعي حسابونه
دارائي یا Asset:		
جاري دارائي یا Current Asset		
نغدي دارائي یا Liquid Asset		
بانکی دارائي		
طلبات یا (تر لاسه کیدونکي حسابونه)		
تر لاسه کیدونکي بیلونه یا Bills		
د ګدام زیرمه یا ذخایر ګدام (موجودي)		
د جاري دارایي مجموعه		
ثابتې دارایي یا fixed Asset		
تجهیزات او فرنیچر		
دستګاګاني او ماشین آلات		
عمارات (تعمیرات)		
ځمکه		
د ثابتي دارایي مجموعه		
د ثابتی او جاري دارایي مجموعه		
دیون یا liabilities:		
لنډ مهاله یا جاري قرضونه (د تادېې وړ حسابونه)		
د تادیې وړ بیلونه یا Bills Payable		
بانکي پورونه یا دیون یا liabilities		
د لنډ مهاله پورونو مجموعه		
شخصی سرمایه (د متصدي سرمایه)		
اوږد مهاله قروض		
خالص مفاد		
د ثابتو یا اوږد مهاله پورونه مجموعه		
د دیون پورونو او سرمایې مجموعه		

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس د پاڼې یا Balance Seet د ترتیب موخه

د بیلانس شیټ له ترتیب څخه اصلي موخه د مالي دورې د پای په یوه معینه زماني مقطع کې د یوه شرکت د مالي وضعیت له روښانه کولو څخه عبارت ده.

د بیلانس شیټ دندې

د بیلانس شیټ دندې په دریو برخو وېشل شوېدي:

۱- د بیلانس شیټ عمومي دندې.

۲- د بیلانس شیټ اساسي دندې.

۳- د بیلانس شیټ خصوصي دندې.

د بیلانس شیټ عمومي دندې

د بیلانس شیټ عمومي دندې په لنډ ډول خلاصه کیږي:

الف- د اقتصادي معلوماتو وړاندې کول: بیلانس شیټ دنده لري تر څو د مشخصو معیارونو او سنجش په واسطه د یوه شرکت مالي وضعه توضیح او تشریح کړي.

ب- د اقتصادي پایلو تثبیت: د یوه بیلانس شیټ په ارقامو کې د یوه شرکت فعالیتونه منعکس کیږي.

ج- د یوه شرکت اقتصادي مراقبت او کنټرول: په بیلانس شیټ کې درج شوي ارقام او د هغوی تحلیل او شننه د یوه شرکت مالي وضعه کنټرولوي.

د- حســاب ورکول: د بیلانس شــیټ تر ټولو مهمه دنده له حساب ورکولو څخه عبارت ده چې پورتنۍ درې واړه دندې په بر کې نیسي. دولت، دائنین یا Creditors، ونډه وال یا Share Holders او د شرکت څښتنان د بېلابېلو لاملونو له کبله د حساب ورکولو له دندې سره دلچسپي لري.

د بیلانس شیټ اساسي دندې.

دغه دندې په لاندې ډول توضیح کیږي:

الف-د مفاد تثبیت او د سرمایې ساتنه: په دې معنا چې له یوه لوري کلنۍ پایله په ډاګه کوي او له بل لوري د بیلانس شــیټ د دارایي طر ف د شرکت د سرمایې ښــودنه کوي چې د سرمایې د ساتنې معنا ورکوي.

ب- د دارایي تثبیت او د هغې د جوړښــت څرګندول: د یوه بیلانس شــیټ په واسطه د شرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارايي ښـودل کيږي او ور سره جوخت د دارايي جوړښـت معرفي کوي، يعني بيلانس شـيټ د دې ښودنه کوي چې د يوه شرکت د دارايي مجموعه څومره ده، له کومو اجزاؤ څخه ترکيب شوی ده؟ د سيارې او ثابتې دارايي تناسب څه ډول دی او د دارايي له مجموعي سره د هر قلم اړيکه څه ډول ده.

ج- د سرمايې د جوړښـت توضيح: د يوه شرکت بيلانس شـيټ د دې ښودنه کوي چې د شرکت سرمايه له کومو اجزاؤو څخه ترکيب شـويده او د شـخصي او غير شـخصي سرمايې تر منځ اړيکې څه ډول دي.

د- د سرمايه ګذاري او د هغې د تمويل توزيع: بيلانس شـيټ د دې ښـودنه کوي چې د بيلانس شـيټ په پسـيف لوري کې درج شوې سرمايه په کومو اقلامو کې سرمايه ګذاري شوی ده او تمويل يې له کومو منابعو څخه تامين شوی ده.

هـ- د شرکت د سيالیت وضعه: بيلانس شيټ د شرکت د سيالیت د وضعې يا Lequidity status پـه برخه کې معلومات وړاندي کوي چې په مرسـته يـې دا معلوميږي چې ايا شرکت له مالي پلوه سيالیت يا Lequidity لري او کنه؟

د بيلانس شيټ خصوصي دندې

د بيلانس شيټ خصوصي دندې په لاندې ډول دي:

الف-د پايلي سنجش يا ارزونه: چې د شرکت د اقتصاديت د معيار په توګه خورا اهميت لري.

ب- د پلور سنجش: د پلور د ارزونې په اساس څرګندیږي چې د خالص او غير خالص پلور تر منځ څه توپير شته او د پلور د طلباتو ونډه څومره ده.

ج- د مفاد او د هغه د توزيع سنجش: بيلانس د دې ښودنه کوي چې په ونډه والو باندی مفاد د کوم ميتود له لارې وېشل کيږي او د هغه د محاسبې طرز څه ډول دی.

د- دځـاني تمويـل د مفاد ارزونه: د هغه مفاد ارزونه چې د زياتې اسـتفادې په موخه په يوه شرکت کې پاتې کيږي د ځاني تمويل د مفاد په نامه يادیږي.

د لومړي څېړکي لنډيز

۱. تحليل يا nalysis: له جزياتو سره جوخت د موضوعاتو له بررسي څخه عبارت ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.بیلانسalance : د حساب له هغه صورت یا statement څخه عبارت دی چې د یوه شرکت مالي وضع په یوه معینه زماني مقطع کې منعکس کوي.

۳. **افتتاحیه بیلانس:** د حســاب له هغه صورت یــا statement څخه عبارت دی چې د شرکت مالي وضعه د کال په پیل کې واضح کوي.

۴. **آزمایشــی بیلانــس:** له هغه بیلانس څخه عبارت دی چې له لیجرونو څخه ایســتل شــوي بیلانسونه له ټولو اسمي او واقعي حسابونو سره په کې شامل وي.

۵.اختتامیه بیلانس: له هغه حســابي صورت یا statement څخه عبارت دی چې د کال په پای کې د شرکت مالي وضعه بیانوي.

۶.د تجــارت بیلانس: د یوه هیواد د ټولو صادراتو په پرتله د هغه دوارداتو له مقایســې څخه عبارت دی.

۷.د حســابي معاملاتو بیلانس: د حساب له هغه صورت یا statement څخه عبارت دی چې د ناخالصې ګټې او ضرر د تر لاسه کېدلو په موخه تر تیب کیږي.

۸.د ګټــې او ضرر بیلانس: د حســاب له هغه صورت یــا statement څخه عبارت دی چې د خالصې ګټې او ضرر د معلومیدلو په موخه ترتیب کیږي

۹.د بیلانس د دندو دسته بندي:

الف- د بیلانس عموي دندې.

ب-د بیلانس اساسي دندې.

ج- د بیلانس خصوصي دندې.

۱۰. د **بیلانس عمومي دندې:**

الف- د اقتصادي معلوماتو وړاندې کول.

ب- د اقتصادي پایلې تثبیت.

ج- د شرکت اقتصادي کنټرول او مراقبت.

د- حسابدهي یا حساب ورکونه.

۱۱. د بیلانس اساسي دندې:

الف-د مفاد تثبیت او د سرمایې ساتنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- د دارايي تثبيت او د هغې د جوړښت په هکله د معلوماتو وړاندې کول.

ج- د سرمايې د جوړښت په هکله د معلوماتو وړاندې کول.

د- د سرمايه ګذاري توزيع او د هغوی تحويل.

و- د شرکت د سيالیت وضعه.

۱۲. د بيلانس خصوصي دندې:

الف- د پايلې سنجش يا ارزونه.

ب- د پلور ارزونه يا سنجش.

ج- د مفاد ارزونه او د توزيع وړتيا.

د- د مفاد سنجش او ځاني تمويل.

د لومړي څپرکي پوښتنې

۱- د بيلانس تحليل تعريف کړئ؟

۲- د بيلانس د ډولونو نومونه واخلئ؟

۳- افتتاحيه بيلانس څه شی دی؟

۴- بيلانس د لغت او اصطلاح له مخې تعريف کړئ؟

۵- د ازمايشي بيلانس په هکله معلومات ورکړئ؟

۶- تجارتي بيلانس څه شی دی؟

۷- د ګټې او ضرر بيلانس د کومې موخې لپاره ترتيب کيږي؟

۸- د حسابي معاملاتو د بيلانس په هکله معلومات ورکړئ؟

۹- تجارتي بيلانس څه وخت زيات او کوم وخت صفر کيږي؟

۱۰- د محاسبې اساسي معادله وليکئ؟

۱۱- د بيلانس شيټ يا بيلانس د ورقې مفهوم څه شی دی؟

۱۲- د بيلانس شيټ دندې په څو برخو وېشل شوېدي؟

۱۳- د بيلانس شيټ د اساسي دندو نومونه واخلئ؟

۱۴- د بيلانس شيټ د عمومي دندو نومونه واخلئ؟

۱۵- د بيلانس شيټ د خصوصي دندو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس د اقلامو تصنیف او قیمت ګذاري

ټولیزه موخه:

په عمل کې د بیلانس د اقلامو د تصنیف او قیمت ګذاري وړتیا لرل.

د زده کړې موخې: د دې فصل په پای کې له محصلینو څخه تمه کیږی چې د لاندې مواردو په هکله معلومات ولري.

- د دارایي د تصنیف ډول.
- سیاله دارایي.
- ثابته دارایي.
- دیون یا liabilities.
- د شرکت د مالیکینو ملکیت.
- د بیلانس شیټ یا د بیلانس د پاڼې ترتیب کول.
- د بیلانس د اقلامو قیمت ګذاري.

د دارایي د تصنیف ډولونه

معمولاً د شرکتونو د بیلانس په پاڼه یا بیلانس شیټ کې سیاله شتمني او ثابته شتمني سره توپیر لري. سیاله شتمني له هغو پیسو او هغې شتمنۍ څخه عبارت ده چې په نزدې راتلونکې کې یې د پلور هیله شتون ولري او یا له هغې شتمنۍ څخه عبارت ده چې د یوه کال یا د شرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوی مالي دورې په اوږدو کې په پیسو باندې د بدلېدلو شونتیا ولري.

هغه شتمني چې د سیالې یا نرمې شتمني په جمله کې نه تصنیف کیږي، له غیر سیالې شتمني څخه عبارت ده چې اوږد مهاله یا ثابته شتمني هم ورته ویل کیږي. دغه ډول دارایي یا شتمني د بیلانس د ورقې یا بیلانس شیټ په بله کټګوري کې تصنیف کیږي چې له سرمایه ګذاري، ځمکې، تعمیراتو، ماشین آلاتو او تجهیزاتو او غیر محسوسې یا(نامرئي) شتمني څخه عبارت ده.

شرکتونه تل هغه کوي چې د بیلانس په پاڼه کې خپله شتمني یا دارایي په داسې ډول تصنیف کړي، تر څو د شرکت مالي موقف ته د نورو توجه را جلب کاندي او د شرکت د مدیره ډلې یا تصمیم نیوونکو لپاره اړین معلومات په غوره توګه وړاندي کړای شي.

زیاتره شرکتونه خپله شتمني یا دارایي د هغوی د سیالیت د درجې له مخې په بیلانس شیټ کې درج کوي. ځینې نور شرکتونه په لومړۍ مرحله کې ثابته شتمني او له هغه وروسته سیاله یا نرمه شتمني دسته بندي کوي ځکه شونې ده چې دغه شتمني د شرکت په اساسي فعالیتونو کې مهم رول ولري.

د زماني طول له مخې د شرکت سیاله او غیر سیاله دارایي د شرکت د اساسي فعالیت د اهمیت له نظره یو تر بله توپیر لري چې دشرکت شنونکي او پرېکړه کوونکي د شرکت د فعالیت له مخې تري استفاده کوي.

د لاندې ګڼې په اوږدو کې هغه ټول اقلام په ځانګړي ډول مطالعه کیږي چې د بیلانس په پاڼه کې تصنیف کیږي.

۱. سیاله شتمني یا Lequid asset:

معمولاً د شرکت سیاله یا نرمه شتمني په شرکت کې د اوږدې مودې لپاره نه ساتل کیږي، په دې معنا چې نغدي پیسې همیشه په مصرف رسیږي، طلب حصول کیږي، د ګدام زیرمې پلورل کیږي او نوره ټوله سیاله شتمني د اړتیا او ضرورت له مخې په مصرف رسیږي.

الف- نغدي پیسې او د هغو معادل: په شرکت کې شته نغدي پیسې ، د بانک په جاري حسابونو کې امانات او ګران بیه اسناد چې په ګړندۍ توګه په نغدو پیسو باندې د بدلیدلو وړتیا لري، په ورته کټګوري کې شاملیږي. لکه څنګه چې پوهیږو په شرکت کې نغدي پیسې په نړۍ راتلونکي کې د قرضونو د مجراینې پـه توګه کارول کیدی شي، خو باید په یاد ولرو چې په شرکت کې تر اړتیا د زیاتو نغدو پیسو ساتل د دې خرګندونه کوي چې ګواکې شرکت نشوای کولای په موثره توګه نغدي پیسې په کوم مولد یا ګټور کار باندې و ګماري.

ب-د پلور وړ ګران بیه اسناد: د وندې په اسنادو کې لنډ مهاله پانګه اچونه، د قرضې اسناد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور ټول ګران بیه اســناد چې په بازار کې د ارزښــت لرونکی وي او په لنډ وخت کې په بازار کې د معین قمیت په مقابل کې د پلور وړتیا ولري، په ورته ګټګوري کې شاملیږي.

په ورته ډول شــتمني یــا دارایي کې سرمایه ګذاري په دې موخه تــر سره کیږي تر څو له یوه لوري د قرضونو د مجراینې په ډول نغدو پیســو ته د اړتیا په صورت کې ژر وپلورل شي او له بله پلوه شرکت له دغه درکه یوه اندازه مفاد هم تر لاســه کړي، نو په دې اساس په ورته ډول شتمنۍ کې پانګه اچونه د نغدو پیســو د ســاتلو په پرتله معقوله او ګټوره ګڼل کیږي، خو باید په یاد ولرو چــې ورتــه پانګه اچونه هم باید د اړتیا تر کچې زیاته نه وي ځکه کومه فایده چې له ورته پانګې اچونې څخه تر لاسه کیږي، چندان اهمیت نه لري.

ج- حصول کیدونکي حسابات: هغه مبالغ چې د شرکت په مشتریانو باندې د قرضوي پلور له درکه پاتې او غوښتل کیږي او په نژدې راتلونکي کې تر لاسه کیږي، په ورته کټګوري کې شاملیږي. دغــه طلبات سره له دې چې ذاتاً نغدي پیســې ندي، خــو کله چې حصول کیږي نو په نغدي توګه تحقق مومي. پورتنی خرڅلاو یا د فروش طلبات شرکت ته هیڅ ډول ګټه نشي ور په برخه کولای او نه له دغه مدرک څخه شرکت ته کومه ربحه یا سود راوړل کیږي، خو د شرکت د چارو د سمبالښت یا پر مخ وړلو او ورځنیو اړتیاؤ درفع کولو لپاره ورته پلور هم ضروري ګڼل کیږي.

کــه چیرته د دغــه ډول خرڅلاو کچه تر خپل برید زیاته شي ، د دې شــودنه کوي چې ګواکي شرکت د کمزوري کریډیټي سیاســت او منجمنټ یا مدیریت لرونکی دی او د طلباتو د حصول په برخه کې ممکن له یو لړ ستونزو سره مخ شي.

د- د ګدام زېرمې: د ګدام زیرمې د شرکت له هغې تجارتي امتعې یا تولیداتو څخه عبارت دي چې دشرکت په مشــتریانو باندې د متداوم پلور په موخه ایښودل کیږي. هغه پانګه چې د ګدام د زیرمی د برابرولو لپاره کارول کیږي، په راکد حالت کې قرار لري او شرکت ته کومه مستقیمه ګټه نه ور په برخه کوي. البته دغه حالت تر هغه وخته دوام کوي تر څو چې زیرمه شوي شیان پلورل کیږي او په نغدو پیســو باندې بدلیږي. له همدې کبله شرکتونه هڅه کوي تر څو د زیرمې کچه د اړتیا تر کچې زیاته نکړي، د زیاتوالي په صورت کې داسې انګیرل کیږي چې یا خو د ګدام په برخه کې د شرکت مدیریت یا منجمنټ کمزوری دی او یا د شرکت شــیان یا تولیدات نه پلورل کیږي او له اوږدې مودې را هسې پخوانۍ پانګه په راکده توګه په ګدام کې پاتې شوېده.

هـ - مخکې ورکړل شــوی مخارج: په دې لړ کې هغه مخارج شامل دي چې د شرکت د تجارتي او تولیدي فعالیت په موخه له وړاندې ورکول شــوي وي لکه د بیمې یا insurance مخارج، کرایه او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. ثابته شتمني يا دارايي:

الــف- سرمايــه گذاري: د ونډې د اســنادو، اوږد مهاله قرضو د اســنادو او د دولت له لوري د صادريدونکو ګران بيه اســنادو په څير په اوږد مهاله اسنادو ، ځمکي او عمارتونو کې پانګه اچونه په ورته کټګوري کې شاملېږي. دغه ډول سرمايه ګذاري د اوږده مهال لپاره په شرکت يا تصدۍ کې خدمت کوي او شرکت يې په نژدې راتلونکې کې د دوهم ځل پلورنيت نلري .

د شرکــت رهبري بايد د ورته ډول سرمايه ګــذاري په برخه کې له خورا دقت څخه کار واخلي، ځکــه د اړتيــا په وخت کې په نغدو پيســو باندې د ورته پانګې بدلول کوم اســان کار نه دي. ياد شوي اقلام د اړتيا په وخت کې په بازار کې په خورا کم يا نازل قيمت سره پلورل کيږي. غير سياله شــتمني يا دارايي د يوه شرکت نغدې جريانات تر تاثير لاندې راولي، برخلاف په ځمکه او عمارت کې پانګه لويدنه يا (RealEstates) د دې باعث ګرځي چې نغدې مبالغ د شرکت د ټکس يا مالياې د تادېې له مخارجو څخه وباسي.

ب- ځمکه او عمارات، مشينري او تجهيزات: يو شمير شرکتونه د اوږد مهالې شتمني يا دارايي يوه برخه د شرکت د فعاليتونو د پروســې لپاره په کار اچوي چې د ثابتې شــتمني يا fixed asset پــه نامه هم يادېږي. شرکتونه هيله لري تر څو له ورته شــتمني څخه پــه راتلونکو کلونو کې ګټه تر لاســه کړي. ورته ډول شــتمني د ثابتې محسوسې دارايي يا tangable fixed asset په نامه هم يــادوي او يــوازې هغه اقلام په بر کې نيسي چې د شرکت د تجارتي يا توليدي فعاليت په برخه کې ترې اســتفاده کيږي. له ورته پخوانۍ سرمايه ګــذاري سره د سرمايه ګذاري په دغه کټګوري کې د شــاملې ځمکې او عماراتو توپير دا دی چې د راتلونکی استفادې لپاره خريداري کيږي او د شرکت پــه توليــدي او تجارتي فعاليت کې هيڅ ډول رول او نقش نلــري ، په داسي حال کې چې د (b) په کټګوري کې شامله ځمکه او عمارات د شرکت په توليدي او تجارتي فعاليت کې رغنده رول لري.

دغه شــتمني د اوږدې مودې لپاره په شرکت کې ســاتل کيږي او شرکــت يې په راتلونکي کې د پلــور نيت نلري. شرکت تل نيت لري چې د شــيانو او خدمتونــو د پلور له درکه د نغدي مبالغو جريانات تشکيل کړي، نه د ورته شتمني د پلور له درکه.

ج- غير محسوسه يا (نامريې) شتمني(۱): نامريې شتمني له غير سيالې شتمنۍ څخه عبارت ده چــې فزيکي شــتون نلري خــو د سرمايه ګذاري په کټګــوري کې طبقه بندي کيــږي او د غير محسوســې شــتمني په نامه يادېږي. دغه ډول دارايي اصلاً له يوه لړ مسايلو سره په تړاو د شرکت له حقوقو څخه عبارت دي چې په لاندې ډول وېشل کيږي.

ج۱- د اخــتراع حق: د انحصاري ټملک د احتوا له هغه حق څخه عبارت دی چې د دولت، يوه شرکت يا ســازمان له لوري ورکول کيږي. په هغــو هيوادونو کې چې سرمايه داري نظام لري، ورته حق يې معمولاً ۲۰ کلونه په بر کې نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج۲- د چـاپ حـق: دا يو انحصاري حق دی چې دولت يې يوه شـخص يا موسسـې ته د څو کلونو لپاره اعطأ کوي او له مخې يې هغه شخص يا موسسه حق لري تر څو د کتاب، نقشې، رسم، جدول، عکس د موسيقي د کمپوز او داسې نورو په څير يو ادبي ، عملي او يا صنعتي او هنري اثر له سره په نوي توګه توليد کاندي.

ج۳- تجارتي نوم او تجارتي مارک يا نښه: دا د هغه سمبول نوم دی چې يوه شرکت، يوه توليد او يا يوه خدمت ته ورکول کيږي. تجارتي نوم معمولاً د يوه شرکت د تشـخيص او معرفي کيدلو په موخه استعماليږي او تجارتي نښه يا سمبول يا مارک د شرکت د توليداتو په مخ باندې نصب يا نقش کيږي چې دشرکت په اشتهاراتو او مکاتيبو کې هم استعماليږي.

ج۴- ځانګړی امتياز: دا يو ځانګړی حق او امتياز دی چې د يوې کمپنۍ يا يوه شرکت له لوري اشـخاصو او نورو شرکتونو تـه د پلور د نمايندګيو په توګه ورکول کيـږي. دغه حق معمولاً په يوه ځانګړې ساحه کې ورکول کيږي.

ج۵- لايسـنس يا جوازنامه: دا هغه حق دی چې د فعاليتونو د تر سره کولو لپاره اشـخاصو او شرکتونو ته ورکول کيږي دمثال په توګه د درمل پلورلو اجازه ليک او داسـې نور. بايد يادونه وشي چې غير مرئي شـتمني يوازې هغه مهال په حسابونو کې ثبت کيږی چې اخيستل شوي وي . دغه شتمني د ثابتې شتمنۍ په څير هغه ډول استهلاک کيږی لکه مفاد چې ورنه حاصليږي.

د زمانې په اوږدو کې له هغوی څخه اسـتفاده کول د هغوی له مصرف سره پرتله کيږي او په تدريجي توګه يې استهلاک سنجول کيږي، خو بايد وويل شي چې د ثابتې شتمنۍ د استهلاک لپاره د (Depreciation) او د غير مرئي شتمنۍ د استهلاک لپاره د (Amortization) له اصطلاحاتو څخه اسـتفاده کيږي. درج اوثبت يې کټ مټ لکه دثابتې شـتمنۍ په څير تر سره کيږي، يوازينی توپير په کې دا دی چې (Amortization) په مستقيمه توګه له شتمني څخه کميږی يعني د استهلاک د ثبت په موخه له دغې شـتمني څخه د شـتمنۍ د ارزښت د مصحح په توګه استفاده نه کيږي ، په دې معنا چې د ورته ډول شـتمنۍ د اسـتهلاک ثبت د تل لپاره په خالصه توګه يعنې د بيلانس په پاڼه کې يې د استهلاک د مبالغو له وضع کيدلو وروسته راپور ورکول کيږي.

ديوه شرکت د مالي حسـاباتو د صورت يا statement شـنونکي او علاقمندان د ورته دارايي د ارزښت د تعين لپاره معمولاً زياتو معلوماتو ته اړتيا لري.

۳. پورونه:

پورونه يا liabilities د شرکت له هغو ژمنو او تعهداتو څخه عبارت دي چې بايد په راتلونکي کې يې ببرته مجرا يا ورکړي. د پورونو يا liabilities او د هغوی د مجراينې دوخت او ډولونو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومات ، شـــنونکو او مدیره ډلې ته وړتیا وربخښـــي تر څو له یوه لوري و پوهیږي چې د شرکت چارې تر کومه بریده د قرضونو یا liabilities له درکه تمویل کیدی شـــی او له بله لوري دشرکت د بهرتـــه ورکولـــو یا مجراینې وړتیا درک کړای شي او د شرکت د فعالیتونو په ترڅ کې نورو ته د قرض ورکولو د وړتیا په اړه پربکړه وکړای شي.

د ونډې د اسنادو د نشر په واسطه کولی شو تمویلي منابع تر لاسه کړو، ځکه د شرکت د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د قرض اخســـتلو له درکه تر لاســـه کیدونکي مالي امکانات زیات خطر یا ریســـک لري ځکه اخیســـتل شـــوی قرضونه په یوه معینه نیټه بیرته ادا کیږي . خو له دې سره سره دیون یا liabilities بیا هم د شرکت د چارو د تمویل لپاره خورا مهمه سرچینه ګڼل کیږي.

هغه شـــتمني چې د دین یا پور په توګه پیرل کیږي باید شرکت ته کافي مفاد ور په برخه کړي تر څو وکړای شي له یوه لوري اصلي قرضه بیرته ادا کړای شي او له بله لوري یې ربحه یا ســـود هم تادیه کړای شي او ضمناً د شرکت د مالکینو لپاره یوه فایده را منځته کړي.

د پور یا liabilities او د هغوی د تصنیف ډول

د تاریـــخ په اســـاس دیون، د هغـــو سر رسي ته د بیلانس پـــه پاڼه کې، البته پـــه تخميني ډول درجیږي. دیون یا liabilities په دوو اساسي کټګوریو باندی وېشل کیږی چې له لنډ مهاله او اوږد مهالـــه قرضونـــو څخه عبارت دي. په لنډ مهاله قرضونو کې هغه دیون یا liabilities تصنیف بندي کیـــږی چـــې د بیرته ادا کیدلو وخت یې تر یوه کال زیات نه وي خـــو اوږد مهاله قرضونه له هغو قرضونو څخه عبارت دي چې د بهرته ورکولویا مجراینې وخت یې تریوه کال زیات وي.

الف – ســـیال قرضونه د سیالې شـــتمنۍ په ځیر د شرکت د ورځنیو فعالیتونو په ترڅ کې تغیر کوي، په دې معنا چې شرکت شـــیان او خدمتونه په پور اخلي او د تادیې وړ حســـابونه زیاتیږی او شرکت یې له لنډې مودې وروسته تادیه کوي.

د یوه شرکت یا ســـازمان د ســـیالو دیونو یا liabilities له لږ څخه یو هم د کارکونکو مزد دی چې د کارګرانو د تولیدي یا خدماتي کار په بدل کې له څو ورځو یا اونیو وروسته ورکول کیږي. په دې توګه هر کله چې د سیالو قرضونو یو ډول ورکول کیږي، په ځای یې په متداوله توګه نور ورته دیون یا پورونه را منځته کیږي.

د ســـیالو قرضونو یوه برخه د نغدي پیســـو له لارې چې دشرکت د جاري فعالیتونو له درکه تر لاسه کیږي ، تادیه کیږي ، لکه د تادیې وړ حسابونه یا طلبات او لنډ مهاله تادیه کیدونکي نوټونه. دغـــه ډول اقـــلام د تجارتی اقلامو په نامه یادیږي چـــې د شرکت لپاره د ګدام د زخیرو او نورو ټول اقلامو د پیر له درکه پور ورکوونکو ته ورکول کیدونکي تادیات په بر کې نیسي چې د شرکت نورمال فعالیتونه انعکاس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ســیالې شــتمنۍ یو بل ډول له مصحیح اقلامو یا (Accrued Liability) یا (نا تصفیه شوي اقــلام یا د تعلیــق په حالت کې اقلامو) څخه عبارت دي. دغــه ډول قرضونه په هغو مخارجو کې شــامل دي چــې په جــاري دورې پورې تړاو لري. خو د بیلانس شــیټ د ترتیب تر ورځې پورې نه وي تادیه شــوي، لکه د ربحې مخارج، د کرایې مخارج او داســې نور. یــو بل قلم چې د current liabilities یا جاري پورونو په جمله کې تصنیف کیږي له عواید غیر څخه عبارت دي.

دغه عواید د هغو عوایدو له لړ څخه دي چې مخکې د خدمتي اجرا او یا تولیدي عرضې لپاره په پیشکي ډول اخستل کیږي . که څه هم شرکت د ورته تعهداتو د تر سره کیدلو لپاره په راتلونکي وخت کې د نغدي تادیې مکلفیت لري، خو د شیانو تهیه او یا د تعهد شویو خدماتو عرضه ممکن پــه راتلونکې کې نغدي مبالغ ایجاب کړي چې په مقابل کې یې شرکت ته هیڅ ډول نغدي جریان صورت نه نیسي. په ورته حالاتو کې باید ورته ستر مبالغ په بیلانس شیت کې پیش بیني شي.

ځینې وخت په بیلانس شــیټ کې د ټولو ســیالو قرضونو په نامه یــو بل قلم درج کیږي، چې معمولاً په مستقیمه توګه د شرکت د تادیې مکلفیت په ډاګه کوي.

ب- اوږد مهاله دیون یا Old-standingliabilities: لکه مخکې چې هم ورنه یادونه وشــوه د ورته قرضونو د مجرایې نیټه تر یوه کال یا یوې مالي دورې پورې نه رســیږي. دغه ډول دیون یا liabilities د ســیالي شتمني له درکه نه ورکول کیږي، بلکې د نورو شتمنیو له درکه تضمین کیږي. د یوه شرکت د بیلانس په پاڼه کې د قرضونو د ښلاښلو ډولونو راپور ورکول کیږي خو تر ټولو مهم او معمول هغه یې په لاندې ډول دي:

د تادیې وړ نوټونه

چې متنوع رسمي او تحریري قرضوي اسناد په بر کې نیسي.

د قرضې اسناد

له یو ډول تادیه کیدونکي عام نوټ څخه عبارت دی چې د موافقتنامې د عقد له مخې زیات رسمیت او اعتبار لري.

شرکتونــه په خپل بیلانس شــیت کې د اوږد مهاله قرضونو په توګه د یــو لړ نورو اقلامو راپور هــم ورکوي چې د کارمندانو د تقاعد لــه حقوقو او د روغتیا د بیمې په توګه ټول امتیازات چې د متقاعدو کارکونکو لپاره د خدمت په ډول تر سره کیږي، په بر کې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شرکت د مالکینو ملکیت

دغه قلم د شرکت په شتمنۍ کې د شرکت د مالکینو د سرمایه ګذاري پولې ارزښت روښانه کوي چې په مجموعي توګه دشرکت د مالکینو سرمایه ګذاري او هغوی ته نا توزیع شوي مفاد احتوا کوي. دغه مبالغ ضمناً د شرکت په شتمني باندې دشرکت د مالکینو د ادعا څرګندونه هم کوي.

کله کله دغه مبالغ د شرکت د شتمنیو د باقي مانده ارزښت په نامه هم یادیږي ، ځکه کومه دارایي چې د شرکت د دیونو یا له تصفیې وروسته باقي پاته کیږي د شرکت په مالکینو پورې تعلق نیسي. دغه قلم د بیلانس د شونکو لپاره اقلام خورا اهمیت لري، ځکه له یوه لوري د شرکت د اجراتو په وړاندي د شرکت د مالکینو د مسؤلیت او ژمنې یا تعهد څرګندونه کوي او له بله پلوه هرشرکت مکلفیت لري تر څو د یوې مالي دورې لپاره د شرکت د ټولو مالي حسابونو د صورت تر څنګ د شرکت د مالکینو د ملکیت د تغیراتو راپور ورکړي. په سهامي شرکتونو کې د حساب دغه صورت د ونډې والو د ملکیت او نا توزیع شوي مفاد په نامه هم یادیږي. په ورته شرکتونو کې د ونډې والو ملکیت له دوو برخو څخه تشکیل شوی وي چې هر یو یې د سرمایې له ونډې او ناتوزیع شوي مفاد څخه عبارت دي.

د سرمایې ونډه د اسهامو له سرمایې یا Capital stock څخه عبارت دی. په دا ډول شرکتونو کې ملکیت د شرکت د اسهامو یا ونډو د مستقیم پیر له درکه تثبیت کیږي.

معمولاً ستر سهامي شرکتونه د ونډو دوه ډوله اسناد نشر کوي:

۱. امتیازي اسهام: د ونډو دغه ډول اسناد د شرکت د مالکینو لپاره د زیاتو امتیازاتو لرونکي وي، لکه د شرکت په مفاد کې لمړنې امتیازات یا د devident لوړ نرخ او داسې نور.

۲- عادي اسهام (۲): د ورته ونډو لرونکي اشخاص د شرکت په مفاد کې وروستی حق لري، په دې معنا چې د شرکت مفاد په لومړي سر کې امتیازي ونډه والو ته توزیع کیږی او کومه برخه چې له هغوی څخه پاتې شي ، په عادي ونډه والو باندې وېشل کیږي، خو د شرکت د چارو په برخه کې امتیازي او عادي ونډه وال یا Share Holdersد یو ډول حقوقو ادعا کولای شي.

نا وېشل شوی مفاد

د شرکت په اختتامیه بیلانس کې د نا وېشل شوي مفاد په توګه وړاندې شوی رقم له هغه مفاد څخه عبارت دی چې په متمادي ډول له څو کلونو راهیسې ثابت پاتې وي او د شرکت په مالکینو باندې نه وي وېشل شوی.

د ورته قلم په اړه راپور ورکول د شرکت د داخلي تصمیم نیونکو لپاره خورا اهمیت لري، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مبالغ د دې څرګندونه کوي چې شرکت تر کومه بریده وړتیا لري، تر څو د شرکت ګټور فعالیتونه او نمویي چارې تمویل کړي.

د بیلانس د اقلامو قیمت ګذاري

د بیلانـــس د اقلامو او د هغوی د تصنیف د طرز په هکله معلومات لرل لومړنی مهم قدم دی چې تصمیم نیونکو ته ځواک ورکوي تر څو د یوه شرکت د بیلانس د شـــننې په برخه کې له ورته محاسبوي معلوماتو څخه استفاده وکړي.

په ورته بهیر کې دوهم مهم قدم د اقلامو له ارزښـــت ګذاری او هغه ادراک څخه عبارت دی چې د دغو اقلامو په مقابل کې د لیکل شـــویو مبالغو مفهوم په ډاګه کوي. د یوه شرکت د بیلانس د اقلامو د قیمت ګذاري او ټولو محاســـباتو لپاره بیلابیل میتودونه شـــتون لري چې په لاندې توګه تشریح کیږي:

۱. اصلي قیمت یا Basic Price (۱): د دغه میتودپه اســـاس شتمني او دیون د هغوی د اصلي قیمت له مخې یعنې د دارایي د تشکیل یا د پورونو د اخیستلو د وخت په حساب قیمت ګذاري کیږي.

هغـــه اقلام چې د دغه میتود په اســـاس قیمت ګذاري کیږي لـــه: ځمکې څخه عبارت دی. که څه هم دغه میتود د بیلانس د اقلامو د قیمت ګذاري له غوره میتودونو څخه شـــمېرل کیږی، خو بیا هم د شرکت د قرضونو او ونډه والو د زیاتو اقلامو د قیمت ګذاري لپاره ښـــه میتود نه شـــمیرل کیږي. د مثال په توګه که چیرته شرکت د ګدام د شیانو یا امتعې د اخیستلو په وخت کې هغه په بیلانس کې د هغې له اصلي قیمت سره درج کړي او بیا وروســـته د یو لړ عواملو له کبله د هغې امتعې قیمت دومره نزول وکړي چې شرکت یې په تمام شد قیمت سره و پلوري، په دې صورت کې اســـتفاده کوونکي د بیلانس د ارقامو په اړه معلومات نشي ترلاسه کولای تر څوپه راتلونکې کې له امتعې سره په تړاو د شرکت نغدي جریانات تثبیت کړای شي. په همدې اساس یو لړ نور میتودونه ایجاد شوي دي چې په مرسته یې دبیلانس او ګدام نور اقلام قیمت ګذاري کیدی شي.

۲.اصلي ارزښـــت یا Original Value: د دغه میتود په مرســـته هغه شتمني یا دارایي قیمت ګـــذاري کیـــدی شي چې په شرکت کې یې د زیـــات وخت لپاره خدمت کـــړی وي او شرکت ته یې فایدې ور اړولې وي. د دغه میتود په مرســـته په بیلا بیلو پړاوونو یا دورو کې د دارایي استهلاک د مخارجـــو په توګه معامله کیـــږي او باقي مانده قیمت چې د (۲) دفتري قیمت په نامه یادیږي، په بیلانس شـــیټ کې راپور ورکول کیږي. د ورته شـــتمنۍ د استهلاک مخارج د (Allocated cost) په نامه یادیږي او د دارایي باقیمانده قیمت د (unallocated cost) یا ناوېشل شوي مصرف په نامه یادیـــږي چې په راتلونکـــو مالي پړاوونو کې د مخارجو په توګه توزیع کیږي. له دغه میتود څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اســتفادې سره د عماراتو، مشینرۍ او تجهیزاتو او غیر محسوســې شتمني یا intangible asset په ځیر شتمني چې د شرکت په تولیدي فعالیتونو کې ترې استفاده شوې وي،قیمت ګذاري کیږي.

دغــه میتود له پخواني هغــه سره کوم ځانګړی توپیر نلري، یوازې پــه دې میتود کې د دارایي اصلي قیمت سره توپیر لري.

۳. دبــازار قیمت یا Market Value: د دغه میتود په اســاس هغه شــتمني یا دارایي قیمت ګذاري کیږي چې شرکت یې په نړۍ راتلونکې کې د پلور نیت یاقصد لري. د بازار قیمت د شتمني له هغه قیمت څخه عبارت دی چې په واسطه یې په بازار یا مارکیټ کې د ورته دارایې پیرودل او پلــورل تــرسره شي. د دیونو یا liabilities لپاره د بازار قیمت له هغه قیمت څخه عبار ت دی چې یاد شــوي دیون په هماغه قیمت د پرداخت یا ورکولو وړ وي. د سرمایه ګذارۍ بېلابېل ډولونه د دغه میتود په مرسته قیمت ګذاري کیدی شي.

۴.نغدي خالص ارزښــت یا Net Cash Value (۲): ځینې شــتمنۍ یا دارایي په نغدي خالص ارزښــت سره ارزښــت ګذاري کیږي. د بیلانس له عمده اقلامو څخه یو قلــم چې د دغه میتود په واســطه ارزښــت ګذاري کیږي له قابل حصول حســابونو یا طلباتو څخه عبارت دی. د شرکت په بیلانس کې د قرضونو هغه مبالغ چې په مشــتریانو باندې دي ځینې یې د مشــکوکو او غیر قابل حصول طلباتو په توګه درج کیږي. له همدې کبله دغه میتود د خالص نغدي ارزښــت د میتود په نامه یادیږي.

۵.فعلي ارزښت یا Present Value (۳): د شرکت زیاتره پریکړې د فعلي ارزښتونو او راتلونکو نغدي پیسو د تر لاسه کولو په اساس صورت نیسي. لکه څنګه چې پوهیږو فعلي ارزښت یا Present Value هغه نغدي جریانات دي چې د زمان او مبلغ له نظره سره متفاوت دي، او د تصمیم نیونې په برخه کې خورا اهمیت لري.

په شــتنمي بر ســیره د دیونو ځینې اقلام هم د ورته میتود په واســطه قیمت ګذاري کیږي، د مثال په توګه نا تادیه شوې کرایه او د شرکت د کارمندانو حقوق.

د ګدام د زیرمو یا ذخایرو قیمت ګذاري (۱)

لکه په اصلي میتود کې چې ورنه یادونه وشوه ، دغه طریقه د بیلانس د اقلامو د قیمت ګذاري لپاره غوره طریقه ګڼل کیږي. د ګدام ذخایر د دغه میتود په واسطه نه قیمت ګذاري کیږي، ځکه د امتعې د اخیســتلو قیمت چې د یوې مــالي دورې په اوږدو کې صورت نیسي ، متفاوت وي او د مالي دور په اخر کې د دې تثبیت چې کوم اقلام پلورل شوي دي او کوم اقلام په کوم قیمت سره په ګدام کې پاتې دي، ســتونزمن او حتی ناشــونی کار دی. نو په دې اساس په اخر کې په ګدام کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجوده شیانو یا stock د قیمت ګذاري په موخه له لاندې میتود څخه استفاده کیږي.

د قیمت د د قیق تشــخیص میتود، د وســطي قیمت میتود، د FIFO میتود، د LIFO میتود. د یادو شــویو میتودونو له ډلې څخه یو یې د شرکت د فعالیت دخصوصیت او مالي تاثیراتو له مخې انتخابیږي.

د ورته څلورو میتودونو د توضیح په موخه لاندې مثال په نظر کې نیسو.

د یوې میاشتې په ترڅ کې د شرکت د ګدام د لومړنې او اخري موجودي یا stock اوخریداریو معلومات په لاندې ډول دي

معلومات په وروسته صفحه کې دي.

June 1 inventoy (د ګدام ذخایر) 50 Unit1 = 50Af

June 6 purchase (خریداری) 50 Unit1.1 = 55Af

June 23 purchase (خریداری) 150 Unit1.1 = 180Af

June 20 purchase (خریداری) 100 Unit1.30 = 130Af

June 25 purchase (خریداری) 150 Unit1.40 = 210Af

Goods available for sale (د پلور لپاره اماده ذخایر) = 500

Sales (پلورنې) = 280

On hand 30 (اخري موجودي) = 220

لکــه چې لیدل کیــږي په ګدام کې مجموعاً 500 واحده شــیان د پلور لپــاره موجود دي چې مجموعي قیمت یې (625Af)دی، اوس نو ستونزه د ګدام د اخري موجودي د قیمت ګذاري په بر خه کې ده، په دې معنا چې (625Af) افغانۍ باید د 280واحده پلورل شوي امتعې او په ګدام کې د 220واحده پاتې شوې امتعې تر منځ و وېشل شي. د پورتنۍ ستونزې د حل په موخه د پورتنیو ذکر شویو څلورو وارو فورمولونو له ډلې څخه یو یې پکار اچوو.

۱.د امتعې د دقیق قیمت د تشخیص میتود:

که چیرته په دقیقه توګه و پوهیږو چې په ګدام کې اخیرې موجودي له کومو خریداریو څخه تشکیل شوېده؟. د مثال په توګه فرض کړئ د جون د میاشتې په 30 نیټه د ګدام اخیري موجودي د جون د میاشتې د لمړۍ نیټې د امتعې له خریداري شوې امتعې څخه تشکیل شویده، 50 واحده پیرل شــوي امتعه د جون په 13 مه نیټه (له 150 واحدونو څخه صرف 100 واحده) او 70واحده امتعه د جون د میاشتې به 25 مه نیټه اخیستل شوي، د دقیق تشخیص له میتود څخه په استفادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د ګدام اخيرې موجودي په لاندې توګه قيمت ګذاري کيږي.

50 Unit × 1.00 50Af

100 Unit × 1.02 120Af

70 Unit × 1.40 98 Af

220 Unit × 625 268Af

625stockاخيري موجودي يا

د خرڅلاو وړ امتعه 357

لــه ورته ميتود څخه د موټر، درندو تجهيزاتو او هنري کارونو په څير د لوړ ارزښــته دارايي د اقلامــو په برخه کې هم اســتفاده کيږي. زياتره شرکتونه د ځينو مهمــو نيمګړتياو له کبله له ورته ميتود څخه استفاد ه نه کوي. دغه نيمګړتياوې يا نواقص په لاندې ډول دي.

۱- په زياتره مواردو کې د منفردو اقلامو د خريداري او فروشاتو تعقيب ستونزمنه او نا شونې ده.

۲- سره ورته يا مشابه اقلام چې په متغيرو قيمتونو سره اخستل کيږي او په تيت او پرک ډول پلــورل کيــږي ، د شرکت د پلــور عوايد تر تاثير لاندې راولي او د شرکت مفــاد په زيات يا کم ډول تثبيت کوي.

۲. د وسطي قيمت ميتود:

په دې ميتود کې د ګدام اخري موجودي يا stock له اوسط يا منځني قيمت سره قيمت ګذاري کيــږي ، پــه داسې ډول چې خرڅلاو ته د اماده امتعې مجموعي قيمت د هغې په مجموعه باندې وېشــل کيږي چې په پايله کې يې د خرڅلاو د يوه واحد قيمت تر لاســه کيږي . دغه پروســه په لاندې دول توضيح کيږي.

$$625 \diagup 500 unit = 1.25 Af$$

275Af = 1.25 ×unit د ګدام اخري موجودي 625220 = خرڅلاو ته دا ماده امتعې قيمت

275Af =د جون په نيټه اخري موجودي30

350Af = د پلورل شوې امتعې مصارف (قيمت)

له دغه ميتود څخه په استفادې سره د ګدام د اخري موجودي په قيمت ګذاري کې د قيمتونو د زياتــوالي يــا لــروالي اثرات کميږي خو لــدې سره سره په دغه ميتود باندې يو لــړ نيوکې کيږي . څرنګــه چې ځينې خلک عقيــده لري چې د پلور مفاد بايد په اخري قيمت سره قيمت ګذاري شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او راتلونکي پریکړې هم د وروستیو قیمتونو له مخې کیږي.

۳. د FIFO (first in- first out method) میتود

د دې میتود له مخې په وروستي پیراو کې اخیستل شوې امتعه په لومړي پیراو کې پلورل کیږي چې په دې توګه په ګدام کې اخري موجودي له هغې امتعې څخه تشکیل شوې وي چې په رومبې مرحله کې پیرل شوي وي. د دې میتود له مخې په ګدام کې اخري موجوده امتعه د فزیکي جریان په اساس نه، بلکې د خریداري د اخري قیمت په اساس قیمت ګذاري کیږی . د ورته میتود ترتیب په لاندې ډول دی:

150 unit × 1.40 = 210Af

70 unit × 1.30 = 91 Af

220 unit اخري موجودي = 301

خرڅلاو ته د اماده اقلامو مجموعي قیمت = 625

اخري موجودي = 301

پلورل شوې امتعه = 324

لکه چې لیدل کیږی په دې میتود کې پلورل شوې امتعه پر نازلترینو قیمتونو یعنې هغه قیمت چې په لومړی مرحله کې ور باندې پیرل شوې وي، ارزښت ګذاري کیږي. که چیرته د قیمتونو زیاتوالی دوامداره او متداوله بڼه ولري، د ورته میتود د استعمال په صورت کې شرکت تر ټولو لوړ خالص مفاد تر لاسه کوي. ځکه د پلورل شوې امتعې قیمت د پیر قیمت ته نژدې شوی دی او شرکت د قیمتونو له لوړوالي سره د امتعې پلور ته زیاتوالی ورکوي.

۴. LIFO (Last in- frist out method) میتود:

د دغه میتود له مخې داسې فرض کیږي چې په لومړي پیراو کې اخیستل شوي امتعه دې په لومړی مرحله کې و پلورل شي چې په دې توګه د اګدام اخري موجودي له هغې امتعې څخه تشکیلیږي چې تر ټولو وروسته اخیستل شوې وي. د عملي انعکاس طرز یې په لاندې ډول دی:

50 units × 1.00 Jun 1 50Af

50 units × 1.20 Jun 6 55Af

120 units × 1.20 Jun 13 144Af

220 units 249Af

Af خرڅلاو ته د اماده امتعې قیمت 625

(c) ketabton.com: The Digital Library

Af اخري موجودي 249

376Af د پلورل شوې امتعې قيمت

له دغه ميتود څخه د استفادې په ترڅ کې د زياتره شرکتونو د امتعې حقيقي خروج د هغې له فزيکي شــکل سره مطابقت نه کوي. ځکه پلورل شــوې امتعه د هغې امتعې په قيمت، قيمت ګذاري کيږی چې په اخري مراحلو کې اخستل شوي وي، او د ګدام اخيري موجودي د هغې امتعې په قيمت، قيمت ګذاري کيږي چې په لمړۍ مرحله کې خريداري شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دويم څپرکي لنډيز

۱- د دارايي (شتمنۍ)تعريف: داراې د سرمايې له هغې برخې څخه عبارت ده چې د مالک يا څښتن له لوري د تشبث يا سوداګري په موخه پکار اچول شوې وي، لکه سياله دارايي، ثابته دارايي او نا مشهوره دارايي.

۲- سـياله دارايي: دا له هغې دارايي څخه عبارت ده چې د اوږدې مودې لپاره په شرکت کې نه پاتې کيږي بلکې په لنډه موده کې په نغدو پيسو باندې د بدليدلو وړتيا لري لکه نغدي پيسې او د هغوی معادل، د پلور وړ ګران بيه اسـناد، تر لاسـه کيدونکي حسـابونه، پيش پرداخت شوي مخارج او داسې نور.

۳- ثابته دارايي: دا له هغې پانګې اچونې يا سرمايه ګذاري څخه عبارت ده چې د اوږدې مودې لپاره په شرکت کې خدمت کوي او شرکت يې په نړۍ راتلونکي کې د خرڅلاو نيت يا قصد نلري.

لکه: ځمکه، عمارت، مشـينري او تجهيزات، غير محسوسـه دارايي(حق الاختراع، د چاپ حق، تجارتي نوم، ځانګړي امتيازات، لايسنس او جواز نامه).

۴- ديون يا liabilities: د شرکت له هغو تعهداتو يا ژمنو څخه عبارت ده چې بايد په راتلونکي کې بيرته ورکړل شي لکه سيال قرضونه، اوږد مهاله قرضونه ، د قرضې اسناد اوداسې نور.

۵- د شرکت د مالکينو مالکيت: دغه قلم د شرکت په دارايي کې د مالکينو د سرمايه ګذاري د پولې ارزښت ښودنه کوي چې په مجموعي توګه د شرکت شتمني او نا وېشل شوی مفاد په بر کې نيسي. لکه: امتيازي وندې يا اسهام، عادي اسهام او نا وېشل شوی مفاد.

۶- قيمت ګذاري: د اقلامو له ارزښت ګذاري او د دغو اقلامو په مقابل کې د ليکل شويو مبالغو د مفهوم له درک څخه عبارت دی.

۷- د قيمـت ګـذاري ميتودونه: دغه ميتودونه د د قيق قيمت د تشـخيص له ميتود، وسـطي قيمت له ميتود، Fifo ميتود او LIFO ميتودونو څخه عبارت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دويم څپرکي پوښتنې

۱- دارايي (شتمني) تعريف کړئ؟

۲- د دارايي د ډولونو نومونه واخلئ؟

۳- سياله دارايي يا Current Assets څه شی دی؟

۴- ثابته داريې يا Fixed Assets څه شی دی؟ له مثال سره يې واضح کړئ؟

۵- د نامشهودې دارايي يا غير محسوسې يا نا مرئې دارايي په هکله معلومات ورکړئ؟

۶- پورونه يا Liabilities څه شی دي؟

۷- قصير المدت پورونه يا لنډ مهاله قرضونه څه شی دي؟

۸- طويل المدت پورونه يا اوږد مهاله قرضونه له مثال سره واضح کړئ؟

۹- قيمت ګذاري تعريف کړئ؟

۱۰- د قيمت ګذاري د ميتودونو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس د تحلیل اړتیا او تخنیکونه

ټولیزه موخه:

د بیلانس تحلیل او تخنیکونه.

د زده کړې موخې: د دې څپرکې په پای کې له محصلینو نه تمه کیږي چې:

- د بیلانس د شننې یا تحلیل اړتیا و پیژني.
- د بیلانس د تحلیل میتودونه و پیژني.
- د بیلانس افقي تحلیل توضیح کړای شي.
- د بیلانس عمودي تحلیل توضیح کړای شي.
- سریع نسبت توضیح کړای شي.
- د حساب د صورت یا statement د تصنیف کټګوري و پیژني.

د بیلانس د تحلیل یا شننې اړتیا

لکه څنګه چې د بیلانس زیاتره اســتفاده کوونکي او علاقمندان د یوه شرکت د راتلونکي مالي وضعې د بدلون په برخه کې د معلوماتو په اړه زیاته دلچسپي لري. د مثال په توګه د شرکت ونډه وال یا Share Holders او اشــتراک کوونکي علاقه لري ترڅو د شرکت د مفاد او د همدغه مفاد د توزیع څرنګوالي په هکله و پوهیږي. کریډیټ ورکونکي د لنډ مهال او اوږد مهال له پلوه د شرکت د ورکړې یا پرداخت د وړتیا ارزونه او مطالعه کوي. همدا شــان د شرکت مدیران او رهبري هیئت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په راتلونکي کې د شرکت د تمویل د توسعې علاقمندي لري. په بیلانس کې درج شوي معلومات او د بیلانس دتحلیل له میتودونو څخه په استفادې سره د دې امکان تر لاسه کیږي تر څو ټول علاقمندان د شرکت د روان او راتلونکي مالي وضعیت په اړه معلومات تر لاسه کړي او په شرکت کې د پانګې اچونې ، شرکت ته د قرض ورکولو او نورو راتلونکو پلانونو په اړه غور او فکر وکړي.

د بیلانس د تحلیل تخنیکونه

کـه چیرته د بیلانس اقلام په غور او دقت سره مطالعه هم شي، بیا هم د شننې لپاره جوتې پایلې نشي تر لاسه کیدی. د غوره تحلیلي پایلو د تر لاسه کولو په موخه په کار دي چې دغه اقلام د بیلانس له ټولو اقلامو او د شرکت د بیلابیلو مالي ادوارو له اقلامو او یا د سیالو یا رقیبو شرکتونو د بیلانس له اقلامو سره مقایسه شي. د بیلانس د تحلیل لپاره بیلابیل میتودونه جوړ شوی دي چې لاندې هغه یې تر ډیره حده د استفادې وړ دي.

a – افقي تحلیل د پولي او فیصدي تغیراتو مقایسه:

(Dollar and percentage change) (Horizontal analysis)

b- ټرند تحلیل (Trend Analysis):

c- عمودي تحلیل یا د معمولي سایز تحلیل (Common size or vertical Analysis):

d- د نسبتونو تحلیل (Ratio Analysis):

A – افقي تحلیل: په افقي تحلیل کې د بیلانس اقلام د دوو مالي دورو لپاره مقایسه کیږي. د بیلانس د اقلامو په دې شننه کې تیر مالي کال له فعلي کال سره د فیصدي او پولي تغیر په اساس مقایسه کیږي. د فیصدي تغیر د سنجش یا ارزونې لپاره له لاندې فورمول څخه استفاده کیږي.

$$\text{د فیصدی تغیر} = \frac{\text{په مبلغ کې تغیر} \times 100}{\text{د اساس د کال مبلغ}}$$

د اساس کال معمولاً له هغه کال څخه ټاکل کیږي چې تحلیل ترې پیلیږي. فرضاً که چیرته د یوه شرکت سیاله دارایي یا current asset له 2000 میلادي کال څخه تر 2001 کال پورې 649 میلیونه زیاتوالی کړی وي یعني له (3,034 میلون افغانیوڅخه 3683 میلونه افغانیو) ته لوړه شوې وي ، په دې صورت کې:

$$\text{د سیالې دارایي د فیصدي تغیر} = \frac{649m}{3.034} \times 100 = 2\ .9\%$$

او یا د Hershey Food له بیلانس څخه استفاده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\text{د سیالې دارایي د فیصدي تغیر} = \frac{970}{16470} \times 100 = 5.9 = 6\%$$

په همدې ترتیب کولای شــو د بیلانس مختلف اقلام یو تر بله مقایســه کړو او د سیالې دارایي د فیصدي تغیر او په هغې کې مبلغ تحلیل کړو.

B – ترند تحلیل: دغه تحلیل یا شــننه له افقي تحلیل یا شــننې سره ورته والی لري . توپیر یې یــوازي پــه دې کې دی چې په دې تحلیل کــې د متمادي مالي پراوونو لپاره د یوه اســاسي کال په مدنظر نیولو سره د بیلانس د اقلامو شننه یا تحلیل صورت نیسي.

مثال:

د اتو کلونو په اوږدو کې دیوه شرکت current asset یا روانه دارایي او current liabilities یا سیال دیون په لاندې ډول راکړل شویدي، په دې موده کې د نوموړي شرکت سیالیت تحلیل کړئ.

2004 03 02 01 00 99 98 97کلونه:

سیاله دارائي ۱۸,۱۰۹ ۱۴۷۷۵ ۱۰۸۶۶ ۷۱۹۱ ۴۰۰۰ ۳۲۷۱ ۳۵۹۹ ۲۸۷۶

سیاله دارائي ۱۳۱۳ ۷۸۹ ۸۶۷ ۴۶۲ ۲۱۳ ۱۳۱ ۴۵۵ ۳۳۳

دارائي په٪ ۶۳۰٪ ۵۱۳٪ ۳۷۸ ۲۵۰ ۹۱۳ ۱۱۴ ۱۲۵ ۱۰۰٪

دیون یا liabilities په٪ ۳۹٪ ۲۳۷٪ ۲۶۰ ۱۳۹ ۶۴ ۳۹ ۱۳۷ ۱۰۰ ٪



لکه څنګه چې لیدل کیږي شرکت تر 98میلادي کال پورې نه دی توانیدلی چې خپل سیال دیون یا liabilities د خپلې ســیالې دارایي له درکه جبران کړي، خو په اوږده مهال کې د شرکت ســیالیت مخ په ښــه کیدو شوی دی او په وروســتیو کلونو کې سره له دې چې خپل دیون یا liabilities یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکافو کړیدي ، د خپلې ســیالې دارایۍ ځینې مقادیر یــې د نورو مقاصدو لپاره هم په شرکت کې استعمال کړي یا یې په کار ګمارلې دي.

c – د معمولې ســایز تحلیل یا عمودي تحلیل: په دې تحلیل کې اقلام په فیصدي او مبلغ سره داســې ښودل کیږي چې هر قلم د فیصدي په شــکل د اقلامو د فیصدی د مجموعې له مخې چې دغه قلم ورپورې اړه لري، ښودل کیږي. د مثال په توګه په مجموع کې د سیالې دارایي فیصدي.

لکه څنګه چې د بیلانس په عمودي تحلیل کې ولیدل شول، سیاله دارایي له غیر سیالې دارایي سره مقایسه شوېده چې د2004 کال په سیاله دارایي کې د ملاحظې وړ تغیرات تر سترګو کیږي. د مثال په توګه د شیانو له ذخایرو سره په تړاو په قابل حصول حسابونو کې د پام وړ زیاتوالی لیدل کیږي چې د شرکت له مشتریانو څخه د قابل حصول حسابونو د حصول په برخه کې د شرکت عدم توانایي په ډاګه کوي.

Hershey food comparative

Balance sheet , Dec/31/2003 and 2004

Dollars in thousands

د هرشي فوډ مقایسوي بیلانسو بیلانس شیټ یا د بیلانس پاڼه

31 دسمبر کال 2003 و 2004

ارقام په زرو امریکا یي ډالرو

4002_ 3002 مبلغ به فیصد

Assets یا دارایي:

Current assetsسیاله دارایي

cashنغد ← 48.9 Af1150 Af12000 Af2350

Accounts receivableقابل حصول حسابونه یا (طلبات) 40000 6000 2000 50.0%

Inventoriesد موادو یا(امتعې) ذخایر 10000 8000 2000 20.0%

Prepaid exp مخکې پرداخت شوي مخارج 120 300 180 150%

(c) ketabton.com: The Digital Library

Total current Assets د سیالي دارایي مجموعه:	16470	15500	970	%5.9
Property and Equipment ملکیت‌ونه، دستگاه اوتجهیزات: Land ځمکه	4000Af	4000Af	0	%0
Buildings Equity عمارات اوتجهیزات	8500	12000	3500	%28.0
Total Assetsد دارایي مجموعه	28970	31500	2350	%8.7

Equity

د ونډه والو دیون اوملکیت

Current liabilities

Accounts Payable

د تادیې وړحسابونه	4000Af	5800Af	1800Af	%45.0
د تادیې وړ Total current liabilities:	1000	1200	200	%20
د سیالو دیونو مجموعه	5000	7000	2000	%40
طویل المدت یا اوږد مهاله دیون	8000	75000	900	%6.3
د دیونو یا liabilities مجموعه	13000	14500	1500	%11.5
د ونډه والو یا سهمدارانومالکیت	8000	8000	0	%0
اضافی سرمایه گذاری	1000	1000	0	%0
د تادیاتو مجموعه	9000	9000	0	%0
نا توزیع شوي مفاد	6970	8000	1.030%	14.8%
د ونډه والو د مالکیت مجموعه	15970	17000	1.030	6.4%
د ونډه والو د دیونو او مالکیت مجموعه	28970	31500	2530	8.7%

Hershey Food comparative Balance

(c) ketabton.com: The Digital Library

common size Dis 31/2003 and 2004

په معمولي مقايسوي توګه د هر شي فورډ بيلانس شيټ

۳۱ ډسمبر ۲۰۰۳ او۲۰۰۴

دارايي	2003	2004	2003	2004
نغده سياله دارايي	Af2350	1200Af	%8.1	%3.8
قابل حصول حسابات	4000	6000	%13.8	%19.0
د موادو ذخاير	1000	8000	%34.5	%25.4
مخکې پرداخت شوي مخارج	120	300	%0.4	%1.0
د سيالې دارايي مجموعه	16470	15500	%56.9	%49.2
ملکيتونه، دستګاه اوتجهيزات ځمکه	4000	400	%13.8	%12.7
عمارات اوتجهيزات	8500	12000	%29.3	%38.1
د ملکيتونو او تجهيزاتومجموعه	12500	1600		
د دارايوو مجموعه	28970	31500	%100	%100
د ونډه والو ديون او ملکيت سيال ديون: د تادېې وړ حسابات	4000	5800	%13.8	%18.4
د تادېې وړ نوټونه	1000	1200	3.45	3.8
د سيالو قرضونومجموعه	5000	7000	17.3	22.2
طويل المدت يا اوږد مهاله ديون	8000	7500	27.6	23.8
د ديونو مجموعه	13000	14500	%44.9	%46.0
د ونډه والو يا سهم دارانو ملکيت	8000	8000	%27.6	%25.4
د ونډو اسناد يا اسناد سهم	1000	1000	3.5	3.2
اضافی سرمايه ګذاريانې	9000	9000	31.1	28.6
نا توزيع شوی مفاد	6970	8000	24.0	25.4
د ونډه والو مجموعه	15970	17000	55.1	54.0
د ونډه والو د ديونو او ملکيت مجموعه	28970Af	31500	%100	%100

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسبتونو تحلیل

د نسبتونو شننه یا تحلیل په بیلانس شیټ کې د درج شویو اقلامو او د شرکت د ټولو حسابونو د صــورت یا statement تر منځ د اړیکې د ایجاد لپاره خورا مهمه طریقه ګڼل کیږي. د نســبتونو تحلیل هغه مشخصات دي چې له مورِ سره د یوه شرکت د مالي وضعې او فعالیتونو په تحلیل کې مرســته کوي او په واسطه یې کولای شــو د یوه شرکت د تیرو کلونو نتایج له جاري کال یا په ورته سکتورکې د ټولو شرکتونو د پایلو له اوسط سره مقایسه کړو.

د نســبتونو له تحلیل څخه یوازې د بیلانس په پاڼه کې اســتفاده کولای شو، خو دیوه شرکت د حساب له ټولو صورتونو څخه د استفادې په صورت کې کولای شو د شرکت دمالي وضعې غوره او مناسب تحلیل ترلاسه کړو.

د نسبتونو د تحلیل دغه اړیکې په لاندې ګټګوریو وېشل شوېدي.

۱- د یوه شرکت د ســیالیت تحلیل: لکه څنګه چې پوهیږو ســیالیت د اخیســتل شویو پورونو په مقابل کې د یو شرکت د پرداخت له وړتیا څخه عبارت دي، د لنډ مهاله پورونو د پرې کیدلو د وخت د رسیدلو پیښه د یوه شرکت له زیات سیالیت سره اړیکه لري او د شرکت د سیالیت د ځواک ګواهــي ورکوي. په یوه شرکت کې عدم ســیالیت نه یوازې دا چــې په خپل وخت د پورونو د پرې کېدلو د لړې وړتیا شــاهدي ورکوي، بلکې په یوه شرکت کې د پرداخت یا پرې کېدلو عدم توانایې د دې لامل هم ګرځي چې شرکت په خورا کم قیمت سره د شرکت د داراې په پلورلو مجبور شي او یا د لوړ سود یا ربحې په مقابل کې د قرضو په تر لاسه کولو مجبور شي.

د یوه شرکت د ســیالیت د تحلیل لپاره په بیلانس شــیټ کې درې ډوله مشخصات شتون لري چې په دې بحث کې وربانديِ رڼا اچوو.

الف-دوراني سرمایه Working capital: د یوه شرکت دوراني سرمایه د هماغه شرکت د سیالې دارایي او سیالو دیونو تر منځ له توپیر څخه عبارت ده. په دې معنا چې د شرکت له سیالې دارایي څخه د ســیالو پورونو په پرې کولو کې اســتفاده کیږي، نو په هره اندازه چې د یوه شرکت ســیاله دارایي زیاته وي په همغې اندازه یې سیالیت هم زیات وي. لکه څنګه چې د Hershey food له بیلانس شیټ څخه تر لاسه کیږي، په 2003 کال کې د دغه شرکت دسیالې دارایي مجموعه 16470 میلیونه افغانۍ او ســیال پورونه یې 500Af وو، همدا شــان په 2004 کال کې د ســیالو پورونو او دارایي مقایسه د شرکت د بشپړ سیالیت ښودنه کوي.

ب- جاري نسبت Current Ratio: دغه نسبت د دورانې سرمایې د نسبت په نامه هم یادیږي او دلاندې فورمول په واسطه تر لاسه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\text{جاری نسبت} = \frac{\text{سیالهٔ دارایي}}{\text{سیال دیون یا پورونه}}$$

په دې نسبت کې قابل حصول حسابونه او د ګدام ذخایر شامل دي او تصور کیږي چې شرکت د فعالیــت په خپله دوره کې په نورماله توګه د ګــدام د ذخایرود پلور وړتیا لري او د شرکت قابل حصول حسابونه هم په نورماله توګه او معین وخت له شرکت سره مواصلت کوي او شرکت ته دا ځواک ورکوي تر څو د لنډ مهاله پورونو د پرې کېدلو لپاره کافي نغدي پیسې په لاس کې ولري . په هره اندازه چې جاري نسبت ستر وي په هماغه اندازه د شرکت سیالیت هم زیات وي او په کومه اندازه چې د شرکت سیالیت کم وي په هماغه ډول د لنډ مهاله پورونو د پرې کېدلوکم ځواک لري.

د Hershey foodد فورمول لپاره جاري نسبت په لاندې ډول محاسبه کولای شو:

2004 2003

$$\frac{15500000}{7000000} = 2.21 \qquad \frac{16470000}{5000000} = 3.29$$

ج-سریع نسبت یا Quick Ratio: دغه نسبت د جاري نسبت په پرتله زیات دقیق دی ، ځکه دغه نسبت یوازې په نغدو پیسو او هغو ټولو اقلامو باندې اتکا لري چې په نږدې راتلونکې کې په نغدو پیسو باندې بدلیدلای شي. لکه د دولتي قرضې اسناد یا securities او قابل حصول حسابونه.

په دې نســبت کې سریع دارایي د ســیالې دارایي له مجموعې سره پرتله کیږي. په دغه نسبت کې د ګدام ذخایر په نظر کې نه نیول کیږی، همدا شــان مخکې ورکول شــوي مخارج هم په دې نســبت کې نه شــاملیږي. د سریع نســبت د ســنجش یا ارزوني په موخه له لاندې فورمول څخه استفاده کیږي.

$$\text{Quick Ratio} = \frac{\text{Cash + Marketable securities +Receivables}}{\text{Carrent Liabilities}}$$

$$\text{سریع نسبت} = \frac{\text{نغدي پیسې+ د دولتي قرضې د خرڅلاو وړ اوراق + طلبات}}{\text{د سیالو پورونو مجموعه}}$$

ځنګه چې د Hershey Food په بیلانس کې د قرضې اســناد موجود نه دي، نو په دې اســاس کولای شو سریع نسبت په لاندې توګه محاسبه کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسه	2003	2004
	2350000	1200000
قابل حصول حسابونه	4000000	6000000
د سیالې دارېی مجموعه	6350000	7200000
د سیالو پورونو مجموعه	5000000	7000000
سریع نسبت	1.27:1	1.03:1

معمولاً که چیرته د سریع نسبت نرخ 1:1 وي نو کافي بلل کیږي یعنې که چیرته په یوه دوره کې سریعه داراېي په یوځلې توګه سیال پورونه تر پوښښ لاندې راولي نو ویل کیږی چې ورته وضعیت کفایت کوي، خو لکه څنګه چې لیدل کیږي د (Hershey foods) لپاره چټک نسبت له 1:1 څخه زیات دی.

څنګه چې په 2003میلادي کال کې 1.27:1 او په 2004 کې نسبت 1.03:1 دی، خو لدې سره سره تحلیل کوونکی باید د دارایي اقلام چې په واسطه یې هغه ترپوښښ لاندې راوړي، ارزیابې کړي.

لکه څنګه چې د (Hershey foods)په بیلانس شیټ کې له 2003 کال څخه تر 2004 پورې د لنډ مهاله قرضونو په کچه کې زیاتوالی لیدل کیږي، په داسې حال کې چې نغدي وجوه کموالی موندلی دی چې په نغدو کې دغه کموالی د طلباتو(قابل حصول طلباتو) د حجم دپراختیا له کبله دی، ضمناً د طلباتو له تحلیل څخه پوښتنه را پیدا کیږي چې ولې یې په دومره لنډ وخت کې سرعت په دې کچه زیاتوالی موندلی دی. په دې ترتیب دواړه مشخصات یعنې جاري نسبت او سریع نسبت نه یوازې دا چې د دارایې په واسطه د پورونو د پوښش د دفعاتو له نظره تحلیل شي بلکې تحلیل کوونکی باید د دارایې د اقلامو اجزا هم مطالعه کړي. لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، دیو ه شرکت د ټولو حسابونو له صورت او د بیلانس له اقلامو سره د هغوی د تړاو له درک څخه په استفادې سره کولای شو د شرکت سیالیت په ښه توګه تحلیل کړو. د ورته مشخصاتو ځینې بیلګې په لاندې ډول دي:

۱. د طلباتو دوران یا Receivable Turn Over:

دغه مشخصه د دې ښودنه کوي چې په یوه مالي دوره کې د یوه شرکت طلبات یا قابل حصول حسابونه څو ځله شرکت ته په نغدي توګه ګرځي را ګرځي. معمولاً دغه مشخصه له دوراني سرمایې سره په تړاو تر څیړنې او تحلیل لاندې نیول کیږي. ځکه د طلباتو دوران او په نغدو پیسو باندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی بدلون د شرکت د دوراني سرمایې د ایجاد او له هغې څخه د معقولې اســتفادې څرګندونه کوي. کولای شو دغه مشخصه دلاندې فورمول په واسطه روښانه کړو.

$$\text{Account Receivable Turnover} = \frac{Sales\ on\ account}{Average\ Account\ Receivable}$$

$$\text{د طلباتو دوران} = \frac{\text{قرضوی خرڅلاو}}{\text{د طلباتو وسطي بیلانس}}$$

د (Hershey Foods) له بیلانس څخه په استفادې سره د دغه شرکت لپاره د طلباتو دوران په لاندې ډول محاسبه کوو:

$$\frac{52000000}{5000000} = 10.4 \text{ مرتبه}$$

البته په دې مشــخصه کې تصور کیږي چې په 2004 کال کې د HF شرکت ټولو فروشــاتو په قرضي توګه صورت نیولی دی. د فروشاتو مبالغ د دغه شرکت د عوایدو د (ګټې او تاوان) له صورت حساب څخه نیول شوي چې په لاندې ډول وړاندې کیږي.

د Hershey Foods شرکت د عوایدو صورت یا statement

31 ډسمبر 2003 او2004

ارقام په زر امریکایې ډالرو

	2003	2004	مبلغ	فیصدی
پلورنې	48000	52000	4000	%83
پلورل شوي مصارف	31500	36000	4500	%14.3
غیر خالص مفاد	16500	1600	500	%3.3
په فعالیت پورې ټرلې مخارج				
د خرڅلاو مخارج	6500	7000	500	%7.7
اداري مخارج	6100	5160	240	3.9
په فعالیت پورې ټرلې عمومي مخارج	12600	12860	260	21

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فعالیت له درکه خالص مفاد	3900	3140	760	19.5
د ربحې مخارج	700	640	60	8.6
له مخارجو د مخه خالص مفاد				
ټکس	3200	2500	700	21.9
د ټکس عواید 30%	960	750	210	21.9
خالص مفاد	2240	1750	490	21.9

د هغو ورځو د ګڼلو لپاره چې په اوږدو کې یې کولای شو خپل طلبات حصول او را ټول کړو، د طلباتو د دوران له مشــخصې سره په تړاو د ورته محاســبې لپاره یوه بله مشخصه هم لرلای شو چې په مټ یې خپل طلبات راټولولای شــو چې د طلباتو د حصول د وســطي وخت د مشخصې په نامه یادیږي او د لاندې فورمول په واسطه تشیخص کیږي:

$$Average Collected Period = \frac{365 days}{Account receivable}$$

$$\text{د طلباتو د حصول وسطي وخت} = \frac{\text{۳۶۵ ورځې}}{\text{د طلباتو دوران}}$$

د شته بیلانس له مخې لرو چې:

$$\frac{365}{10.4} = 35 \text{ ورځې}$$

دا پــه دې معنــا ده چې د طلباتو را ټولول 35 ورځې په بر کې نیسي. دا چې د 35 ورځو موده د طلباتو د را ټولولو لپاره مناسبه ده او کنه؟، له هغې مودې سره اړیکه لري چې شرکت یې خپلو مشتریانو ته د طلب د حصول لپاره پیشنهاد کوي.

که چیرته شرکت خپلو مشــتریانو ته د هغوی د پورونــو د تادېې لپاره 35ورځې وخت ورکړي ، په دې صورت کې د 35 ورځووســطي موده د شرکت لپاره ښــه مشخصه ګڼله کیږي، ځکه ځینې مشــتریان د وروســتی ورځې تر را رســېدلو پورې پورونه نه پرې کوي او ځینې یې د پرې کیدلو د وخت له تېرېدلو وروسته هم د یو څه تعلل غوښتنه کوي چې د طلباتو د حصول د وخت دزیاتوالي لامل ګرځي، خو که چېرته شرکت خپلو مشتریانو ته د قرضونو د پرې کېدلو لپاره 20 ورځې وخت ورکړي، په دې صورت کې د 35 ورځنۍ وسطي مودې د طلباتو د حصول لپاره د تشویش وړ ګڼل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیـږي. پــه دې صورت کې باید پاملرنه وشي چې د 35 ورځو پایلــه چې د طلباتو د دوران له 365 ورځو څخه لاسته راغلي ده او له څه شي څخه منځته راغلي . شوني ده چې له پخوانیو دورو څخه د پاتې شویو طلباتو (مشکوک طلبات) له کبله د طلباتو کچه زیاته شوي وي او یا شرکت د مدیونینو یا Debtors په تعقیب کې چې طلبات په خپل وخت نه تادیه کوي، د کمزوري اداري سیســتم یا منجمنټ لرونکی وي.

۲-د ګدام دوران Inventory: دغه مشخصه د دې ښودنه کوي چې په یوه مالي دوره کې دیوه شرکت د ګدام موجودي یا stockخو ځله پېرل او پلورل شــوې ده. د ګدام دوران یا Inventory د لاندې فورمول په واسطه محاسبه کیږي:

$$Investry\ Turn\ over = \frac{Cost\ of\ good\ sold}{Average\ investory}$$

د ګدام د موجودي اوســط په یوه مالي دوره کې د لومړۍ موجودې او وروســتۍ موجودې له اوســط څخه عبارت دی . شــته بیلانس ته په کتنې سره کولای شــو د HF لپاره د ګدام دوران په لاندې ډول محاسبه کړو:

$$\text{د ګدام دوران} = \frac{\text{د پلورل شوې امتعې مصارف}}{\text{د ګدام د موجودې اوسط}}$$

یو بل نســبت چې په واسطه یې کولای شو د هغو ورځو په اوږدو کې چې د ګدام ټول ذخایر یو ځل په کې پلورل شــوي وي، د وســطي وخت د نســبت په نامه یادیږي او د لاندې فورمول په واسطه محاسبه کیږي.

$$\text{د ګدام دوران} = \frac{36000000}{9000000} = 4\ \text{ځل}$$

یو بل نسبت چې په واسطه یې د هغو ورځو د شمېر اوسط محاسبه کیږي چې په اوږدو کې یې یو ځل د ګدام ټول ذخایر پلورل کیږي، د پلور د وســطي وخت د نســبت په نامه یادیږي او د لاندې فورمول په واسطه محاسبه کیږي.

$$\text{Avreage saleperiod} = \frac{365\ \text{days}}{\text{Inventory Turner}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\text{د پلور وسطي وخت} = \frac{\text{365 ورځې}}{\text{د ګدام دوران}}$$

د HF بیلانس ته په کتنې سره:

$$\text{د پلور وخت} = \frac{365}{4} = \text{91 ورځې}$$

د پلور وسطي وخت له یوه سکتور څخه تر بل سکتور پورې توپیر لري ، هغه شرکتونه چې د خوراکي موادو په سکتور پورې اړه لري له 12 څخه تر 15ورځو پورې د ګدام ګړندی دوران لري، په داسې حال کې چې د زیوراتو یوپلور ځای یا فروشګاه د ګدام ډیر بطي دروان لري.

که د هغو شرکتونو د ګدام د دوران موده سره مقایسه شي چې په ورته سکتور کې فعالیت کوي نو د هغو شرکتونو وضعیت غوره ګڼل کیږي چې د ګدام ګړندی دوران ولري، همدا شان هغه شرکتونه چې په ګدام کې تر اړتیا زیاته ذخیره ولري ، طبیعي ده چې د ګدام دوران به یې ورو یابطي وي او د زیاتو مصارفو لامل به وګرځي چې په پایله کې د شیانو تمام شوی قیمت لوړیږي او د شرکت د مفاد په کموالي پای ته رسیږي.

هغه شرکتونه چې په ګدام کې تر اړتیا زیات مقادیر ذخیره کوي ، په حقیقت کې د ناسم منجمنټ څرګندونه کوي ، ځکه د زیرمه شویو توکیوپه ځای کېدی شي اړونده سرمایه دشرکت په کوم بل فعالیت باندې مصروفه وساتل شي.

ځینې وخت تصور کیږي چې د امتعې د زیاتو مقادیرو پیرل کیدی شي له سترو یا فوق العاده ډسکاونټونو یا تخفیف څخه برخمن شي، خو په کار ده چې د فوق العاده ډسکاونټ تر څنګ د بیمې یا Insurance مصارف، ټکس یا مالیه او د ګدام خطرات هم په نظر کې ونیول شي او یو له بل سره مقایسه شي.

په دې وروستیو کې شرکتونو له Just in time JIT میتود څخه په استفادې سره د ګدام د دوران سرعت زیات کړی دی.

د دې میتود له مخې په قصدي توګه د ګدام ذخایر په شکته سطحه کې ساتل کیږي چې په پایله کې یې د ګدام د دوران سرعت زیاتیږي، خو په دې صورت کې بیا هم شرکت ته پکار دي چې خورا محتاطانه اقدامات وکړي په دې معنا، هسې نه چې د اړتیا په وخت کې د ګدام د زیرمې د پوره کولو یا د تجارتي فعالیت د سقوط د وېرې لپړې کولو له ستونزې سره لاس او ګرېوان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مثال په توګه د a او د b شرکتونو د عوایدو صورت یا statement په لاندې ډول دی:

د بیلانس پاڼه

31 ډسمبر کال 2002

ارقام په زرو افغانیو

دارایي	A	B
نغدي پیسې	2000	4500
د حصول وړ حسابات یا (طلبات)	2000	6500
د ګدام ذخایر	2000	5000
ملکیتونه، مشیني او تجهیزات	2000	35000
ټولې شتمنۍ	4000	5000
د دارایي مجموعه	30000	56000
د ونډې والو دیون اوملکیت		
د تادیې وړ حسابات	2500	3000
د تادیې وړ نوټونه	1500	4000
د پرداخت وړ قرضې اسناد	10000	30

۲- د اوږد مهاله قرضونو د ورکړې د وړتیا نسبت یا Solvcncy Ratio:

دغــه نســبتونه په اوږده مهال کــې د یوه شرکت د قرضونو د مجرا کولــو وړتیا په ګوته کوي. سرمایــه ګــذاران او هغه پور ورکوونکي چې د اوږدې مودې لپــاره قرضې ورکوي، معمولاً له ورته نسبتونو سره دلچسپي لري. ورته نسبتونه په لاندې ډول دي:

۱-د دارایي او دیونو د مجموعې نسبت یا: Debt to Total Assets Ratio

د هغې مجموعي دارایي فیصدي چې د قرضه ورکوونکو له لوري مهیا کیږي، د کسر په واسطه ښودل کیږي.

$$\frac{\text{د قرضې یا دیونومجموعه (سیال اوطویل المدت)}}{\text{د داراېې مجموعه}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هره اندازه چې دغه نسبت لوړ وي، په همغې اندازه د قرضونو د پرې کولو په وخت کې د قرض پرې کولو د ژمنې د نه پوره کېدلو وېره زیاته وي او په هره اندازه چې دغه نسبت وړوکی وي، دا معنا لري چې ګواکې له قرضه ورکوونکو سره زیاته دارایي موجوده ده چې د شرکت دافلاس په صورت کې ترېنه د پور پرې کولو په برخه کې استفاده کیدی شي.

که چیرته د یوه شرکت د قرضونو مجموعه 3880,1 او د دارایي مجموعه یې 1877,6 وي ، په دې صورت کې:

$$\frac{3880,1}{1877,6} = 0,7954 = 0,8\%$$

دا پــه دې معنــا ده چې قرضه ورکونکي د شرکت 80% دارایــي تحویل کړي او که چیرته دغه نسبت په یوه بل شرکت کې 0,87 او سکتوري اوسط 0,68 وي، په دې صورت کې نسبت د سکتوری اوسط په پرتله لوړ دی خو د سیال یا رقیب شرکت په پرتله کم دی.

له دغه نسبت سره ورته یو بل نسبت د شخصي سرمایې په وړاندې د مجموعي دیونو له نسبت څخه عبارت دی. دغه نسبت د شخصي سرمایې په پرتله له قروضو څخه د استفادې نسبت په ګوته کوي چې د Debt to Eguity Ratio په نامه هم یادیږي

۲- د سود د پوښښ نسبت یا Times Interst earning Ratio

دغه نســبت د قرضونو د ســود ورکولو وړتیا په ګوته کوي. ددې نســبت په واسطه دا ارزونه کیږي چې د ســود او مالیاتو له ورکولو د مخه شرکت څومره مفاد لري. فورمول داســې دی چې: د ربحې او مالیاتو له ورکولو د مخه د شرکت مفاد د ســود په مخارجو باندې وېشــل کیږي. فرضاً که چېرته د یوه شرکت عملیاتي مفاد ۱۰۰۹,۱ او د سود یا ربحې مخارج یې ۱۰۸,۳ وي نو لرو چې:

$$\text{د ربحې د پوښښ نسبت} = \text{I cov.R} = \frac{1009,1}{108,3} = 9,3$$

دغه نســبت پــه ګوته کوي چې د ربحې او مالیاتو د مخارجو لــه ورکولو دمخه له مفاد څخه څومــره مبالــغ د ربحې د مخارجو د تادیې لپاره ضروري دي. که څه هم د ټولې دارایي په پرتله د قروضو دغه نسبت په ډاګه کوي چې شرکت د خپلې دارایي د تمویل لپاره تر ډېره بریده په قرضونو اتکا کوي خو له دې سره سره په ښه توګه د قروضو د ربحې د ورکولو تر عهدې وتلای شي.

۳- د نغدو پیسو په واسطه د قرضونو د پوښښ نسبت یا Cash debt coverage Ratio:

دهغو نغدوپیســو نســبت چې له عملیاتي فعالیتونو څخه تر لاسه کیږي او د شرکت د پورونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجرا کولو لپاره کارول کيږي، په دې نامه يادیږي. په ورته صورت کې شرکت دې ته نه اړایســتل کيږي چې د قرضونو د مجراینې لپاره د دارایي په پلور باندې لاس پورې کړي.

$$R=\frac{\text{د عملياتي فعاليتونو له درکه خالصي نغدي پيسې}}{\text{د پورونو مجموعي اوسط}}\quad C.D.COV.$$

په دې صورت کې شرکت د عملياتي فعاليتونو له درکه د تر لاســه شــويو نغدو پيسو په واسطه د اوږد مهاله قرضونو دپوره کولو وړتيا لري. که چيرته خالصي نغدي پيسې چې د شرکت د عملياتي فعاليتونو له درکه تر لاســه کيږي، 3667,9وي، او پــه 2004 کال کې د دارېي مجموعه 3767,6 او په 2005کي 3880,1) وي، نو:

$$\text{د پورونو مجموعي اوسط} = \frac{213767,3+3880,1}{2} = 3823,85$$

$$3667,9 \diagup 3823,85 = 0,95$$

په دې معنا چې د عملياتي فعاليتونو له درکه تر لاســه شــوي نغدي پيســې د ۹۵٪ قر ضونو د پوښښ لپاره بسنه يا کفايت کوي.

۴- اضافي نغدي پيسې Free cash flow:

دا هم د هغو شاخصونو له ډلې څخه ګڼل کيږي چې په مټ يې د يوه شرکت د پرداخت وړتيا موندل کيږي. اضافي نغدي پيسې دي چې د مفاد د توزيع او يا عملياتي دارايي د توسعې لپاره تري اســتفاده کيږي. که چيرته د اســاسي دارايي له ترسيم او د مفادله توزيع وروسته بيا هم په شرکت کې نغدي اضافي پيســې پاتې شي، پکار ده چې شرکت تصميم ونيسي چې خپلې سرمايه ګذاري ته پراختيا ورکړي.

فرضاً که چېرته هغه نغدي پيســې چې له عمليــاتي فعاليتونو څخه باقي پاتې کيږي ،100000 افغانۍ وي او 30000 افغانۍ د اســاسي دارايي د ترســيم په موخه مصرف شي او 10000د مفاد په توګــه توزيــع شي، په دې صورت کې 60000 نورې افغانۍ هم باقي پاتې کيږي چې باید د مفاد په توګه توزيع شي او يا د شتمنۍ د توسعې په موخه تړې استفاده وشي.

دغه رقم د نغدو اضافي پيســو په نامه يادیږي چې د خالصو نغدو پيســو او سرمايوي عملياتي فعاليتونو د مصارفو له تفريق څخه تر لاســه کيږي. د نغدي جرياناتو د حســاب له صورت سره د دغې مشــخصي د تړاو له کبله غوره ده چې د حســاب د دغه صورت يا statement په هکله لنډ معلومات تر لاسه کړو.

سرمايوي مصارف- له عملياتي فعاليت څخه خالصې نغدي پيسې= نغدي پيسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نغدي جرياناتو د حساب صورت معرفي يا Cash Flow

د مالي حساب صورت په بشپړه توګه د يوه شرکت د مالي وضعيت تمثيل نشي کولای، د حساب د دغــو دريــو صورتونو له تحليل او مشــاهدې سره د يوه متفکر پانګــه اچوونکي له لوري لاندې پوښتنې مطرح کيږي: يو شرکت چې يوازې 17 ميليونه افغانۍ ګټه يې کړيده، څنګه به وکړای شي 600 ميليونه نغدي پيسې په پانګه اچوونکو باندې وويشي؟

څنګه کيدی شي يو شرکت چې 86 ميليونه تاوان ور رســيدلی دی د 900 ميليونو په ارزښــت واخستلای شي؟

ورته پوښتنو ته يوازې د نغدي حساب په مرسته ځواب ورکولای شو. د حساب د دې صورت د چمتــو کولــو موخه د شرکت د نغدي جريان په هکله د معلوماتو برابرو ل دي . ځکه لکه وړاندي چې ذکر شــوه د دريګوني حســاب صورت چې پورته يې په اړه کافي معلومات ورکړل شول، د يوه شرکت نغدي جرياناتو (نغدي راکړې ورکړې) په هکله معلومات نشی ورکولای. د مثال په توګه يو مقايسوي بيلانس شيټ د مالي کال په اوږدو کې د ملکيت په بڼه د مشينري او تجهيزاتو د زياتوالي ښودنه کوي، خو دا چې په دارايي کې دغه زياتوالی څنګه او له کومه ځايه تمويل شوی دي، نه ده څرګنده شــوې. دا په حقيقت کې د خالص مفاد او عوايدو د صورت ښــودنه کوي خو هغه نغدي پيسې چې له عملياتي فعاليتونو څخه تر لاسه کيږي، نه ښيي او يا د سرمايې صورت د توزيع شوي مفــاد ښــودنه کوي خو دا چې د کال پــه اوږدو کې د دغه مفاد څه مقدار پــه نغدي توګه تاديه شــويدی، نه واضيح کيږي. د حســابونو دغه صورت په شرکت کې د خالصو نغدي بدلونونو ښودنه نه کوي او د غه تغيرات د نغدي حساب د صورت په واسطه په ښه توګه تثبيت کيږي.

د نغدي حساب د صورت د تهيې اساسي موخه د عملياتي فعاليتونو، سرمايه ګذاري او مالي چلند په پايله کې د تر لاسه شويو پيسو د نغدي راکړې ورکړې په باره کې د معلوماتو لاسته راوړل دي.

د حســاب د دغــه صورت په ترڅ کې د شرکت نغدي پيســې د مالي دورې پــه پيل او پای کې مقايســه کوي. د يوه شرکت په نغده مالي وجه کــې خالص تغيرات خورا ضروري دي ، ځکه پانګه اچوونکي ، پوروړي يا Creditors او ټول علاقمندان غواړي پوه شي چې د شرکت په تر ټولو سياله دارايي(نغدو پيســو) کې څه واقع کيږي. د يوه شرکــت دمالي وضعيت په هلکه د معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره ډيره اړينه ده چې د هغه د نغدي جرياناتو په هکله معلومات ولرو.

د حساب دغه صورت لاندې پوښتنو ته ځواب ويلای شي. د يوې مالي دورې په اوږدو کې نغدي پيسې له کومه مدرکه تر لاسه کيږي؟ په يوه مالي دوره کې د کومو مقاصدو لپاره دغه نغدي پيسې په مصرف رســيږي؟ د يوې مالي دورې په اوږدو کــې د يوه شرکت په مالي وضعيت کې څه بدلون ايجاديږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نغدي صورت حساب تصنيف يا Classification of CF

د نغدي داد او ستد د حساب دغه صورت د مالي سرمايه ګذاري له فعاليتونو څخه لاسته راځي . هغه معاملات چې په دې تصنيف کې شامل دي په لاندې دري ګونو کټګوريو وېشل کيږي:

۱- عملياتي فعاليتونه يا Operating Activities: په دې کټګوري کې نغدي پيسې شاملېږي چې د عوايدو او مخارجو له معاملاتو يا په بل عبارت له خالص مفاد يا Net Income څخه متاثره کيږي.

۲- شامل مالي فعاليتونه:

– د قرضې د اسنادو د صدور يا قرضونو د تادېې له درکه د نغدو پيسو له تر لاسه کولو څخه عبارت دي.

– له سرمايه ګذارانو څخه د نغدو پيسو تر لاسه کول او هغوی ته د مفاد تاديه کول.

۳- شامل سرمايوي فعاليتونه:

– په نغدو پيسو باندې د اوږد مهاله ثابتې دارايي پيرو يا پلور.

– قرض ورکول او دهغې دوباره اصول.

په لاندې شکل کې د دغو دريو کټګوريو له درکه نغدي پيسې په غوره توګه تشريح کيږي.

عملياتي فعاليتونه

– نغدي پيسې چې د شرکت داخل ته جريان کوي.

– په مشتريانو يا پيردونکو باندې د شيانو او خدمتونو پلور.

– د قرضو د ربحې او پانګه اچونې له درکه د مفاد حاصل

– د دولت د قرضې د اسنادو له پلور څخه.

– د پيسو وتل يا خروج پول

– د کارکوونکو مزد اومعاشات

– د دولتي قرضې د اسنادو پيرو يا اخيستل.

– د ټکس يا مالېې تاديه

– نور ټول تاديات

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمايوي فعاليتونه

د پيسو دخول

– د دارايي، تجهيزاتو او اوږد مهاله سرمايه ګذاري د پلور له درکه.

– د اوږد مهاله قرضې د اسنادو د پلور له درکه.

– د اوږد مهاله قرضو د دريافت يا اصالت له درکه.

د پيسو خروج يا وتل

– د دارايي، تجهيزاتو او وسايلو د پيرر يا اخستلو له درکه.

– د قرضې د اوږد مهاله اسنادو د پيرر يا اخستلو له درکه.

– د قروضو اعطا يا ورکول.

مالي فعاليتونه

دخول: د مهمو اسنادو د پلور له درکه.

خروج: د پورونو بيرته ورکول.

د نغدي جرياناتو د حساب صورت ترتيب يا

How to prepare cash flow statement

د نغدي جرياناتو يا Cash flow د صورت يا statement د ترتيب لپاره دوه يعني مســتقيم او غير مســتقيم ميتودونه شتون لري چې دواړه يې ورته پايلي جوتوي. التبه د دواړو ميتودونو پايلې ته د رســيدلو پروســيجر او طرزالعمل سره توپير لري . ځکه غيرمســتقيم ميتود د نغدي حساب د صورت يا دترتيب لپاره زيات معمول دی، نوپه دې اســاس له يوه مثال سره جوخت دغه ميتود تر مطالعې لاندې نيسو او وروسته يې په مستقيم ميتود باندې بحث کوو.

په مستقيم ميتود کې د هر يو قلم د عوايدو د حساب صورت په بيله توګه له غير نغدي حالت څخه نغدي حالت ته تعديليږي، په داسې حال کې چې په غير مستقيم ميتود کې ورته تعديل ته اړتيا نه ليدل کيږي بلکې هماغه اقلام په نغدو پيســو باندې تعديليږي چې د خالص مفاد تعديل په پيسو سره متاثره کوي.

د دغه ميتود د توضيح په موخه لاندې مثال په نظر کې نيسو:

د مثال په توګه د x شرکت د عوايدو صورت په لاندې ډول راکړل شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو معاملاتو له مخې چې په دې شرکت کې په 2005 ام کال کې منځته راغلي دي، د ورته شرکت د نغدي جرياناتو يا Cash flow صورت يا statement ترتيب کوو.

د (x) شرکت د بيلانس پاڼه 31 ډسمبر 2004 او 2005 کلونه					
شماره	سياله دارايي		2004 ام کال	2005ام کال	تغير	کاهش/ افزايش
۱	نغدي		15.000Af	46.000Af	31.000Af	افزايش
۲	قابل حصول حسابونه(طلبات)		55.000Af	47.000Af	8.000Af	کاهش
۳	گدام		110.000Af	144.000Af	34.000Af	افزايش
۴	مخکې پرداخت شوي مخارج		5.000Af	1.000Af	4.000Af	کاهش
5{1+2+3+4}	د سيالې دارايي مجموعه		185.000Af	238.000Af	53.000Af	
۶	لنډ مهاله سرمايه گذاري		127.000Af	115.000Af	12.000Af	کاهش
۷	ثابتې دارايۍ		505.000Af	715.000Af	210.000Af	افزايش
۸	دثابتو دارايۍ د ارزښت مصحح		68.00Af	103.000Af	35.000Af	افزايش
9{7-8}	د ثابتي دارايي مجموعه		437.000Af	612.000Af	175.000Af	
10{5+6+9}	د دارايي مجموعه		749.000Af	965.00Af	216.000Af	
۱۱	سيال ديون يا liabilities يا پورونه		43.000Af	50.000Af	7.000Af	افزايش
۱۲	د پرداخت وړ حسابات (غير قابل تاديه قروض)		9.000Af	12.000Af	3.000Af	افزايش
۱۳	د پرداخت وړ ماليه		5.000Af	3.000Af	2.000Af	کاهش

(c) ketabton.com: The Digital Library

{13+12+11}14	د سیالې دارایي مجموعه	57.000Af	65.000Af	8.000Af	
15	طویل المدت دیون یا liabilities	245.000Af	295.000Af	50.000Af	افزایش
{15+14}16	پورونو مجموعه	302.000Af	360.000Af	58.000Af	
	سرمایه				
17	معمولي سهام	315.00Af	465.0000Af	150.000Af	افزایش
18	نا توزیع شوي مفاد	132.000Af	140.000Af	8.000Af	افزایش
{18+17}19	د سرمایې مجموعه	447.000Af	605.000Af	158.000Af	
{19+18}20	د پورونو او سرمایې مجموعه	479.000Af	965.000Af	216.000Af	

د 2005 ام کال لپاره
د x شرکت د عوایدو صورت یا statement
چې د ډسمبر د میاشتې په 31 نیټه ختمیږي

شماره	تفصیلات	مبالغ
۱	عواید	698.000Af
۲	د پلورل شوې امتعې مصارف	520.000Af
{۱-۲}۳	نا خالص مفاد	178.000Af
۴	عملیاتي مخارج (37.000Af چې استهلاک ور سره ضمیمه شوی دی	147.000Af
{۳-۴}۵	عملیاتي عواید	31.000Af
۶	د ربحې مخارج	23.000Af
۷	د ربحي حاصل	6.000Af
۸	د ثابتې دارایي له درکه مفاد	12.000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹	د ثابتې دارايۍ له درکه ضرر	3.000Af
۱۰	له مالياتو د مخه مفاد	23.000Af
۱۱	د مالياتو مخارج	7.000Af
۱۲{۱۰-۱۱}	خالص مفاد	16.000Af

نور معاملات چې د 2005 کال په جريان کې يې صورت نيولی دی.

۱- د سرمايه ګذاري د پلور مبلغ 78.000Af

۲- د سرمايې پلور 102.000Af چې اصلاً په 90.000Af تمامه شوې ده.

۳- په 120.000Af ارزښت سره د ثابتې دارايي خريداري يا پيرل.

۴- د غير ثابتې دارايۍ پلور چې 10.000Af قيمت يې درلود او د دارايۍ د ارزښـــت مصحيح 2000Af دی په 5000Af.

استهلاکات

کې د پانګې اچونې د فعاليت په توګه د ثابتې دارايۍ، نامحسوســې دارايۍ، طبعې منابعو او داسې نورو لپاره نغدي تاديه هغه مهال درج کيږي چې دغه دارايي اخيستل کيږي . د ثابتي دارايي د استهلاک وخت، د نامحسوسې دارايي او طبعي منابعو د ارزښت ليږوالی د عوايدو د حساب په صورت کې ظاهريږي.

پــه مخارجو باندې د دغــې دارايي تدريجي بدلون د يو ډول تغير ښــودنه کوي خو په نغدي جرياناتو يا Cash flow باندې هيڅ ډول تاثير نه لري. ځکه دغه منابع په نغدي جريان کې کوم تاثير نه رامنځته کوي نو دغه منابع د عوايدو د حساب په صورت کې له خالص مفاد څخه منفي کيږي.

د دارايي او سرمايه ګذارۍ د پيرو او پلور له درکه مفاد او ضرر

لــه دغه مدرک څخه مفــاد او ضرر د عملياتي فعاليت له ناحيې څخه نغدي جريانات نه متاثر کوي. نو په دې اســاس په کار دي چې له دې برخې څخه حذف شي. د مثال په توګه د x شرکت د عوايدو د حساب په دوو صورتونو کې د سرمايه ګذاري له درکه 12.000Af مفاد ښودل شوی دی، همدا شــان د ثابتې دارايي د پلور له درکه 3000Af ضرر ښــودل شوی دی، ځکه دغه 12.000Af مفاد د سرمايوې فعاليتونو په برخه کې ښودل کيږي نو په کار ده چې د عملياتي فعاليتونو له برخې څخه تفريق شي او په دې خاطر چې 3000Af ضرر د سرمايوي فعاليتونو په برخه کې تفريق کيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په کار ده چې په دې ځای کې جمع شي.

د x شرکت د عملیاتي فعالیتونو له درکه نغدي جریان دد 2005 ام کال لپاره چې د ډسمبر په۳۱ پای ته رسیږي		
شمیره	له عملیاتي فعالیتونو څخه نغدي جریان	مبالغ
۱	خالص مفاد	698.000Af
۲	استهلاک	37.000Af
۳	د سرمایه ګذاري د پیر له درکه مفاد	12.000Af
۴	د ثابتې دارایي د پلور له درکه ضرر	3.000Af
۵	د سیال پورونو په دارایي کې بدلونونه	31.000Af
۶	په قابل حصول حساباتو کې کموالی	8.000Af
۷	په ګدام کې زیاتوالی	34.000Af
۸	په مخکې ورکړل شوو مخارجو کې کموالی	4.000Af
۹	په قابل تادیه حساباتو کې زیاتوالی	7.000Af
۱۰	په غیر نغدي دیون پورونو زیاتوالی	3.000Af
۱۱	په عوایدو باندې د راتلونکو مالیاتو په کچه کې کموالی	2.000Af
۱۲	په عملیاتي فعالیتونو کې خالصې نغدي پیسې	

{10+9+8}14.000Af

814.000+16.000A}30.000

په سیاله دارایۍ کې بدلون

په نغدي جریاناتو یا Cash flow باندې د سیالې دارایۍ یا current asset کموالي مثبت تاثیر او زیاتوالی یې منفي تاثیر لري.

د مثال په توګه: د(x) شرکت د عوایدو د صورت او د بیلانس ورقې ته مراجعه وکړئ، په 2005 کال کې خالص فروشات یعنې د فروش عواید 698.000Af دي او قابل تادیه حسابونه د8.000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

کموالي ښودنه کوي، نو د امتعې د خرڅلاو له درکه نغدي مبالغ 706.000Af دي، يعني
.698.000+8.000Af=706.000

په دې صورت کې نسبت هغه مبلغ ته چې د عوايدو د حساب په صورت کې ښودل کيږي د خرڅلاو له درکه نغدي پيسې 8.000Af زياتې دي.

Account Receivable

55.000Beg Balance 698.000Af په مشتريانو باندې پلور	706.000AfCash Receipts From customer 47.000Af
753.000Af	753.000Af

په دې حالت کې د پلور په طلباتو کې 8.000Af کموالی له خالص مفاد سره جمع کيږي او د ګدام ذخاير چې له 110.000Af څخه يې 144.000Af ته زياتوالی موندلی دی ، نسبت هغه ته چې د پيرل شوې امتعې په مصرف کې ښودل شوی دي ،د 34.000Af په اندازه د امتعې په خريداري کې زياتې مصرف شوی دي. له دغه پرنسيب څخه په استفادې سره په مخکې پرداخت شويو مخارجو کې 4.000Af کموالی خالص مفاد ته ورجمع کيږي.

په سيالو ديونو کې تغير

په نغدي صورت حساب کې سيال ديون د سيالي دارايي په حذف کولو باندې معکوس تاثير لري. په دې معنا چې په سيالو پورونو کې زياتوالی له خالص مفاد سره جمع کيږی او کموالی يې له هغه نه تفريق کيږي.

د مثال په توګه : په قابل تاديه حسابونو کې يې له 43.000Af څخه 50.000Af ته زياتوالی موندلی دی او د 7.000Af زياتوالی ښودنه کوي. يعني واقعې خريداري د پلورل شوي امتعې له مصارفوڅخه عبارت دی ، په دې معنا چې 520.000Af، + په ګدام کې زياتوالی 34.000Af چې له 554.000Af سره مساوي کيږي. په همدې ترتيب په ديون يا liabilities کې 000زياتوالی هم اضافه کيږي خو په قابل تاديه مالياتو کې 2.000Af کموالی منفې کيږي.

په دې صورت کې د عملياتي فعاليتونو له درکه خالصې نغدي پيسې 30.000Af دي ، په داسي حال کې چې خالص مفاد 16.000Af دي.

په لنډه توګه د عوايدو د حساب په صورت کې د اقلامو تاثيرات په لاندې ډول وړاندی کيږي:
استهلاک علاوه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نامحسوسه دارايي کې کموالی علاوه کيږي.
په طبيعي مبالغو کې کموالی علاوه کيږي.
د دارايي او سرمايې د پلور له درکه ضرر علاوه کيږي.
د دارايي او سرمايې د پيرلو له درکه مفاد منفي کيږي.

د سيالو پورونو او دارايۍ لپاره

سياله دارايي په خالص مفاد باندې علاوه کيږي، له خالص مفاد څخه منفې کيږي.

طلبات کموالی ډيروالی
گدام کموالی ډيروالی
مخکې سپارل شوي مصارف کموالی ډيروالی

ديون يا liabilities سيال
د تادیې وړ حسابونه کموالی
ډيروالی کموالی
ديون يا liabilities تحقيقی ډيروالی کموالی
د خرڅلاو مالیه (مفاد) زياتوالی کموالی

د سرمايوي فعاليتونو له درکه نغدي پيسې

هر هغه حساب چې د سرمايوي فعاليتونو لپاره نغدي پيسې برابرولای شي، په بېله توگه ازمايش کيږي. سرمايوي فعاليتونو تر ډيره ځايه په اوږدمهاله دارايي باندې چې په بيلانس کې ښودل شوې وي، متمرکز وي، خو لنډ مهاله سرمايه گذاري هم د سيالې دارايي په برخه کې د مفاد او ضرر په بيلانس کې د عوايدو د حساب له درکه شاملیږي. د دغې برخې د غوره توضيح په موخه لاندې معاملات په نظر کې نيسو:

۱- د سرمايوي اسنادو پيرلو يا خريداري په مبلغ 78.000Af .
۲- په 102.000Af باندې د سرمايه گذاري پلور چې قيمت يې 90.000Af دی.
۳- په 102.000Af قيمت باندې د ثابتې دارايي خريداری
۴- د ثابتې دارايي پيرلو چې 10.000Af قيمت يې درلود او 2.000Af يې په 5.000Af ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره استهلاک شوي وه

اوس نو د سرمايه ګذاري له درکه د نغدو پيسو د تر لاسه کولو لپاره په لاندې ډول عمل کوو.

سرمايه ګذاری

لکه څنګه چې پوهيږو د سرمايوي شـيانو خريـداري سرمايه ګذاري ته زياتوالی ورکوي ، په داسي حـال کـې چې پلور يې سرمايـه ګذاری ته کموالی ورکوي. په 78.000Af ارزښـت سره د سرمايوي شـيانو د اخيسـتلو له درکه په سرمايه ګذاری کې زياتوالـی را غلی دی چې په لاندې ډولمعاملـه‌کيـږي:

شميره	تفصيل	Dr	Cr
1	د سرمايه ګذاري حساب	78.000Af	0Af
2	کود	0Af	78.000Af
		0Af	0Af
جمله			78.000Af

د سرمايوي شيانو اخيستل

دغه معامله د کودې له حسابه د ۷۸،۰۰۰Af کموالي ښودنه کوي.

دوهمه معامله چې د سرمايه ګذاري ښـودنه کـوي 90.000Af قيمت لري او په 102.000Af پلورل کيږي، چې په لاندې توګه په محاسبوي دفتر کې ثبت کيږي.

	تفصيل	Dr	Cr
1	نغدي پيسې	102.000Af	0Af
2	د سرمايه ګذاري حساب	0Af	90.000Af
3	د سرمايه ګذاري له درکه مفاد	0Af	12.000Af
4		0Af	0Af
5		0Af	0Af
	جمله	102.000Af	102.000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرمایه ګذاري پلورل

په نغدو پیسو کې د دغې معاملې تاثیر 102.000Af دی چې 12.000Af مفاد هم په کې شامل دی، له همدې کبله دغه12.000Af د عملیاتي فعالیتونو له برخې څخه تفریق کیږي.

لکــه څنګــه چې په بیلانــس کې لیدل کیــږي ، په 2004 کال کــې لنډ مهالــه سرمایه ګذاري 127.000Af او په 2005 کال کې 115.000Af ده چې د 12.000 ډالرو کموالي ښــودنه کوي، اوس نو په 2005 کال کې په 78.000Af واخیستل شوه او 90.000Af ترې کمه شوېده.

ثابته دارایي(شتمنۍ)

په دې اړه باید د دارایۍ او مصحیح حســابونو د شــمتنۍ ارزښــت مطالعه شي. د بیلانس په اساس دارایي د 210.000 Af زیاتوالي ښودنه کوي. د هغوی د ارزښت مصحیح 35.000Af زیاتوالی کــړی دی، د دارایــي خریداري د مصحیح د زیاتوالي او پلــور یې د کموالي باعث کیږي. د دارایي د ارزښت مصحیح د دارایي له استهلاک سره زیاتوالی ښیي.

له اضافي معاملاتو څخه څرګنده شوه چې په 120.000Af سره دارایي اخیستل کیږي.

شمېره	تفصیل	Dr	Cr
1	دارایۍ	120.000Af	0Af
2	نغدې پیسې	0Af	120.000Af
		0Af.	0Af
	جمله	120.000Af	120.000Af

د ثابتي دارایي پېر یا اخیستل

د دارایي څلورمه معامله چې 10.000Af قیمت یې درلود او 2.000Af یې اســتهلاک شوی وه، په 5.000Af پلورل کیږي یعنې:

د ثابتې دارایي پېرل

کسر ◄—————— 5.000Af

د دارایي د ارزښت مصحیح ◄—————— 2.000Af

د پلور له درکه ضرر ◄—————— 3.000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ثابتې دارايي پلور

لکه چې و ليدل شول له عملياتي فعاليتونو څخه 3.000Af ضرر منفي شوی وه، نو:

شمېره	د سرمايوي فعاليتونو له مدرکه نغدي جريانات	مبالغ
1	د سرمايوي شيانو خريداري	78.000Af
2	د سرمايوي شيانو پلور	102.000Af
3	د ثابتې دارايي خريداري	120.000Af
4	دثابتې دارايي پلور	5.000Af
	خالص جريانات	91.000Af

شمېره	Net Income casatementh flow st	Dr Cr
1		16.000Af
2	Depreciation	37.000Af
3	Ceainon ….. ofincome	12.000Af
4	Lass plant assats	3.000Af
5	په سياله دارايي او سرمايه کې کموالی	
6	کموالی	8.000
7	په ګدام کې زياتوالی	34.000Af
8	د پرداخت شويو مخارجو کموالی	4.000Af
9	په قابل تاديه حسابونو کې زياتوالی	7.000Af
10	په تحقيقې قروضو کې زياتوالی	3.000Af
11	په قابل تاديه مالياتو کې کموالی	2.000Af
12{11+10+9+8+7+6}		14.000Af
13{12+11}	Net cash from operating Activities	30.000Af
14	د سرمايه ګذاريو له درکه پيسې	
15	دسرمايوي اسنادو خريداري	78.000Af
16	د سرمايوي اسنادو پلور	102.000Af
17	د دارايي خريداري	120.000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

5.000Af	خرڅلاو	18
91.000Af	د سرمايوي فعاليتونو له مدرکه نغدي پيسې	19{18+17+16+15+14}
50.000Af	د اوږد مهاله قرضونو ورکول	20
	د ونډې يا سهم د اسنادو صدور	21
8.0000Af	توزيع شوی مفاد	22
92.000Af	د مالي فعاليتونو له مدرکه خالصې نغدي پيسې	23{22+21+20}
31.000Af	په نغدو پيسو کې خالص زياتوالی او تغيرات	24
15.000Af	د کال په پيل کې نغدي پيسې	25
46.000Af	نهائي نغدي پيسې	26 {25+24}



په ساده عبارت، حسابي معادله د دې شودنه کوي چې خالص ارزښت د جاري دارايي د ارزښت د تعين په واسطه او له هغه وروسته له هغې څخه د جاري پورونو د ارزښت د تفريق کولو په واسطه مشخص کيږي. کله چې د حسابي معادلې د استفادې موضوع د بيلانس شيټ اساسي معادلې په توګه مطرح کيږي، دا په دې مفهوم ده چې د بيلانس شيټ اخيرې برخې په موازي توګه د يوه نهاد د خالص ارزښت څرګندوی دی.

که چيرته د يوې موسسې د دارايي خالص ارزښت او د ديونو ميزان د دارايي له مجموعي رقم سره مساوي شي، په دې صورت کې کومه ستونزه شتون نه لري، خو که چيرته د ديونو مجموعي رقم او د دارايي خالص ارزښت د دارايي له مجموعي رقم سره مساوي نشي، په دې صورت کې دمحاسبې په بهير کې ستونزې ايجاديږي او مسئله جدي پاملرنې ته اړتيا لري.

په لومړۍ مرحله کې د مالک يا څښتن دارايي يا شتمني د شرکت له سرمايې څخه د اسهامو د صدور په څير د يو لړ اقداماتو په واسطه تر اغيزې لاندې راځي.

وروسته لـه دې چې شرکت خپل فعاليت پيل کړي، درامـد (د عوايدو منفي مصارف) او ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځته راځي او همدا رنګه امکان لري چې د دورې تر پایه پورې د شرکت سرمایوي سهام یا ونډې زیاتې شي یا بالعکس یو شمېر سهام اعاده شي او سرمایه یې کموالی وکړي. د څښتن په سرمایه باندې پورته ذکر شوي عناصر لاندې تاثیرات لري:

دارایي = پورونه + د مالک خالصه دارایي

+ عواید - د سهامو حذف

+ مصارف

- منفعت

- خسارات

+ د سرمایې د ونډې زیاتوالی

پورونه + د مالک خالصه دارایي = مجموعی دارایي

حسابي معادله له مضاعف اندراج حسابي سیستم سره د اساسي معادلې د اړیکي ښودنه کوي. اصلاً فورمولي حسابي معادله، د دارایي، دیونو او خالص ارزښت تر منځ د اړیکې د توضیح لپاره ده. حسابي معادله د معادلاتو تر منځ تر ټولو متداوله معادله ده چې په بیلانس شیټ کې تر استفاده کیږي. په دې برسېره په بیلانس شیټ کې د مندرجاتو د ثبت کیدلو او د هغوی د څرنګوالي او سمې مطالعې لپاره هم د نومورې معادلې پېژندنه یا شناخت اړین دی . د حسابي معادلې د کار کرد د پېژندلو په موخه د معادلې د تشکیلوونکو درې واړه اساسي عناصرو پېژندنه او درک ضروري دی.

– دارایي د هغو ټولو اجناسو یا محصولاتو په ارزښت باندې اطلاق کیږي چې د مالک یا څښتن په تصاحب یا ملکیت کې شامل وي.

– دیون یا liabilities له هغو وجوهو یا منابعو څخه عبارت دي چې د دارایي د لاسته راوړلو په موخه د شرکت له لوري په قرض اخستل شوي وي.

– خالص ارزښت د یوې موسسې له هغه مالي ارزښت څخه عبارت دی چې د باندنیو مراجعو د واجب التادیه قروضو له منفې کیدلو څخه وروسته پاتې کیږي. د حسابي معادلې له توسل څخه اساسې موخه د نهایي عناصرو له تعین څخه عبارت دی چې خالص ارزښت ور ته ویل کیږي.

ځینې وختونه خالص ارزښت د (خالصې دارایي) په نامه هم یا دیږي.

د یوه شرکت یا موسسې مالي وضعیت د قروضو او دارایي د میزان څرګندوی دی.

تجارتي معاملات په ورځنۍ توګه د شرکت د سوداګریزو چارو د پر مخ وړلو په موخه تر سره کیږ ي، په دې بهیر کې د اقلامو پیر او پلور صورت نیسي، مالي وجوه یا (اعتبارات) اعطاء یا په قرض

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخســتل کيږي، عواید تحصیل کيږي او مصارف منل کيږي. نوموړي ســوداګریز معاملات د حسابي معادلې د دریواړو عناصرو د بدلون یا تغیر لامل ګرځي.

هره معامله چې د مجموعي دارایي د زیاتوالي لامل ګرځي، باید د خالصې دارایي یا قرضونو د زیاتــوالي لامــل هم شي. او هره معامله چې د مجموعې دارایي د تقلیل یا لیږوالي لامل ګرځي، باید د خالصي دارایي او دیونو د کموالي لامل هم وګرځي.

ځینې سوداګریز معاملات د معادلې په عین طرف کې دیوه حساب د زیاتوالي، او د بل حساب د کمــوالي لامل ګرځي، د مثال په توګه یــوه دارایي زیاتوالی مومي ، په داسي حال کې چې بله یې کموالی مومي.

دارایی = پورونه + د څښتن خالصه دارایي

د معاملاتو د ماهیت له مد نظر نیولو پرته، باید حسابي معادله د توازن په حالت کې وي.

رابطه
- د دیونو او دارایي تر منځ اړیکه د لاندې معادلې په ذریعه بیانیږي. - په مجموعې دارایي کې زیاتوالی اوکموالی د پورونو او خالصې دارایي په رقم کې د مساویانه زیاتوالي یا کموالي لامل ګرځي

مثال
فرض کړئ چې تاسو یو موټر په 8000 باندې پیرئ، د موټر د قیمت د تادیې لپاره 3000 نغدي ورکوئ او 5000 له بانک څخه قرض اخلی. حسابي معامله به څنګه وي؟

د حســابداري اســاسي معامله د هغې د پراخ مفهوم له مخې د محاســبې په برخه کې تر ټولو زیات اهمیت لري. له اســاسي معادلې پرته د حاســبداري سیستم ارزښت نه لري، چې په دې توګه نوموړې معادله د حسابداري د قانون په نامه نوموو.

دغه معادله خورا اهمیت لري، ځکه دغه معادله د دې ښودنه کوي چې د سوداګریزو معاملاتو په جریان کې کوم بدلونونه رامنځته کیږي.

دغــه معادله په مضاعف اندراج دفتري سیســتم باندې اتکا لري. په مضاعف اندراج سیســتم کې یوه معامله حد اقل په دوو حسابونو باندې تاثیر کوي. له حسابي معادلې څخه د استفادې په صورت کې کولای شــو ډاډ تر لاســه کړو چې په یوه حساب کې اندراج حد اقل په یوه بل حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې له اندراج سره متوازن وي.

ایا ستاســو لپاره تر اوســه پورې هم دغه موضوع دومره مهمه ده؟ که چیرته د حسابي معادلې فورمول ته پاملرنه وکړئ، ستاسو لپاره به موضوع نوره هم واضح شي.

دارایي = پورونو + خالصه دارایي

کله چې په دارایي کې کموالی یا زیاتوالی راځي ، دیون یا خالصه دارایي هم په ورته استقامت خوځیږي او کله چې دیون یا خالصه دارایي کموالی یا زیاتوالی وکړي، مقابل لوری په مخالف لوري حرکت کوي. د معاملاتو د ثبت ډول په دغو قواعدو پورې بشپړ تړاو لري.



په پورتني دیاګرام کې لیدل کیږي چې خالصه دارایي او دیون د حسابي معادلې دوه جزونه دي

خالصه دارایي

د (خالصــې دارایــي) اصطلاح عموماً دیوې دارایي په خالص ارزښــت پــورې تړاو لري. په بل عبارت، خالصه دارایي له هغه مقدار پیســو څخه عبارت ده چې د یوې دارایي په توګه اختصاص ورکړل شــوی وي. د خالصې دارایي رقم چې په بیلانس شــیټ (بیلانس ثبت)کې ښــودل کیږي ، د بیلانس شیټ له درېیمې برخې سره برابره وي چې د مالک د خالصې دارایي په نامه مسمی شوي ده.

د مالک یا څښــتن خالصه دارایي د شرکت د قرضو له جملې څخه شــمیرل کیږي، ځکه دا له هغې وجوه څخه تر کیب شوی ده چې د ونډې والوله لوري په قرضې توګه(د ټولو دیونو له تادیې وروسته) ورکول شوی ده.

د دیــن یــا liability اصطلاح معمــولاً محدود مفهوم لري او په ځان کــې د ونډې والو خالصه دارایــي نــه رانغاړي. په دې برســیره د دارایي او دیونو بیلانس (د ونډې والــو د خالصې دارایي په شمول) یو له بل سره تطابق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بیلانس شـیټ کې د هر حسـاب ارزښت د حسـابدراي د مضاعف اندراج سیستم له مخې ثبت کیږي. په دې صورت کې باید د مالک خالصه دارایي د مجموعي دارایي له رقم ، منفې دیون سره معادل وي.

دیون یا liabilities

په مالي محاسـبه کې دیون یا liabilities د یوې موسسـې له هغو مکلفیتونو څخه عبارت دي چې له پخوانیو معاملاتو څخه منځته راغلي وي چې تسویه یې په راتلونکي کې د دارایي له انتقال، د خدماتو له وړاندي کولو او یا د اقتصادي منفعت په برخه کې د هر ډول زمینې له چمتو کولوسره برابره وي.

دارایي = پورونه + د مالک خالصه دارایي

د تادیې وړ حسابونه.

– د محکمې د پریکړو او تضمیناتو لپاره.

– مالي دیون (د تادیې وړ له حسابونو او تامیناتو پرته).

– د شرکت ګران بیه.

– د جارې مالیې لپاره مکلفیتونه او دارایي.

– معوقه مالیه او د دارایي معوقه مالیه.

– په خالصه دارایي کې د اقلیت یا لږکیو ونډه.

قرض ورکونکي

هغـه پورونـه چـې د پرې کېدلو یـا مجراکولو وخت یا میعـاد یې تر یـوه کال پوري وي، د جاري قرضونو په نامه یادیږي چې په جاري عایداتو باندې مالیات، جاري قسـطونه، بانکي قرضه، قصیرالمدت تأمینات او داسې نور د جاري مکلفیتونو د بیلګې په توګه یادولای شو.

هغه پورونه چې د پرې کېدلو وخت یې تر یوه کال پورې نه رسـیږي د اوږد مهاله قرضونو یا (طویل المدت قرضونو) په نامه یادیږي. (بانکي قرضونه،د قرضې صادر شوي اسناد، معوقه مالیات، د قرضونو تامینات، د لیږکیو ونډه).

خالصـه دارایي: سرمایوي ونډه، د پانګې اچونې زېرمې یا Reserved capital، د ارزیابۍ لپاره پیشې، د ترجمې د خدماتو لپاره پیشې او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فورمول				
د مالک خالصه دارايي	+	پورونه	=	دارايي
↓		↓		↓
3.000	+	5.000	=	8.000
معادله				
دارايي = پورونه + د مالک خالصه دارايي پورونه = دارايي – د مالک خالصه دارايي د مالک خالصه دارايي = دارايي - پورونه				

حسابي معادله: د (دارايي = ديون + د مالک خالصه دارايي) څخه عبارت دی.

د مضاعف اندراج حســابي سيســتم له مخي، د ثبت په بيلانس کې حسابي معادله بايد همواره د توازن په حالت کې وي. (مضاعف اندراج په دې مفهوم دی چې هره معامله ليږ تر ليږه د ليجر دوه حسابونه متاثر کړي).

په لاندې توګه د توازن په حالت کې د حسابي معادلې ځينې مثالونه ورکړل شوی دي.

پــه شرکت کې د مالک يا څښــتن پانګه اچونه د شرکت د دارايــي د زياتوالي او په ورته توګه د مالک د خالصې دارايي د زياتوالي لامل ګرځي.

کله چې شرکت له بانک څخه پيسې په پور واخلي، د شرکت دارايي زياتيږي او په ورته حال کې دشرکــت ديون هم زياتيږي. کله چې شرکت خپل قروض بيرته ادا کړي، په دې صورت کې دشرکت دارايي نزول کوي او د هغه د متابعت له مخې د شرکت ديون يا liabilities هم ليږوالی مومي.

که نوموړی شرکت د خپلو کارکونکو لپاره يو نوی موټر په نغدو پيسو واخلي، په دې صورت کې د شرکت د دارايي يوه برخه (د عراده جاتو برخه) زياتيږي. که چيرته شرکت د خپلو مشــتريانو يا پيرودونکــو لپاره په مقابل کې خدمتونه عرضه کړي، بيا هم د شرکت دارايي زياتيږي او په همدې توګه يې خالصه دارايي هم زياتيږي، ځکه شرکت له دغه مدرک څخه عوايد تر لاسه کوي.

که چيرته شرکت داسې خدمتونه وړاندي کړي چې مشتريان يا پيرودونکي يې په يوه ميا شت کــې د قيمــت د پرې کولو ځــواک ولري،په دې صور ت کې شرکت خپلــې دارايي يا (قابل حصول حســابونو) ته زياتوالی ورکړی اوپه همدې توګه دمالک د خالصې دارايي د زياتوالي لامل ګرځيدلي دي، ځکه شرکت د خدماتو عوايد تعميل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرته یو شرکت رادیویي اعلان نشر کړي او حق الزحمه یې وروسته ورکړي، په دې صورت کــې شرکــت د یو لړ مصارفو متحمل کیــږي چې د مالک خالصې دارایي ته لیږوالی ور ښــي اود شرکت د دیونو یا (قابل تادیه حسابونو) د زیاتوالي لامل ګرزي.

دارایي = پورونه + د مالک خالصه دارایي + د مصارفوعواید – له حسال څخه برداشت

(له شمولیت څخه د شرکت د دارایي ایستل)

د شرکت په واک او کنټرول کې شته منابعو ته دارایي یا شتمنۍ ویل کیږي. په یوه نوي شرکت کې دارایي له دوو احتمالي منابعو څخه منځته راځي.

هغه سرمایه ګذاري چې د یوه تشبث په ترڅ کې یې مالکیت حاصل کړی وي.

هغه قرض ورکوونکي چې د یوه تشبث له مخې قرضې او پورونه ورکوي.

هغه کسان چې خپله داراېې د شرکت په واک کې ورکوي، د دغې دارایي د مطالعې له قانوني حق څخه برخمن دي.

د تجاري معاملاتو تحلیل او تجزیه			
حامد د یوه سوداګریز فعالیت د پیل کولو په موخه 20000 افغانۍ سرمایه ګذاري وکړه.			
Assets	=	Liabilities +	Equity
		Accounts Notes	Owner
Cash Supplies Equipment		Payable Payble	Capital
(1) 20.00			20.000
20.000			20.00
20.000	=	20.000	

د تجاري معاملې تحلیل او تجزیه

دا له هغې پروسې څخه عبارت ده چې په واسطه یې منځته راغلي بدلونونه د معادلې په هر لــوري کــې تطبیق کیدی شي. راځئ د ورته معاملاتو ځینې بیلګــې مطالعه کړو ترڅو د معادلې د استعمال او د هغې د تحلیل او تجزیې په هکله لا غوره معلومات تر لاسه کړو.

د یوه نوي شرکت لپاره حسابي معادله په لاندې ډول ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارايي	= ديون	+ د مالک خالصه دارايي
0Af	0Af	0Af

۱معامله: مالک د تجارتي فعاليت د پيل په موخه 20000 افغانۍ خپل جاري حساب ته تحويل کوي.

دارايي = ديون + د مالک خالصه دارايي

+ 20.000Af 0Af + 20.000Af

کله چې څښتن 2000افغانۍ په يوه تجارتي فعاليت کې سرمايه ګذاري کوي، د هغه خالصه دارايي د 20000 افغانيو په اندازه زياتوالی مومي، په توازن کې د معادلې د دواړو لورو د ساتلو په موخه د دارايي مجموعه هم په ورته کچه زياتوالی مومي.

التبه لامل يې دا دی چې خالصه دارايي په هواره توګه يوه دارايي حساب کيږي او په خالصه دارايي کې زياتوالی يا کموالی د مجموعي دارايي د کموالي يا زياتوالي لامل ګرځي.

د تجارتي معاملاتو تحليل او تجزيه		
د 1000 نغدو افغانيو په بدل کې د تجهيزاتو پيرو		
Assets = Liabilites + Equily		
Accounts Notes Owner		
Cash Supplies Equipment Payable Payable Capital		
(1) 20.000 20.000		
19.000 1.000 = = = 20.000		
20.000	20.000	

تجارتي شرکت د 1000 نغدو ډالرو په بدل کې مصرفي اجناس پيرې، دغه مطلب په دې مفهوم دی چې د 1000 ډالرو په اندازه نغدي وجه د شرکت د دارايي له حساب څخه وايستل شوه اويا په بل عبارت د شرکت دارايي د 1000 ډالرو په اندازه نزول کړيدی.

له بله لوري شرکت ته اجناس راوړل شويدي او دا په دې مفهوم دي چې دارايي دوهم ځل زياته شويده. نو په دې اساس د دارايي په نوعيت کې يوازي يو بدلون ليدل کيږي او ياد شوی حالت د شرکت د پورونو يا ديونو او خالصې دارايي رقم نه متاثره کوي. همدا شان کولای شو وايو چې 1000 ډالر نغدي وجه د 1000 ډالرو په ارزښت په اجناسو باندې بدله شويده، نو په دې اساس په لنډه توګه ويلای شو چې د شرکت د دارايي په ميزان کې کوم کموالی يا زياتوالی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی راغلی.

د تجارتي معاملې تجزیه او تحلیل						
د 15000 افغانیو نغدي وجه یا Cash in hand په بدل کې د تجهیزاتو پیر یا خریداري						
Assets			= Liabilites		+ Equity	
				Accounts	Notes	Owner
Cash	Suplies	Equipment	Payade	Payable		Capital
		(1) 20.000				20.000
		(2) 1.0000				1.000
		(3) 15.000				15.000
4.000	1.000	15.000	=	=		20.000
20.000		=		20.000		

لکه څنګه چې پورته لیدل کیږي، تجارتي شرکت د تجهیزاتو د خریداري په موخه 15000ډالر نغدي وجه تادیه کوي، نو د یادونې وړ ده چې دغه تجهیزات د شرکت له دارایي څخه شمیرل کیږي.

د پورتنـي مثـال په څیر ، شرکـت 15000 ډاله نغدي وجه تادیه کـوي او په مقابل کې یې د 15000ډالرو په ارزښت تجهیزات ترلاسه کوي

پـه دې حالـت کې یوازې د نغدي وجې یا Cash in hand او اجناسـو تبادله صورت نیسي او پـه نوموړي بیلانس کې د دیونو او خالصې دارایـي د رقم د بدلون لامل نه کرځي، ځکه د دارایي بیلانس د پخوا په څیر پاتې کیږي.

اوس موږ د 4000 افغانیو نغدي وجه یا Cash in hand، د 1000 افغانیو په ارزښت د اجناسو او همدا شان د 15000 افغانیو په ارزښت د تجهیزاتو د ارزښت لرونکي یو او په دې توګه زموږ د دارایي بیلانس 20000 افغانیو ته رسیږي.

د تجارتي معاملې تجزیه او تحلیل						
د 200 افغانیو نغدي و جهې په بدل کې د مصرفي توکیو پیر او د نسیې یا قرضو په توګه تجهیزات						
Assets			= Liabilites		+ Equity	
				Accounts	Notes	Owner
Cash	Suplies	Equipment	Payade	Payable		Capital
		(1) 20.000				20.000
		(2) 1.0000				1.000

(c) ketabton.com: The Digital Library

					(3) 15.000	15.000	
					(4) 200	1.000	1200
			4.000	1.200	16.000	1.200 =	20.000
					21.200 =	21.200	

لکه چې لیدل کیږي، تجارتي شرکت د 200 افغانیو په مقابل کې مصرفي توکي او د 1000 ډالرو په ارزښـــت تجهیزات په قرضي توګه پېرلي دي. نســیه (قرضي) تجارتي معامله په دې مفهوم ده چې د نظر وړ شرکت د اجناســو د پیر لپاره پیســې هم ورکړي دي، بلکې اجناس یې د قرض په توګه تر لاسه کړي چې په پایله کې یې عمومي دارایي زیاتوالی موندلی دی.

په دې مثال کې د تیر مثال په خلاف د دارایي تبادلې صورت نه دی نیولی، بلکې د موسســې لپاره دارایي له کومې خارجي منشاء څخه فراهم شویده.

لیــدل کیږي چې د دارایي کلي بیلانس 1200 ډالره زیاتوالی موندلی دی، خو په مقابل کې یې تر اوسه کومې نغدي پیسې ندي تادیه شوي. نو په دې اساس په توازن کې د معادلې د ساتلو لپاره لازمه ده چې د معادلې دواړو لوریو ته د دین(پور) رقم ور ز یات کړو . شرکت ته په کار دي چې د پیرل شویو اجناسو په بدل کې 1200 افغانۍ تادیه کړي، نو په دې اساس دارایي د 1200 فغانیو په اندازه او دیون هم په همدې اندازه زیاتوالی مومي.

د تجارتي معاملې تجزیه او تحلیل								
د 400 په بدل کې د مصرفي اجناسو پیر له لومړني امریکایي بانک څخه تر لاسه شو.								
Assets = Liabilites + Equity								
Accounts Notes Owner								
Cash Suplies Equipment Payade Payable Capital								
					(1) 20.000			20.000
					(2) 1.0000			1.000
					(3) 15.000			15.000
					(4) 200	1.000		1200
					4.000			4.000
			8.000	1.200	16.000	1.200	4.000	20.000
25.2000		=	25.2000					

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــو تجارتي شرکت د خپلو فعالیتونو د تر سره کیدلو په موخه له یوه بانک څخه 4000 افغانۍ قرض اخلي،په بل عبارت له څښــتن څخه پرته د کوم بل شــخص له لوري 4000 افغانۍ نغدي وجه تجــارې فعالیــت ته ترزیق کیږي. دغه پیښــه د دې لامل ګرځي تر څو پــه دارایي کې زیاتوالی را منځتــه شي ، ځکــه هره مالي وجه چــې د مالک یا کوم بل کس له لوري چمتــو کیږي، د دارایي د زیاتوالي باعث ګرځي. که چیرته نومورې وجه (مال) د مالک له لوري تامین شي، د دارایي د زیاتوالي باعث ګرځي او بالعکس که چیرته د کوم دریم شــخص له لوري د شرکت په واک کې ورکول شوې وي، د بدهې یا پور د زیاتوالي لامل ګرځي او په پایله کې یې معادله د توازن حالت ساتلای شي.

په دې ځای کې شرکت له بانک څه قرض اخیستي دی. دا امر په دې مفهوم دی چې نومورې شرکت بانک ته د دغو پیسو د بیرته ورکولو مکلفیت په غاړه لري.نو په دې توګه یاد شوي مبلغ د شرکت د دیونو له لړ څخه شمیرل کیږي، په دې اساس د شرکت دیون 4000 افغانیو ته لوړیږي او په مقابل لوري کې یې دارایي هم په همدې اندازه لوړیږي.

د تجارتي معاملې تجزیه او تحلیل						
پاملرنه وکړئ چې په بیلانس شیټ کې حسابي معادله د توازن په حالت کې وي.						
Assets = Liabilites + Equity						
Accounts Notes Owner						
Cash Suplies Equipment Payade Payable Capital						
Bal 8.000 1.200 16.000 1.200 4.000 20.000						
8.000 1.200 16.00 1.200 4.000 20.000						
25.200	=	25.200				

په ساده عبارت: حسابي معادله د دې ښودنه کوي چې خالص ارزښت د جاري داراېي د ارزښت د تعین او له هغه څخه د جاري قرضونو د رقم له تفریق کولو څخه مشخص کیږي.

کله چې د بیلانس شــیټ د ترتیب په صورت کې له حســابي معادلې څخه استفاده کول د یوې موضوع په توګه مطرح شي، مقصد یې دا دی چې د بیلانس شــیټ اخري کرښــه د یوه شــخص د خالص ارزښــت ښــودونکې ده. که چیرته خالص ارزښــت او د دیونو رقم له مجموعي دارایي سره برابر شي، نو ویل کیږي چې په حساب کې کومه ستونزه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درېيم څپرکي لنډيز

۱- د بيلانس د تحليل اړتيا: څنګه چې د بيلانس زياتره علاقمندان او اســتفاده کوونکي د کال پــه پــای کې د شرکت د راتلونکي مالي وضعيت معلومولو ته ليوالتيا او اړتيا لري، نو په دې توګه د بيلانس د تحليل ميتودونه ورته ، يورنګه امکانات برابروي

۲- د بيلانــس د تحليــل تخنيکونه: څنګه چې پــه يواځې توګه د بيلانــس د اقلامو مطالعه د شــنونکي يا تحليل کوونکي لپاره ســمه پايله نه په ډاګه کوي، نو له همدې امله غوره ده چې دغه اقلام د تيرو مالي دورو له اقلامو سره مقايسه شي چې د مختلفو تخنيکونو په مرسته تر سره کيدی شي.

۳- د بيلانس د تحليل ميتودونه:

الف: افقي تحليل　　ب: ټرنډ تحليل

ج: عمودي تحليل　　ه: د شرکت د سياست تحليل

الف- افقي تحليل

$$\text{د فيصدې تغير} = \frac{\text{په مبالغو کې تغير} \times 100}{\text{د اساس د کال مبلغ}}$$

پــه افقــي تحليل کې د بيلانــس اقلام د دوو مــالي دورو لپاره د لاندې فورمول په واســطه تر مقايسې لاندې نيول کيږی.

ب- ټرنډ تحليل

په دې تحليل کې د بيلانس اقلام د يوه کال لپاره د متمادي مالي ادوارو لپاره تحليل او شنل کيږي.

ج- عمودي تحليل

پــه دې تحليل کې اقلام په فيصدي او مبلغ سره ښــودل کيږي چې هــر قلم د فيصدي په بڼه وړاندې کيږي.

د- د نسبتونو تحليل

د نســبتونو شــننه يا تحليل د يوه شرکت په بيلانس شــيټ کې د درج شــويو اقلامو او ټولو حسابونو تر منځ اړيکه جوړوي چې له مورد سره د شرکت د مالي وضعې او فعاليتونو په شننه کې مرسته کوي او په مرسته يې د تيرو کلونو له پايلو سره د روان کال پايلې مقايسه کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـ - د یوه شرکت د سیاست تحلیل

په دې شننه کې درې مشخصې شتون لري:

۱- دوراني سرمایه ۲- جاري نسبت ۳- سریع نسبت

۱- دوراني سرمایه: دا د شرکت د سیالې دارایي او سیالو قرضونو ترمنځ له توپیر څخه عبارت دی.

۲- جاري نسبت: دغه نسبت د دوراني سرمایې د نسبت په نامه هم یادیږي چې فورمول یې په لاندې ډول دی:

$$\text{جاری نسبت} = \frac{\text{سیال دارایي}}{\text{سیال دیون یا liabilities}}$$

۳- سریع نسبت: په دې نسبت کې سریع دارایي له ټولې سیالې دارایي سره پرتله کیږي. په دې نسبت کې د ګدام ذخایر په نظر کې نه نیول کیږي او فورمول یې په لاندې ډول دی:

$$\text{سریع نسبت} = \frac{\text{نغدې پیسې + د دولتي قرضو دخرڅلاو وړاسناد + طلبات}}{\text{د سیالو قرضونومجموعه}}$$

- **د طلباتو دوران:** دغه مشخصه د دې ښودنه کوي چې د شرکت د حصول وړ طلبات یا حسابونه په یوه مالي دوره کې څو ځله د نغدو پیسو په بڼه شرکت ته ځي او راځي. دغه مشخصه معمولاً له دوراني سرمایې سره په ټراو تحلیل کیږي او د شننې فورمول یې په لاندې ډول دی:

$$\text{د طلباتو دوران} = \frac{\text{قرضوی خرڅلاو}}{\text{د طلباتو وسطي بیلانس}}$$

- **د ګدام دوران:** دغه مشخصه د دې ښودنه کوي چې په یوه شرکت کې د ګدام شته موجودي یا stockپه یوه مالي دوره کې څو ځله پلورل کیږي او دوهم ځل اخیستل کیږي. د شننې فورمول یې په لاندې ډول دی:

$$\text{د ګدام دوران} = \frac{\text{د پلورل شوي امتعې مصارف}}{\text{د ګدام د موجودې اوسط}}$$

- **د اوړد مهاله قرضونو د مجرا کیدلو د ځواک نسبت:** دغه نسبت په اوږده مهال کې د یوه شرکت د ځواک څرګندونه کوي او په لاندې ډول دي:

۱- د دیونو او ټولې دارایي نسبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د ربحې د پوشش نسبت

۳- د نغدو پیسو په واسطه د قرضونو د پوشش نسبت.

۴- اضافي نغدي پیسې

– **د نغدي حســاب د صورت تصنیف:** د حســاب دغه صورت د نغدي راکړې ورکړې له مخې چــې د مــالي سرمایه ګذاري له عملیاتي فعالیتونو څخه تر لاســه کیــږي، تصنیف کوي چې د دریو کټګوریو لرونکې دي:

۱- عملیاتي فعالیتونه

۲- مالي فعالیتونه

۳- سرمایوي فعالیتونه

د درېیم څپرکي پوښتنې

۱- د بیلانس شننې یا تحلیل ته څه اړتیا ده؟

۲- د بیلانس د شننې د تخنیکونو په اړه معلومات ورکړئ؟

۳- د بیلانس د تحلیل د میتودونو نومونه واخلئ؟

۴- افقي تحلیل تعریف او فورمول یې ولیکئ؟

۵- ټرنډ تحلیل څه شی دی؟

۶- د عمودي تحلیل په باره کې معلومات ورکړئ؟

۷- د نسبتونو تحلیل څه ډول طریقه ده، واضح یې کړئ؟

۸- د یوه شرکت د سیاستونو په تحلیل کې څو ډوله مشخصې شتون لري، نومونه یې واخلئ؟

۹- جاري نسبت تعریف او فورمول یې ولیکئ؟

۱۰- سریع نسبت څه شی دی؟ فورمول یې ولیکئ؟

۱۱- د طلباتو د دوران په اړه معلومات ورکړئ او فورمول یې ولیکئ؟

۱۲- د ګدام دوران څه شی دی؟ او فورمول یې ولیکئ؟

۱۳- د حساب د صورت د تصنیف د دریو کټګوریو نومونه واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس د ترتیب طرز

ټولیزه موخه:

د بیلانس د ترتیب کولو لپاره د کافې وړتیا تر لاسه کول.

د زده کړې موخې: د دې څپرکي په پای کې به محصلین د لاندې موضوعاتو په هکله معلومات او اطلاعات تر لاسه کړي:

- بیلانس جوړونه.
- په بیلانس جوړونه کې د محاسبو پرنسیپونه.
- د صنعتي او تجارتي بیلانسونو جوړښت
- د اکتیف او پسیف، به باره کې تحلیلي معلومات.

بیلانس جوړونه

د دې لپاره چې د بیلانس د ترتیب په ترڅ کې له کومو ستونزو سره مخ نشو، د حساب د عملي اجرآتو په صورت کې دغه لارښـود په نظر کې نیول کیږي. که چیرته د بیلانس د ترتیب په صورت کې د دغه لار ښود مطابق کړنه وشي، له شکه پرته چې د بیلانس د ترتیب پروسه به مو له کومې اشتباه یا تیروتنې پرته تر سره کړې وي.

پـه لومړي قدم کـې د افتتاحیه بیلانس لومړۍ موجودې د تیر کال له موجودې څخه داسـې ترتیـب کـوو چې داراېي د بیلانس په اکتیف لوري او سرمایه او دیـون یا liabilities د موازنې په موخه د بیلانس شیټ په پسیف یا غیر فعال لوري کې ثبت شي چې د بیلانس شیټ اکتیف لوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه له پســیف لوري سره مســاوي وي . که چیرته سرمایه نامعلومه وي، د دارایي له مجموعې څخه پورونه منفي کوو او د لاندې فورمول په واسطه سرمایه تر لاسه کیږي.

سر جمع دارایي – پورونه = سرمایه

هغــه تجــارتي او صنعي معاملات چې د فعالیت په جریان کې صورت نیسي، په ژورنال کې یې په ســم ډول ثبت کیږي او له هغه وروســته را کړل شوي معاملات اړوند دفاترو ته رسول کیږي. د معاملاتــو له ثبت کیدلو وروســته په لومړي سر کې مصارفاتي دفاتــر او حاصلاتي دفاتر سره موازنه کیږي. د دغو دفاترو پاتې یا توپیر د فعالیت ځای پایلې ته چې د ګټې او ضرر د حســاب په نامه هم یادیږي انتقالوو. د غه پایلې د ګټې او ضرر دحســاب د تثبیت په موخه ، داســې نقل کوو چې مصارفــاتي دفاتر په ډبټ لوري کــې او حاصلاتي دفاتر د نوموړي دفتر به کریډیټ لوري کې ولیدل شي. له هغه وروسته د ګټې او ضرر د حساب پایله سرمایې ته لیږدول کیږي . که چیرته د ګټې او ضرر د حســاب پایله د شرکت د مفاد ښــودنه وکړي، بقیه یا توپیر یې د ګټې او ضرر د حســاب د ډبټ له لوري ښوول کیږي او کریډیټ لوري ته سرمایه لیږدول کیږي، خو که چیرته د ګټې او ضرر حســاب په دې دوره کې زیان یا تاوان کړی وي، نو توپیر یا بقیه یې د ګټې او ضرر د حســاب په کریډیټ لوري کې ښوول کیږی چې باید ډبټ لوري ته سرمایه و لیږدول شي .

له دې وروسته د دارایي، دیونو او سرمایې حسابونه موازنه کیږي او همدغه دی چې ټول دفاتر تثبیت کیږي. ځنګه چې د دارایي د حسابونو توپیر یا بقیه د اختتامیه بیلانس په اکټیف لوري کې ثبت کیږي او د دیونو او سرمایې د حســابونو توپیر د اختیامیه بیلانس په پســیف لوري کې ثبت کیږي نو په دې توګه باید اختتامیه بیلانس هم د موازنې یا تعادل حالت ولري یعنې اکټیف لوری یې له پسیف لوري سره برابر وي چې په دې توګه بیلانس جوړیږي.

همدا شان ویلای شو چې د بیلانس د ترتیب په صورت کې لاندې مراحل په نظر کې نیول کیږي:

د بیلانس جوړولو مراحل

۱- د اقتصادي معاملاتو په برخه کې د تحلیلونو او معلوماتو را ټولول.

۲- په حسابي ژورنال یا د حسابونو په دفتر کې د معاملاتو ثبت.

۳- له ژورنال څخه لیجر ته د ارقامو انتقال.

۴- د ازمایشي بیلانس ترتیب کول.

۵- د مالي حساب د صورت ترتیب او اختتامیه بیلانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحليل او معلوماتو راټولول.
د اسنادو منبع له هغو اثباتيه مدارکو څخه عبارت دی چې د يوې تر سره شوې معاملې له حقيقت سره ترلاو لري.

د معلوماتو او تحليلونو را غونډول

د يوې اقتصادي معاملې تر سره کيدل د اثباتيه مدارکو د سند د منبع په توګه اسانتيا برابروي. رسيدونه، بيجکونه، او د بانکي حساب صورتونه د منبع د اسنادو د نمونې په توګه وړاندې کولای شو. د اقتصادي معاملاتو د شننې يا تحليل په مټ کولای شو په حسابي معادله کې د معاملې اغيزې تعين کړای شو.

په ژورنال او عمومي ژورنال کې د محاسباتو ثبت
- په ژورنال کې لمړنۍ معاملات ثبت کيږي
- ژورنال د معاملاتو له تاريخ لرونکي فهرست څخه عبارت دی

حميد عينک پلورنځی

عمومي ژورنال

تاريخ	حساب او د ماخذ توضيحات	ډبټ	کرډيټ
۱- جنوري	نغدي وجوه	50000Af	
	خالصه دارايي		500000Af
	مالک		
	په معاملاتو کې دلمړنۍ سرمايې ثبت		
۱- جنوري	موجودی	4500Af	
	نغدي وجوه		3000Af
	د تادیې وړ حسابات		1500Af
	د خريداري شويو اجناسو ثبت		
	موجودی		
۱- جنوري	ځمکه	2000Af	
	نغدي وجوه		2000Af
	د تادیې وړ		18000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

	د خريداري د معاملې ثبت		
	ځمکه		
۱- جنوري	پېشکي حق البيمه	2400Af	
	نغدي وجوه		**2400Af**

د ژورنـال اندراجونه يـا journal entries په لومړی سر کې په عمومي ژورنال کې شـامل او جوړيږي. عمومي ژورنال د معاملاتو هغه تاريخ لرونکی فهرست دی چې د مالي حسابونو صورت متاثر کولای شي. د (تاريخ لرونکي) اصطلاح د زماني ترتيب له مخې د معاملاتو د اجرا حکايت کوي. په ژورنال کې د اندراج يا entry په توګه هر ډول ثبت کيدنه د ژورنال د اندراج په نامه يادېږي.

په عمومي ژورنال کې لمړنۍ کرښې د معاملاتو د تر سره کيدلو د تاريخ ښوونه کوي. په دوهمه کرښـه کې کريډيټ شـوي يا ډبټ شوي حسـابونه له لنډو توضيحاتو سره مشخص کيږي. دريمه کرښه د ريفرينس (د منبع د حساب کوډ يا نوم)په توګه د يوه ځانګړي حساب ښوونه کوي.

کله چې په وروستي پراو کې د ژورنال اندراج يا journal entries انفرادي حساب ته و ليږدول شي، د حسابونو په شمير کې يو ريفرنس اضافه کيږی چې د اندراج د انتقال څرګندونه کوي. دغه حسـاب د «T- Accounts» په نامه هم يادېږی چې په لنډه توګه به د دې مقدمې په پای کې د حسابي دفتر يا ليجر تر عنوان لاندې بحث ور باندې وشي.

په آخر کې دوه ستونونو يا اساساتو ته د کريډيټ يا ډبټ د مبالغو ښوونه کوي.

د محاسبې سيکل(دوران)
- ليجر ته د معلوماتو انتقال د محاسبې د سايکل دريم قدم ګڼل کيږي.

د محاسبې سيکل او ليجر

په ليجر کې د معلوماتو ثبت کيدل د محاسـبې د سايکل دريم قدم ګڼل کيږي. په ليجر کې د حسابونو له جدول څخه د تصنيف په موخه د هر رقم د انتقال لپاره د حساب د نمرې له تفکيک څخه استفاده کيږي.

ليجر د ټولو حسـابونو مرکب دی چې دT په څير د ظاهري شـکل له کبله د (ټی د حساب په نامه مسمی شويدی).

همدا شان د تنظيم په موخه له يادو شويو حسابونو څخه د ژورنال په څير په چپ لوري کې مندرج شوي ارقام د کريډيټ وضعيت لرونکي دي. د ليجر د حسابونو شميرې د حسابونو د ماخذ يا منبع د کوډ نمايندګی کوي چې اصلي ارقام په کې درج او ترې انتقال شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هماغه ډول لکه د لیجر په حســابونو کې چې د ژورنال د حساب کود د ریفرنس په توګه درج کیــږي، په دې مرحله کې په عمومي ژورنال کې د حســابونو کوډ د ریفرینس په ســتون کې درج کیږي او په دې توګه عمومي ژورنال ته د ارقامو د انتقال پروسه بشپړیږي.

د لیجر او محاسبې سیلکل (دوران)	
CASH	**Account # 100**
Date Comments Ref Debit Amount Jan 1 intal Investment GJ-1Af 5000	Date Comments ReF Credit Amount Jan.1 Inventory GJ-1Af3000 Jan.1 Land GJ-1Af 2000 Jan.1 Insurance GJ-1Af2400
Total Af50000 Balance Af 42600	Total Af 7400
INVENTORY	**ACCOUNT # 140**
Date Comments ReF Debit Amount Jan.1 GJ-1Af4500 Total Af4500	Date Comments ReF Debit Amount
IAND	**ACCOUNT # 170**
Date Comments ReF Debit Amount Jan.1 Cash GJ-1Af2400 Total Af2400	Date Comments ReF Debit Amount
ACCOUNTS PAYABLE	**ACCOUNT # 200**
Date Comments ReF Debit Amount	Date Comments ReF Debit Amount Jan.1 Invetory GJ-1 Af1500 Total Af1500
MORTGAGE PAYABLE	**ACCOUNT # 270**
Date Comments ReF Debit Amount	Date Comments ReF Debit Amount Jan.1 Hand GJ-1 Af18000 Total Af18000
OWNERSEQUITY	**ACCOUNT #300**
Date Comments ReF Debit Amount	Date Comments ReF Debit Amount Jan-1 Initial Investment GJ-1Af50000 Total Af50000

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسابونو د جدول په اړه نظر

د حسابونو جدول د محاسبې په سیکل(دوران) کې خورا مهم نقش لري او په واسطه یې هر حساب د هغه د اړوند شمیرې له مخې تصنیف کیږي.

د حســابونو جدول د محاســبې په سیکل کې خورا مهم نقش لري او په واسطه یې هر حساب د هغــه د اړوندې شــمیرې له مخې تصنیف کیږي. دغې موضوع ته لــه کتنې پرته چې ګواکي له کمپیوټري حســابي سیستم څخه تثبیت د اړوند مالي حساب د صورت د ترتیب لپاره استفاده وشي، د حساب شمېره د محاسبې په پروسه کې د ریفرینس د شمېرې تشخیص اسانه کوي.

د داراپې حسابونه 199 - 100

د دیونو حسابونه 200 - 299

د خالصې دارایي حسابونه 300 - 399

د عوایدو او مفاد حسابونه 400 - 499 د ضرر او مصارفو حسابونه 500 – 599

پاملرنه: په12 مه برخه کې په تفصیل سره مطالعه کیږي.

آزمایشي بیلانس

- آزمایشي بیلانس یا trail balance د لیجر له حسابونو څخه ترکیب شوی دی
- له ازمایشي بیلانس څخه د حسابونو د تدقیق او تصدیق په موخه استفاده کیږي.

آزمایشي بیلانس

پــه ازمایشي بیلانس کې د لیجــر د اندراجونو(مندرج ارقام) یا entries له تعدیل وروســته د حســابونو بیلانس لســت کیږي. له ازمایــشي بیلانس څخه د کریډیټ او ډبــټ د موازنې د ډاډ او اطمینان او همدا شــان د حســابونو د بیا څلې بررســۍ په موخه استفاده کیږي تر څو د محاسبې دسیکل د راتلونکې مرحلې لپاره نهایي اندراجونه تنظیم شي.

شرکتونه د کال په ختمیدلو برسیره، په میاشتني ډول هم ازمایشي بیلانسونه ترتیب کوي.

د لیجر هر حساب ازمایشي بیلانس ته انتقالیږي.

د مالي حسابونو صورت

د عوایدو د حسابونو او د بیلانس شیټ د نغدي حسابونو له صورت څخه عبارت دی

د عوایــدو صورت یا statement د یوې تجارتي موســســې د معاملاتــواو فعالیتونو پایله په یوه معین وخت کې په ډاګه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس جوړولو او محاسبې پرنیسپونه

د بیلانس او محاســبې قانوني اساســات: څنګه چې په شرکتونو کې ګڼ شــمېر ورځني مالي او اقتصادي معاملات صورت نیسي او شرکتونه د نورو شرکتونو، دولت، بانکونو او داسې نورو په څېر لــه یــو لړ مراجعو سره اړیکې لري. نو په دې اســاس د شرکت په داخل او خــارج کې دجانبینو د حقوقو د تامین په موخه باید حســابي دفاتر شــتون ولري تر څو د معاملې هیڅ لوری هم ضرر و نه ویني.

له همدې کبله قانون په ټولو شرکتونو او موسســاتو کې د محاســبې د موجودیت حکم کوي، چې د افغانستان د تجارت قانون هم د محاسبې په اړه دقیق مقررات وضعه کړی دي. د افغانسان د تجارت په قانون کې درج شوي مقررات په لاندې ډول دي:

– ټول معاملات داسنادو په اساس ثبت کیږي او محاسبوي دفاتر او بیلانس باید له ثبت څخه تر پنځلسو کلونو پورې وساتل شي.

– د اشتباهاتو او تیروتنو د اخلاص په موخه په یاد شوي قانون کې ذکر شوې دي، چې تیروتنې دې په خپل حال پریښــودلې شي او یوازې یوه نازکه کرښــه دې ورباندې را کش شي او د موضوع د صحت په اړه دې په ملاحظات کې معلومات ورکړل شي.

– حســابي جریان د کال په اخیر کې تړل کیږي او پایلې یې ټولو شریکانو او معامله دارانو ته ابلاغ کیږي.

– په یوه هیواد کې د محاســبې سیســتم متحد الشــکل وي تر څو د دولت، شریکانو او ټولو معامله دارانو لپاره د پایلې اســتخراج اســانه شي او د کنټرول په برخه کې یې مفتشینو ته اسانتیا ایجاد شي.

– هر تاجر مجبور دی، چې درې دفاتر ولري، د ژورنال دفتر، د لیجر دفتر او د دارایی دفتر.

د محاســبې اصــول په حقیقت کې د یوه تجاري شرکت یا موسســې د مــالي وضعې او موقف څرګندوونکی دی، په دې معنا چې د شرکت تجاري موقف او مالي وضعه د محاسبې د معاملاتو په واسطه ترتیب او تثبیت کیږي. د دې لپاره چې ورته اطلاعات د ټولو علاقمندانو لپاره ورته مفهوم پیاده کړي، پکار ده چې محاسبین لاندې اصول په نظر کې و نیسي.

د ملي ژبې او پولي معیار اصل

ټول حســابي معاملات باید د هیواد په ملي ژبه لیکل شوي وي او دمملکت په داخل کې له پولي سیستم سره سنجش او افاده شي. له دې څخه پرته ټوله دارایي، پورونه او سرمایه چې د خارجي پیسو په ډول سنجش شوي وي، په دفاترو کې د ثبت وړاندي او د جمع کېدلو او مقایسې وړتیا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– **د ټام شـــوي قيمت اصل:** معمولاً په دفاترو کې د شرکتونو ټولې دارايي د ټام شـــوي قيمت له مخې ثبت کيږي. دا يو مســـلم امر دی چې ثبت شـــوی قيمت د ورځې له قيمت سره مطابقت نـــه لـــري ځکه قيمتونه د بيلابيلو علتونو له کبله د تل لپاره نوې بڼه لري. په يوه هيواد کې د ثبت تر ټولو غوره قيمت هماغه ټام شوي قيمت دی ځکه محاسب مجبور نه دی چې د کال په اوږدو کې د قيمت له بدلونه وروسته په خو ځلي توګه دفاتر اصلاح کړي.

– **د محاســبې د حقايقو د افشــاء اصل:** محاســبه بايــد د مادې حقيقــت او د شرکت د مالي وضعيت په اړه له مالي حســابونو سره په تړاو ټول اړوند يادداشــتونه او احصايوي اطلاعات په ډاګه کړي. په مالي دوره کې احتمالي پورونه او د هغوی د امثالو احتمالات بايد واضح شي او د حســاب د صورت په ضمايمو کې منعکس شي.

د موجودي کولو اصل

پــه کار ده دغه اصــل د مالي کال په اوږدو کې په معينو وقفو کــې صورت ونيسي، خو د کال اخيرې موجودي حتمي ده، ځکه د موجودۍ د لست د نشتوالي په صورت کې د بيلانس جوړېدل امکان نه لري.

په ټوله دارايي او مصارفو کې زياتوالی د حساب په ډبټ لوري کې او کموالی يې په کريډيټ لوري کې درج کيږي. برعکس په ټولو ديونو، شــخصي سرمايې او عوايدو کې زياتوالی په کريډيټ لوري کې او کموالی يې په ډبټ لوري کې معامله کيږي.

همدا شان د ونډې والو يا Share Holders په سرمايه او نا توزيع شوي مفاد کې را منځته شوی زياتوالی په کريډيټ لوري کې او کموالی يې په ډبټ لوري کې درج کيږي، خو د شريکانو تر منځ توزيع شــوی مفاد او د هغه کموالی په کريډيټ لوري کې معامله کيږي. د محاســبې د سيستم په برخه کې د زياتې لارښونې په موخه لاندې شکل ملاحظه کړئ.

د کريډيټ نورمال بيلانس Normal Balance Credit

Liability Account **د حساب**	
Credit Increase زياتوالی	Debit Deorease کموالی
Steck holders Account **د شريکانو د سرمايې حساب**	

(c) ketabton.com: The Digital Library

Debit Deorease کموالی	Credit Increase زیاتوالی

Revenue Account د عوایدو حساب	
Debit Deorease کموالی	Credit Increase زیاتوالی

Asset Account د دارایي حساب		Expense Account د مصارفو حساب	
Debit Decrease کموالی	Credit Increase زیاتوالی	Debit Increas	Credit Decrease

د افتتاحیه او ازمایشي بیلانس جوړېدل

د ګټې او ضرر بیلانس، اختتامیه بیلانس او تحلیلي بیلانس

پوښتنه: د نقیب الله په تجارتي موسسه کې په 1387 کال کې لاندې اقلام موجود وو:

۱- موجوده نغدي پیسې 80000

۲-په بانک کې د موسسې دارایي 170000

۳- په شرکتونو باندې د موسسې طلبات 30000

۴- په اشخاصو باندې د موسسې طلبات 20000

د شرکت دیون او افتتاحیه بیلانس تر تیب کړئ او سرمایه یې تثبیت کړئ.

په دې برسیره د 1388 کال په جریان کې لاندې معاملات هم را منځته شویدي:

تاریخ

۱/۱ – د بانک له لوري تادیه شوې کرایه 6000

۲/۱- د تجارتي اعلاناتو لپاره تادیه شوی نغدي مبلغ 3000 .

۳/۱- د تلفون محصول چې په نغدي توګه تادیه شوی 80 افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴/۱- عواید تکتانه، د بانک د دارایي له درکه د بانک په حساب کې ثبت شوی 10870

۵/۱ – د بانک له لوري د سوخت اخیستل شوي مواد3600 افغانۍ.

۶/۱ – د بانک له لوري تادیه شوي اداري مصارف 1620 افغانۍ.

۷/۱- په نغدي توګه ترلاسه شوي د طلباتو تکتانه مبلغ14000Af

۸/۱- د یوې دعوي مصارف چې محکمې ته په نغدي توګه تادیه شوې مبلغ 2800افغانۍ

۹/۱- د بانک له لوري د برق تادیه شــوي مصارف 1450 افغانۍ، د حســابي مشاور لپاره تادیه شوي اجوره مبلغ ۲۲۰۰ افغانۍ.

۱پورتنــي مصارف په ژورنال کــې ثبت کړئ، د حاصلاتو او مصرف لپــاره یې په جلاجلا ډول ترتیب کړئ.

۱- نتیجوي حسابونه بند کړئ او د ګټې او ضرر حساب ترتیب کړئ.

۲- د ګټې او ضرر د حساب اخیري پایله سرمایې ته انتقال کړئ.

۳- د لیجرونو حسابونه وتړئ ، پاتې تثبیت کړئ او اختتامیه بیلانس ترتیب کړئ.

شمېره	د حسابونو نوم یا لیجر	L / F	Passive	Active
	له نغدي حساب څخه	4		80000
	له بانکي حسابداري څخه	5		170000
	په شرکتونو طلباتو له حساب څخه	6		30000
	د اشخاصو د طلباتو له حساب څخه	7		20000
	د پورونوله حساب څخه	8	140000	
	سرمایه	9	160000	
	مجموعه		**300000**	**003000**

د دوکان د کرایې حساب ته Dr د بانک له حساب څخه Cr	7 1	1	6000	6000
د متفرقه مصارفو حساب تهDr له نغدي حساب څخه Cr	6 2	3	3000	3000
د تلفون د مصارفو حساب تهDr له نغدي حساب څخهCr	7 2	4	80	80

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بانکي دارايي حساب ته Dr د تکتانه عوايدو له حساب څخه Cr	1 8	5	10870	10870
د متفرقه مصارفو حساب ته Dr د بانک له حساب څخهCr	6 1	6	3600	3600
د اداري مصارفو حساب ته Dr د بانک له حساب څخه Cr	10 1	7	1620	1620
نغدي حساب ته Dr د تکتانه عوايدو له حساب څخه Cr	2 8	8	14000	14000
د متفرقه مصارفو حساب ته Dr له نغدي حساب څخه Cr	6 2	9	2800	2800
د برق د مصارفو حساب تهDr د بانک د دارايي له حساب څخه Cr	9 1	10	1450	1450
د متفرقه مصارفو له حساب څخه Dr له نغدي حساب څخه Cr	6 2	11	2200	2200

۱ ليجر: بانک

تاريخ	تفصيلات	L/F	مبالغ	تاريخ		L/F	مبالغ
1/1	د دوکان د کرايې حساب ته	1	6000	1/1	د بيلانس له حساب څخه	1	170000
1/5	د متفرقه مصارفو حساب ته	1	3600	1/4	د تکتانه عوايدو له حساب څخه	1	10870
1/6	د دارايي د مصارفو حساب ته	1	1620				
1/9	د برق د مصارفو حساب ته	1	1450				
	د بيلانس د ختم حساب ته	1	168200				
مجموع			**180870**				**180870**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ ليجر : نغدي پيسې **Dr** **Cr**

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/2	متفرقه حساب ته	1	3000	1/1	له افتتاحیه حساب څخه	1	80000
1/3	د مصارفو حساب ته	1	80	1/7	د تکتانه عوایدو له حساب څخه	1	14000
1/8	د متفرقه مصارفو حساب ته	1	2800				
1/10	د متفرقه مصارفو حساب ته	1	2200				
1/30	د ختم بیلانس ته	1	85920				
مجموع		**94000**		**مجموع**			**94000**

Cr ۳ليجر : د شرکتونو طلبات **Dr**

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د بیلانس د ختم حساب ته	1	30000	1/1	د افتتاحیه بیلانس له حساب څخه	1	30000
مجموع		**30000**		**مجموع**			**30000**

۴ Cr ليجر : د اشخاصو طلبات **Dr**

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د بیلانس د ختم حساب ته	1	168200	1/1	د افتتاحیه بیلانس له حساب څخه	1	20000
مجموع		**168200**		**مجموع**			**20000**

Cr ليجر ۵: ديون Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د افتتاحیه بیلانس حساب ته	1	140000	1/1	د ختم د بیلانس له حساب څخه	1	14000
مجموع		**140000**		**مجموع**			**140000**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ Cr ليجر: د دوکان کرايه Dr

تاريخ	تفصيلات	L/F	مبالغ	تاريخ		L/F	مبالغ
1/30	د ګټې او ضرر حساب ته		6000	1/88	د بانک د دارايي له حساب څخه	1	6000
مجموع			**6000**		**مجموع**		**6000**

۷ليجر : د تيلفون مصارف Cr Dr

تاريخ	تفصيلات	L/F	مبالغ	تاريخ		L/F	مبالغ
1/30	د ګټې او ضرر حساب ته		80	1/3	له نغدي حساب څخه	1	80
مجموع			**80**		**مجموع**		**80**

۸ ليجر : متفرقه مصارف Cr Dr

تاريخ	تفصيلات	L/F	مبالغ	تاريخ		L/F	مبالغ
1/30	د ګټې او ضرر حساب ته	1	11600	1/2	له نغدي حساب څخه	1	3000
				1/5	د بانک له حساب څخه	1	3600
				1/8	له نغدي حساب څخه	1	2800
					له نغدي حساب څخه	1	2200
مجموع			**11600**		**مجموع**		**11600**

۹ Cr ليجر : تکتانه عوايد Dr

تاريخ	تفصيلات	L/F	مبالغ	تاريخ		L/F	مبالغ
1/30	د بانک د دارايي حساب ته	1	10870	1/2	د ګټې او ضرر د حساب له بيلانس څخه	12	24870
	نقدي حساب ته	1	14000	1/5			
مجموع			**24870**		**مجموع**		**24870**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰ لیجر : د برق مصارف Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د ګټې او ضرر حساب ته	12	1450	1/9	دبانک له حساب څخه	1	1450
مجموع			**1450**	**مجموع**			**1450**

۱۱ لیجر : د دارایي مصارف Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د ګټې او ضرر حساب ته	12	1620	1/9	دبانک د داراېې له حساب څخه	1	1620
مجموع			**1620**	**مجموع**			**1620**

۱۲ لیجر : تکتانه طلبات Dr Cr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	نغدي حساب ته		14000	1/30	د ګټې او ضرر له حساب څخه	1	14000
مجموع			**14000**	**مجموع**			**14000**

۱۳ لیجر : مفاد او ضرر د ګټې او ضرر بیلانس Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د بانک د تکتانه عوایدو حساب ته	8	10870	1/30	د دوکان د کرایې له حساب څخه	6	6000
1/30	د تکتانه طلباتو حساب ته	11	14000	1/30	د متفرقه مصارفو له حساب څه	5	11600
				1/30	د تیلفون د مصارفو له حساب څخه	7	80

(c) ketabton.com: The Digital Library

1450	9	د برق د مصارفو له حساب څخه	1/30				
1620	10	د اداري د مصارفو له حساب څخه	1/30				
4120	13	د شخصي سرمايې له حساب څخه	1/30				
24870		**مجموع**		**24870**		**مجموع**	

۱۴ ليجر : سرمايه Cr Dr

مبالغ	L/F		تاريخ	مبالغ	L/F	تفصيلات	تاريخ
164120	1	د بيلانس د ختم حساب ته	1/30	160000	1	د افتتاحيه بيلانس حساب ته	1/30
				4120	12	د ګټې او ضرر حساب ته	
164120		**مجموع**		**164120**		**مجموع**	

Cr اختتاميه بيلانس Dr

Active	Passive	L/F	د حسابونو نوم يا ليجر	شماره
85920		2	د نغدو په برخه کې	1
168200		1	د بانک د دارايي په برخه کې	2
50000		4-3	د طلباتو په برخه کې	3
	140000	14	د پورونو يا قرضې په برخه کې	6
	164120	13	د شخصي سرمايې په برخه کې	7
304120	**304120**	**مجموع**		

مثالونه:

لانـدې معامـلات په ژورنال کې درج کړئ او هريو يې د ليجـر او ازمايشي بيلانس په بيل بيل حساب کې ترتيب کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1991

Jun 1- په نغدو پیسو د امتعې دخریداری مبلغ 2000

Jun 3- په کریم باندې په قرضې ډول دپلورل شوې امتعې مبلغ 500

Jun 10- له کریم څخه نغدي پیسې حصول شوي 1000

Jun 15- په نغدو پیسو باندې ماشین الات خریدارې شول 1000

Jun 20- په نغدو پیسو باندې امتعه و پلورل شوه 300

Jun 25- په رحیم باندې امتعه وپلورل شوه مبلغ 600

Jun 28- له رحیم څخه 590 نغدي پیسې حصول شوي چې مبلغ 110 هغه ته تخفیف ورکړل شو.

Jun 30- له کریم څخه 150 افغانی کرایه تحویل کړه

Jun 31- ورکړل شوي معاشات مبلغ 100

د احمد ژورنال

تاریخ	تفصیلات	د لیجر صفحه	شماره بل	ډبټ مبالغ	کریډیټ مبالغ
1991/1/1	د خریداري حساب ته له نغد حساب څخه			2000	2000
1991/1/3	د کریم حساب ته د امتعې د پلور له حساب څخه			500	500
1991/1/10	د نغدو حساب ته د کریم له حساب څخه			500	500
1991/1/15	د ماشین آلاتو حساب ته له نغد حساب څخه			1000	1000
1991/1/20	نغدي حساب ته د امتعې د پلور له حساب څخه			300	300
1991/1/25	د رحیم حساب ته د امتعې د پلور له حساب څخه			600	600
1991/1/28	نغدي حساب ته د رحیم له حساب څخه			590	600
1991/1/30	د کرایې حساب ته له نغدي حساب څخه			50	50

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خریداری لیجر Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
1/30	د ازمایشي بیلانس حساب ته		2000	1991/1/1	له نغد حساب څخه	1	2000
مجموع			**2000**	**مجموع**			**2000**

نغدي لیجر یا (کتاب نقده) Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
Jun1	د امتعې د خریداري حساب ته		2000	Jun 10	د کریم له حساب څخه	1	500
Jun15	د ماشین د خریداري حساب ته		1000	Jun 20	د امتعې د پلور له حساب څخه		300
Jun30	د کرایې حساب ته		50	Jun 28	د رحیم له حساب څخه		590
Jun31	د معاشاتو حساب ته		100		د ازمایشي بیلانس له حساب څخه		1790
			3150				**3150**

Cr د خریداري لیجر Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
Jun10	نغدي حساب ته		500	Jun 3	له نغدي حساب څخه	1	500
مجموع			**500**				

هر کله چې په هر بیلانس کې په کافي اندازه کریدت ایښـي وي دغه صورت د location a/c

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا کېنل شــوي حســاب په نامه یادیږي او په ازمایشي بیلانس کې ثبت کیږي. څکه چې د بیلانس تفاوت په کې موجود نه وی.

د امتعې د فروشاتو لیجر Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
Jun10	د کریم حسابت		500		د ازمایشي بیلانس له حساب څخه		1400
Jun20	نغدي حساب ته		300				
Jun25	د رحیم حساب ته		600				
			1400				**1400**

د ماشین د حساب لیجر Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
	د ازمایشي بیلانس حساب ته		1000		له نغدي حساب څخه		1000
			1000				**1000**

د رحیم د حساب لیجر Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
	نغدي حساب ته		590				
	د تخفیف حساب ته		10				
				Jun20	د امتعې د پلور له حساب څخه		600
	600				**600**		

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تخفیف د حساب لیجر Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
	د ازمایشي بیلانس حساب ته		10	Jun30	د رحیم له حساب څخه		10
			10				**10**

د کرایې د حساب لیجر حساب Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
	د ازمایشي بیلانس حساب ته		50	Jun30	له نغدي حساب څخه		50
			50				**50**

د معاشاتو د حساب لیجر Cr Dr

تاریخ	تفصیلات	L/F	مبالغ	تاریخ		L/F	مبالغ
	د ازمایشي بیلانس حساب ته		100	Jun31	له نغدي حساب څخه		100
			100				**100**

آزمایشي بیلانس Trail Balance

شماره	اسم یا حساب لیجر	کریدت (Cr)	ډبټ (Dr)
1	نغد حساب		94590
2	شخصي حساب	100000	
3	د امتعې د خریداري حساب		3500
4	د فرنیچر حساب		2000
5	د کریم حساب		100

(c) ketabton.com: The Digital Library

6	د امتعې د پلور حساب	3000	
7	د معاشاتو حساب		500
8	د سليم حساب	1000	
9	د نعيم حساب		500
10	د برقي مصارفو حساب		30
11	د کرايې حساب		80
12	د شخصي حساب برداشت		2700
د بيلانس مجموعه		**104000**	**104000**

د بيلانس د اکټيف Active او پسيف (Passive) په برخه کې تحليلي معلومات

بيلانس په لغت کې د اکټيف او پيسيف اقلامو موازنه کولو، يا د هغوی تر منځ د توازن منځته راوړلو ته ويل کيږي، ځکه بيلانس له اکټيف او پسيف اقلامو څخه تشکيل شوی دی چې په لاندې ډول تشريح کيږي:

۱- اکټيف (Active): اکټيف په لغت کې د فعال معنا ورکوي خو د محاسبې په اصطلاح کې د سرمايې په هغو ټولو اقلامو باندې اطلاق کيږي چې د فعاليت په حال کې وي. اکټيف برخه له لاندې موادو څخه تشکيل شوې ده:

دارايي يا Assets: دا رايي له هغو ټولو اموالو او امتعې څخه عبارت ده چې د شرکت په واک کې وي ، همدا شان پولې او حقوقې مسايل دي چې له شرکت سره تړاو لري او شرکت يې د مالک په توګه پيژندل کيږي لکه ثابته دارايي او سياره دارايي.

الف-ثابته دارايي يا (Fixed asset): دا له هغې دارايي څخه عبارت ده چې د شرکت څښتن په مکرره توګه تري استفاده کولای شي او يا د دارايي له هغو ثابتو اقلامو څخه عبارت ده چې د فعاليت په دوران کې ترې استفاده کيږي او طولاني عمر ولري چې معمولاً دغه اوږدوالی تر يوه کال زيات وي او د استفادې او استعمال له کبله ورو ورو يا تدريجاً استهلاک کيږي لکه تعمير، ځمکه، ماشين الات، ترانسپورتي وسايل او داسې نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب- سـیاره دا اریي یا جـاري دارایي یا (Current asset): دا لــه هغې دارایي څخه عبارت ده چې نســبتاً قابل تغیر وي او دوباره یې په پیســو باندې د بدلیدلو امکان وي او د یوه کال په اوږدو کې په مصرف ورسیږي. په بل عبارت جاري دارایي له هغې دارایۍ څخه عبار ت ده چې په ځانګړې توګه عارضي وي او په همدې اســاس نســتباً په یوه لنډ وخت کې په پیسو باندې بدله شي لکه نغدي پیسې، تر لاسه کیدونکي حسابونه، د ګدام موجودي او داسې نور.

ج- حقوقــي دارایــي: د اد شرکت له مالي حقوقو څخه عبــارت ده چې په نورو باندې لازم وي لکه حق الامتیاز، حق الاختراع، سرقلفي او داسې نور.

۲- پســیف (Passive): پســیف په لغت کې غیر فعال او ټمبل ته ویل کیږي خو په حســابي اصطلاح کې Passive دبیلانس شــي لوري ته ویل کیږي چې د سرمایې د منابعو شــودنه کوي لکه شخصي سرمایه، خارجي سرمایه.

الف: سرمایه یا (Capital): دا د شرکت د څښــتن یا څښــتنانو له حق څخه عبارت ده. په بل عبارت سرمایه له هغو نغدو پیسو یا امتعې څخه عبارت ده چې سوداګر د خپلې سوداګرۍ شغل وربانديې پیل کړی وي.

ب: دیون یا Liability: دا د شرکت له هغو قرضونو څخه عبارت ده چې شرکت یې د پریکولو یا مجراکولو مکلفیت لري. دغه ډول قرضونه په دریو برخو باندې وېشــل شوي دي چې په ترتیب سره له اوږد مهاله قرضونو، منځمهاله قرضونو او لنډ مهاله قرضونو څخه عبارت دي.

۱- قصیر المدت دیون یا Short term liabilities: دا له هغو پورونو څخه عبارت دي چې په لنډه موده معمولاً یوه کال یا یوه مالي دوره کې تادیه کیږي او دغه تادیه تر ډیره بریده له سیارې سرمایې څخه ورکول کیږي.

۲- متوســط المدت دیون یا Medium term liabilities: دا له هغو پورونو څخه عبارت دي چې نسبتاً په اوږده موده کې بیرته ورکول کیږي یعنې د بیرته ورکولو موده یې معمولاً له یوه کال څخه تر پنځو کلونو پورې رسیږي او شرکت یې د بیرته وکولو مکلفیت لري.

طویــل المــدت دیون یا Long term liabilities: دا له هغــو پورونو څخه عبارت دي چې په خــورا اوږده مــوده کې بیرته ورکول کیږي یعني د بیرته ورکولــو موده یې له پنځو کلونو څخه تر پنځه ویشتو کلونو پورې رسیږي چې باید په دې موده کې بیرته مجرا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصي سرمايه په دريو برخو باندې وېشل شويده:

۱- د سرمايې سهم: د نشر شويو اسهامو يا وندې رويتي يا اسمي ارزښت.

۲-پـــه سرمايه برســـيره اضافي پرداخت: دا هغه مبلغ ته ويل کيږي چې د اســـهامو په اســـمي ارزښت باندې ور علاوه کيږي.

۳-ناتوزيع شوی مفاد: دا هغه مفاد ته ويل کيږي چې تر اوسه پورې نه وي توزيع شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څلورم څپرکي لنډيز

۱.د بيلانس جوړولو مراحل په لاندې ډول په نظر کې نيول کيږي.

– د اقتصادي معلاتو په برخه کې د تحليل او معلوماتو را ټولول.

– په حسابي ژورنال کې د معاملاتو ثبت کول.

– له ژورنال څخه ليجر ته د ارقامو انتقال.

– د مالي حساب د صورت ترتيب يا اختتاميه بيلانس.

۲.د حسابونو د تړل کيدو له پروسې وروسته ازمايشي بيلانس Post- Closing Trail Balance:

لکــه مخکې چې هم ورنه يادونه وشــوه ، يــو آزمايشي بيلانس په ژرونال کــې د معاملاتو له ثبت کولو او ليجر ته د هغوی له انتقال وروســته ترتيب کيږي. دوهم ازمايشي بيلانس له تعديلي معاملاتو وروســته چې ليجر ته اســتول کيږي، ترتيب کيږي او د (تعديل شوي ازمايشي بيلانس) په نامه يادېږي. دريم ازمايشې بيلانس د حسابونو له تړل کيدلو وروسته په نظر کې نيول کيږي چې د (حســابونو د پای ازمايشي بيلانس) په نامه يادېږي. دغه بيلانس د ګټې او ضرر حســاب ته د کريډيټ او ډبټ د انتقال ښودنه کوي. د حسابونو د پای ازمايشي بيلانس يوازې د واقعي حسابونو دارايي يعني دارايي، ديون يا liabilitiesاو او شخصې سرمايې لرونکی وي.

۳.د ګټې او ضرر د حســاب يا بيلانس په ترتيب کې ټول مصارف ډبټ لوري ته او ټول عوايد په کريډيــټ لــوري کې ثبت کيږي. که چيرته بيلانس په ډبټ لوري کې وښــودل شي، نو مفاد منځته راغلی دی او که په کريډيټ لوري کې وښــودل شي ضرر منځته راغلی دی او توپير يې سرمايې ته ليږدول کيږي.

۴.اختتاميه بيلانس چې په يوه مالي دوره کې د شرکت د مالي وضعيت څرګندونه کوي، په کار ده چې اکټيف او پيسيو ارقام يکې مساوي وي.

۵.د بيلانس اکټيف لوري ته ټوله دارايي، نغدي پيســې، طلبات او موجوده امتعه ثبت کيږي او په پسيف لوري کې يې د سرمايې ډولونه او ديون ثبت کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څلورم څپرکي پوښتنې

۱. په بیلانس جوړولو کې کوم مراحل په نظر کې نیول کیږي، نومونه یې واخلی؟

۲. د سرمایې د ترلاسه کولو فورمول ولیکی؟

۳. د اقتصادي معلوماتو او تحلیلونو د را ټولولو په برخه کې خپل نظر بیان کړئ؟

۴. په عمومي ژورنال کې د محاسباتو ثبت څه ډول تر سره کیږي ، تحلیلي معلومات ورکړئ؟

۵. د تحلیلي محاسبې دایره رسم کړئ؟

۶. له ازمایشي بیلانس څخه څه ګټه اخستل کیږي، تحلیلي معلومات ورکړئ؟

۷. د مالي حساب صورت څه شی دی نوم یې وااخلئ؟

۸. د بیلانس شیټ په باره کې معلومات ولیکئ؟

۹. د بیلانس جوړوني پرنسیپونه تشریح کړئ؟

۱۰. د افتتاحیه بیلانس جوړښت رسم کړئ؟

۱۱. د ګټې او ضرر د بیلانس جوړښت رسم کړئ؟

۱۲. د ازمایشي بیلانس جوړښت رسم کړئ؟

۱۳. د بیلانس شیټ جوړښت رسم کړئ؟

۱۴. د بیلانس د اکټیف او پسیف برخو په باره کې تحلیلي معلومات ولیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس په اقلامو کې تغیر او تعویض

ټولیزه موخه:

په بیلانس کي د قیمت د تحول په اړه د بشپړ پوهاوي او وړتیا منځته راوړل.

د زده کړې موخې: د دې څپرکي په اوږدو کې به محصلین وکړای شي د لاندې مواردو په هکله معلومات تر لاسه کړي:

- اکتیفي تبادله (د دارایي د دوو اقلامو تر منځ تبادله).
- پسیفي تبادله (د سرمایې د دوو اقلامو تر منځ).
- په اکتیف او پسیف کې تزئید یا زیاتوالی (د بیلانس په دواړو لوریو کې تزئید).
- د بیلانس په اکتیف او پسیف کې تنقیص.

د بیلانس په قیمت کې تحولات

پسیف	بیلانس	اکتیف
افغانۍ		افغانۍ
465000 شخصي سرمایه		120000 د دفتر او کار ځای
50000 طویل المدت پوروته		300000 تکمیلي مواد
425000 دیون یا liabilities		540000 طلبات
		160000 نغدې پیسې
1120000		**1120000**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره یوه معامله د بیلانس د تغیر ســبب کیدی شي او د بیلانس تغیر په څلورو ډولونو صورت نیولای شي:

الف- اکټیفي تبادله یا (د دارایۍ د ددوو اقلامو تر منځ تبادله):

په دې صورت کې د بیلانس د دواړو لوریو مجموعه له کوم تغیر پرته باقي پاتې کیږي. د مثال په توګه د 100000 افغانیو په مقابل کې د تکمیلي موادو پیر د تکمیلي موادو په ارزښت کې هغه اندازه زیاتوالی راوستلای شي لکه په نغدو پیسو کې چې کموالی را منځته شوی دی.

ب- پسیفي تبادله یا: (د سرمایې د دوو اقلامو تر منځ تبادله) : په دې تبادله کې هم د بیلانس د دواړو لورو په ټوټل کې کوم تغیر نه را منځته کیږي.

د مثال په توګه: د یوه اړوند کس یا نهاد د موافقې په اســاس کیدی شي 125000 افغانۍ لنډ مهال قرض په اوږد مهاله هغه باندې بدل شي. په دې صورت کې په اوږد مهاله قرضونو کې هغه اندازه زیاتوالی رامنځته کیږي لکه په لنډ مهاله قرضونو کې چې کموالی رامنځته کیږي.

ج- په اکټیف او پســیف کې تزئید: په دې صورت کې دبیلانس په دواړو لوریو کې ورته اقلام اضافه کیږي چې په دې توګه د بیلانس په دواړو لوریو کې کوم توپیر نه تر سترګو کیږي.

د مثال په توګه: د 20000 قیمت په مقابل کې د دفتر د اساس یا موبل اخستل . د دې معاملې لــه کبلــه د دارایي په یوه برخه (د کار ځای او دفتر په تجهیزاتو)کې زیاتوالی را منځته کیږي، خو په ورته زمان کې په دیونو کې هم ورته زیاتوالی را منځته کیږي.

د- داکټیف او پســیف تنقیص یا کمښــت: په دې صورت کې د بیلانس په دواړو لوریو کې د مبالغو مساویانه تنقیص را منځته کیږي چې له کبله یې د بیلانس د دواړو لوریو مجموعې هم له ورته او مساوي تنقیص سره مخ کیږي.

د مثال په توګه که چیرته د شرکت کوم پوروړی 25000 قرض پرې کړي، نو په دې صورت کې خو په نغدو پیســو کې کموالی را منځته کیږي خو په څنګ کې په دیونو یا قرضونو کې هم ورته لږوالــی را منځته کیږي چې پــه دې توګه دبیلانس په دواړو لوریو کې ورته لږوالی را منځته کیږی خو د لوریو تر منځ یې کوم توپیر نه را منځته کړي.

- د مثالونو توضیح:

په دې صورت کې لیدل کیږي هر وخت چې متصدي وغواړي یو بیلانس افتتاح کولای شي خو په دې شرط چې د هغه اړوند اســناد په لاس کې ولري. وروســته له دې چې د غالیو تجارت خانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افتتاح شي، متصدي يو شــمير غالۍ په نغدو پيســو باندي پلوري. په دې ځای کې ليدل کيږی چې د غاليو له زيرمې څخه يوه اندازه غالۍ کميږي خو په مقابل کې يې د پيســو په ذخيره کې ورته زياتوالی را منځته کيږي.

د پورتنــي حالت برعکس که چيرته تاجر په نغدو پيســو باندې غالۍ واخلي نو په دې صورت کې يې د غاليو زيرمه زياتيږي خو په مقابل کی يې د نغدو پيســو زيرمه کميږي.خو که غالۍ په نغدو پيسو نه بلکې په فرضي توګه واخستل شي، په دې صورت کې د تاجر په قرضونو کې زياتوالی را منځته کيږي.

د پيــر او پلــور عمل يــا هغه ټولې معاملې چې پــه تجار او يا تجارتخانه پــوري اړه ولري، په محاســبه کې د معاملاتو د جريان په نامه يادېږي او د دغو معاملاتو د ارزښــت د جريان په اساس منځته راځي. په لومړني بحث کې مو توضيح کړه چې ارزشونه په پيسو سره تثبيت کيږي او حساب ته داخليږي چې د بيلانس او صورت د ترتيب په هکله يې پوهيدلي يو او را ته معلومه شــوې ده چــې ورځني معامــلات په بيلانس باندې کوم ډول تاثيرات واردوي. لکه چې په ياد لرو، مخکې مو ادعا وکړه د بيلانس دواړه ستونونو سره مساوي وي.

په دې ځای کې لومړي دوه امکانات يا شــونتياوې مشــاهده کــوو چې د بيلانس د مجموعي معاملاتو د منځته را وړلو له کبله تغير نه مومي.

۱- په مجموع کې د معاملاتو د ثبت د جريان له کبله په بيلانس باندې کوم اثر نه ليدل کيږي.

۲- د معاملاتو د ثبت د جريان له کبله د بيلانس په مجموعه يا ټوټل کې تغير را منځته کيږي.

پــه لومړي حالت کې دوه لارې موجــودې دي چې له کبله يې د معاملاتو جريان د بيلانس په مجموعه کې کوم تغير نشي واردولای.

الــف: کــه چيرته د بيلانس په اکټيــف لوري کې د بيلانس له اقلامو څخه د يوه قلم ارزښــت اوچت شي، د هماغه مبلغ په اندازه په اکټيف لوري کې د يوه بل قلم قيمت کميږي.

د مثال په توګه: مور په 5000 نغدو افغانيو باندې اثاثيه او تجهيزات وپېرل، په دې صورت کې د نغدو پيســو له زېرمې نه يو مقدار کميږي. يعنې د نغدو پيســو زيرمه 19000 افغانۍ وه خو د اثاثيې او تجهيزاتو له پيرلو وروسته د پيسو مقدار 85000 افغانيو ته کميږي، خو په مقابل کې يې د شرکت د اثاثيې او تجهيزاتو په ارزښت کې 5000 افغانۍ نور زياتوالی را غلی دی.

د معاملې د ورته جريان چې له کبله يې د بيلانس داکټيف ســتون دوه قلمونه تغير مومي د بيلانس په مجموع کې کوم تغير نه را منځته کوي. د محاسبې په بحث کې ورته معامله د اکټيف تعويــض پــه نامه يادېږي، په دې معنا چــې د اکټيف لوري د دوو قلمونو ارزښــت يو تر بله سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعویض شوی دی او د بیلانس مجموعه په خپل حال پاتې ده.

ب- که چیرته له محاسبوي اقلامو څخه د بیلانس په پسیف لوري کې د یوه قلم ارزښت لوړ شي، په هماغه اندازه په همدغه لوري کې د یوه بل قلم ارزښت کمیږي.

د مثال په توګه: د افغانستان بانک یو ځل خپل مشتري ته قرضه ورکړې وه او دوباره یې هم نومورې ته یو کریډیټ ورکړ. متصدي له بانکي کریډیټ څخه د خپل یوه دوست طلب تادیه کوي. په دې توګه د هغه بانکي کریډیټ د 255000 مبلغ په اندازه زیات شوی دی خو له بله لوري د هغه د دوست له طلب څخه 100000 مبلغ کم شوی دی. له پورتني مثال څخه جوتیږي چې بیلانس د ښي لوري په دوو محاسبوي اقلامو کې د معاملې ورته جریان یو ډول تغیر را منځته کوي خو د بیلانس په مجموعه کې کوم بدلون نه را منځته کوي یعنې د بیلانس مجموعه په خپل حال پاتې کیږي. دغه ډول معامله د پسیف تعویض په نامه یادیږي.

۲- د مجاسبوي معاملې له کبله د بیلانس په مجموع کې تغیر نه واقع کیږي.

الف: د بیلانس په مجموع کې زیاتوالی:

مثال: یو سوداګر د 30000 افغانیو په بدل کې یوه نوې غالۍ وپېرله او د خپلو غالیو په زېرمه کې یې ور اضافه کړ، خو د پیرل شوې غالۍ قیمت یې په نغدي توګه نه دی ورکړی، بلکې په قرضي توګه یې پیرلې ده، د ورته معاملې له کبله د اکتیف په ستون کې د غالیو د ګدام په حساب کې تغیر واقع کیږي او ارزښت یې له 35000 څخه 65000 ته لوړیږي. په ورته حال کې د پسیف په ستون کې یو قلم چې له غیر سرمایې څخه عبارت دی، هم تغیر کوي او په دې توګه یې حجم زیاتیږي. په ورته حالت کې سرمایه ورکوونکی د غالیو اخستونکی دی چې البته دغه مبالغ په خپل آندي توګه د شرکت په واک کې نه ورکوي بلکې د تجارتي تعامل له کبله یې خپلې غالۍ په پور پلورلې دي.

د پورتنۍ توضیح له کبله لیدل کیږي چې ورته ډول معاملې د بیلانس په مجموعه کې کوم تغیر نه را منځته کوي. د ورته معاملاتو له کبله د بیلانس په دواړو ستونونوکې د 30000 افغانیو په اندازه زیاتوالی منځته راغلی دی، یعنې د بیلانس په اکتیف کې د اموالو ذخیره د 30000 افغانیو په اندازه زیاته شوې ده او د بیلانس په پسیف ستون کې د داینو په لست کې د 30000 افغانیو په اندازه زیاتوالی را منځته شوی دی چې ورته ډول محاسبوي معامله د بیلانس توسعې یا زیاتوالي په نامه یادیږي.

ب- د بیلانس په مجموع کې تنقیص یا لیږوالی:

مثال: موږ بانک ته 65000 په نغدي توګه تادیه کوو چې په دې صورت کې د بانکي قرضې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازه له 255000 افغانیو څخه 190000 افغانیو ته کموالی مومي. د شرکت نغدي زېرمه چې پخوا 85000 افغانـــۍ وه، اوس يې 20000 تـــه کموالی موندلی دی. دغه ډول معامله د بیلانس په نورو برخو کې کوم تغیر نه رامنځته کوي بلکې یوازې د بیلانس په مجموع کې تغیر را منځته کوي. نو د بیلانس د دواړو ستونونو مجموعه د 65000 افغانیو په اندازه کمیږي.

پـــه دې صورت کې مورِ د بیلانس له اختصار یا لنډیز څخه بحث کوو یعنې دبیلانس مجموعه موکوتـــاه کـــړې ده. له دغو څلـــورو حالتونو یعني: داکتیف تعویض، د پســـیف تعویض، د بیلانس توسعه او د بیلانس اختیار د شرکت ټولو معاملاتو جریان په بر کې نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنځم څپرکي لنډيز

په بيلانس کې د قيمت تحولات

په بيلانس کې د اقتصادي معاملاتو ثبت کيدل څلور ډوله بدلونونه منځته راوړي:

الف: د بيلانس اکتيفي تبادله

ب:د بيلانس پسيفي تبادله

ج: دبيلانس او پسيف کې زياتوالی

د: د بيلانس په اکتيف او پسيف کې تنقيص يا کموالی

الف- اکتيفي تبادله: په اکتيف لوري کې د دارايي په دوو اقلامو کې تبادله د بيلانس په دواړو لوريو کې کوم تغير نه را منځته کوي.

د مثال په توګه: په نغدي توګه د 1000 افغانيو په بدل کې د امتعې د پلور له کبله په دارايي کــې د ورته مقدار، خو په نغــدي زيرمه کې ورته مقدار زياتوالی را منځته کيږي چې د بيلانس په دواړو لوريو کې د کوم تغير لامل نه ګرځي

ب- پســيفی تبادله:کــه چيرته د ديــون او سرمايې تر منځ کومه معاملــه صورت ونيسي، دغه معامله د بيلانس په دواړو خواوو کې کوم تغير نه را منځ ته کوي.

د مثال په توګه: د لنډ مهاله قرضونو په مقابل کې د اوږد مهاله قرضونو زياتوالی د بيلانس په مجموعه کې کوم تغير نه را منځته کوي.

ج- د بيلانس په اکتيف او پســيف کې زياتوالی: د مســاوي ارقامو لرونکي اقتصادي معاملې ثبت د بيلانس په دواړو لوريو کې زياتوالی را منځته کوي . د مثال په توګه په قرضي توګه د 3000 افغانيو په بدل کې د امتعې پيرل. په دې مثال کې د امتعې په ارزښت کې چې په اکتيف لوري کې موقعيت لري، 3000 زياتوالی را منځته کيږي خو په مقابل کې يې په ديونو کې چې د بيلانس په پسيف لوري کې قرار لري، هم ورته يعنې د 3000 په اندازه زياتوالی را منځته کيږي.

د- د بيلانــس په اکتيف او پســيف لوري کې تنقيص: د بيلانس پــه دواړو لوريو کې په ورته وخــت کــې د ورته ارقامو لرونکې معاملې لــه ثبت کيدلو سره د بيلانــس دواړو لورو کې لږوالی مومــي. د مثال په توګه: له نغدو پيســو څخه د 4000 په انــدازه د لنډمهاله قرضونو تاديه کول له يوه لوري له نغدي زيرمې څخه 4000 افغانۍ کميږي چې په اکتيف لوري کې قرار لري او له بله لوري په لنډ مهاله قرضونو کې هم په ورته اندازه کموالی را منځته کيږي چې په پسيف لوري کې ځای لري او په دې توګه د بيلانس د دواړو ستونونو په مجموعه کې کوم توپير نه را منځته کيږي بلکې په مساوي ډول کموالی پکې را منځته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنځم څپرکي پوښتنې

1-2 حمل: په 7000 افغانۍ نغدي مبلغ باندې ماشـین آلات اخیسـتل شویدي، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

6 حمل: له سلیمان څخه په قرضي توګه په 300 افغانۍ باندي دموبل او فرنیچر پیرل، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

8 حمل: په 2500 مبلغ باندي د امتعې خریداري،

پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

10 حمـل: پـه رحمان باندې د امتعې پلور مبلغ 1500 ، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

11 حمل: له کبیر څخه د امتعې خریداري مبلغ 1000 او له فرید څخه د امتعې پیر مبلغ 2000 افغانۍ، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

18 حمل: له رحمان څخه مبلغ 1450نغدي پیسې تر لاسه شویدي چې 50 افغانۍ ډسکاونټ یا تخفیف ورته شوی د، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

20 حمـل: کبیر ته مبلغ 975 نغدې پیسـې ور کړل شـوي چې 25 افغانـۍ یې تخفیف وکړ، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

21 حمل: فرید ته امتعه دوباره متسرده شوه مبلغ 500 ، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

21 حمل: په دین محمد باندې امتعه و پلورل شوه مبلغ 200، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

25 حمل: د دین محمد له لوري امتعه دوباره مسترده شوه مبلغ200 پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

26 حمل له کریم څخه په 600 امتعه واخستل شوه چې10% تجارتي تخفیف هم تر لاسه شو پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

26 حمـل: فرید مبلغ 1500 افغانۍ نغدې را کـړي، پورتنۍ تجارتي معامله په بیلانس کې څه ډول تغیر را منځته کولای شي؟

29 حمـل: د 50 افغانیو امتعه او د 30افغانیو په ارزښـت لـه امتعې څخه غریبانو ته ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي، پورتنۍ تجارتي معامله په بيلانس کې څه ډول تغير را منځته کولای شي؟

29 حمل: د 200 افغانيو په ارزښت امتعه د ځموني په توګه اود 100 په ارزښت امتعه د شرکت مالک په خپل حســاب کې واخسته، پورتنۍ تجارتي معامله په بيلانس کې څه ډول تغير را منځته کولای شي؟

30 حمــل: د شرکت مالک نغدې پيســې د خپل ځان لپاره له خپل ځــان سره يووړې، پورتنۍ تجارتي معامله په بيلانس کې څه ډول تغير را منځته کولای شي؟

31 حمل: د شرکت پرسونل ته معاشات مبلغ 500 افغانۍ ورکړل شوې، پورتنۍ تجارتي معامله په بيلانس کې څه ډول تغير را منځته کولای شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلانس تحدیدي حسابونه

ټولیزه موخه:

د تحدیدي پستونو په اړه د لازمې توانمندۍ منځ ته راوړل او د تحدیدي پستونو د منځ ته راتګ علتونه.

د زده کړې موخې: د دې څپرکی په پای کې شاګردان د لاندې مواردو په هکله معلومات او اطلاعات تر لاسه کوي:

- پرداخت، درامد، مخارج، حاصل.....
- داکټیف او پسیف تحدیدي پستونو.
- تحدیدي او غیر انتقالي پستونو.
- ټول طلبات او ټول دیون.
- د حسابونو له افتتاح وروسته د معاملاتو جریان.
- د حسابونو د تړلو په هکله معلومات.
- د تحدیدي پستونو انحلال.
- په بیلانس کې د پس انداز نقش.
- تخمین شویو مخارجو ته مساوي پس اندازونه.
- له تخمین شویو مخارجو څخه کم پس انداز.
- په محاسبه کې مجموعي بیلانس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د لومړي تفاوت بیلانس.
- د دوهم تفاوت بیلانس.
- د موجودي او نتایجو بیلانس.

تحدیدي حسابونه

لومړۍ برخه: تحدیدي پستونه

الف: د تحدیدي پستونو د منځته راتلو علتونه:

مخکې له دې چې د تحدیدي حســابونو په اړه بحث وکړو، غوره ده چې په لومړي سر کې له یــوه پلوه د مخارجــو او پرداخت تر منځ توپیر وکړو او له بله پلوه د عاید او حاصل تر منځ توپیر وکړای شــو. عاید او پرداخت دواړه د خالصو پیسو له جریاناتو څخه عبارت دي. که څه هم د دې کتاب په لومړي سر کې دغه اصطلاحات په مشرح ډول بیان شول، خو په دې ځای کې له تحدیدي پستونو سره په تړاو پخواني مثالونه تکراروو.

پرداخت: د پیســو جریان ته پرداخت یــا Payment ویل کیږي چې د شرکت له داخل څخه د شرکــت خارج ته صورت نیسي او بر عکس عاید لــه هغه پولي جریان څخه عبارت دی چې جریان یې له بهر څخه د شرکت داخل ته صورت نیسي.

مخارج او حاصل: دا له هغو دوو عناصرو څخه عبارت دي چې په واسطه یې پایله یعنې مفاد او ضرر تثبیت کیږي. د دې لپاره چې پورتني اصطلاحات یو له بل څخه په ښه توګه تفکیک او تمیز کړای شو، د لاندې مثالونوپه واسطه یې توضیح کوو:

۱.مورِ یوه میلمســتیا لــرو: د دې لپاره له بازار څخه غذایي مــواد او مشروبات اخلو یعنې د پورتنۍ متاع د پیر لپاره پرداخت کوو. میلمانه په ټاکل شــوي وخت را ونه رسـېدل او خوراک او مشروبات په مصرف ونه رسېدل، نو ویل کیږي چې مخارجو صورت نه دی نیولای.

۲. برعکــس مخارج کولای شي لــه پرداخت څخه د مخه صورت ونیسي: بیا هم دعوت ترتیب کوو او د دې منظور لپاره غذایي مواد او مشروبات خریداري کوو. دغه مواد له هغه مغازه لرونکي څخه په پور اخلو چې مورِ یې همیشني مشتریان یو او پیسې یې یوه اونۍ وروسته ورکوو.

خو دا ځل میلمانه په خپل وخت را ورسیدل چې غذا او مشروبات په مصرف ورسوي.

په دې حالت کې لیدل کیږي چې مخارجو صورت نیولی دی خو پرداخت صورت نه دی نیولی یعنې مخارج تر پرداخت د مخه تر سره شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. همـدا شـان عايد او حاصل يو له بل څخه تفکيک کوو: د مثـال په توګه يو بزګر په خپله ځمکـه کې بانجان کرلې دي. بانجانو ته تر هغـه وخته حاصل ويل کيږي ترڅو چې بازار ته د خر څلاو لپاره نه وي عرضه شـوي، خو کله چې بانجان په بازار کې خرڅ شي نو حاصل په عايد باندې بدليږي.

۴. دهقان له يوه هوټل څخه د بانجانو فرمايش تر لاسه کړيدي، خو څنګه چې تر اوسه پورې د بانجانو د پخيدلو موسـم نه دی را رسـيدلای، هوټل والا د بانجانو د قيمت يوه برخه په پيشکي توګه بزګر ته تاديه کوي تر څو بزګر د بانجانو په وخت کې هوټل ته بانجان ورسوي.

هغه پيشـکي پيسـې چې بزګر يې له هوټلې څخه تر لاسه کوي، د هغه لپاره يو عايد دی، خو کله چې بانجان پاخه شي عايد په حاصل باندې بدليږي.

د دغو ساده او بسيطو مثالونو په واسطه چې په دې ځای کې وړاندې شول، څرګنده شوه چې له پرداخت د مخه مخارج او يا بر عکس له مخارجو د مخه پرداخت صورت موندلای شي او همدا شان له حاصل د مخه عايد او يا له عايد د مخه حاصل صورت ونيسي.

په اقتصادي شرکتونو کې هم تر ډېره ځايه ورته حالات صورت نيسي.

مور د يوه مالي کال په جريان کې د مخارجو او حاصلاتو له داسې زياتو اقلامو او واقعيتونو سره مخ کيږو، نو په پايله کې ويلای شو چې يو شرکت له خالصو مخارجو او حاصلاتو څخه تشکيل شويدی.

پرته له دې چې پرداخت او عايد ته د هغوی تثبيت کول په نظر کې و نيول شي، په شرکت کې د ورته ستونزو د حل لپاره د تحديدي حسابونو پستونه منځته راوړو.

د هغه په نظر کې نيولو پرته چې ايا هغه مود پرداخت او عايد لپاره تثبيت کړې وي نو ددې د حل لپاره په تصدي کې تحديدي حسابونو پستونه منځ ته راوړو.

ب- د اکتيف او پسيف تحديدي پستونه يا (انتقالی اکتيف او انتقالی پسيف):

د اکتيف او پسيف تحديدي پستونه هغه مهال منځته راځي چې له حاصل او مخارجو د مخه تاديات صورت و نيسي.

مور د کال په اوږدو کې تاديات او عايدات لرلای شـو او دغه عايدات او تاديات په مسلسـله توګـه د مخارجو او حاصلاتو په بڼه د خپلو پايلو په حسـابونو کـې ثبت کوو او د کال په پای کې مشـاهده کـوو چې د حاصلاتـو او مخارجو يوه برخه چې د کال په اوږدو کې مو د حسـابونو په پايلو کې درج کړې ده، په بشپړه توګه د جاري کال په معاملاتو پورې اړه نه لري، په دې توګه دغه راتلونکي حاصلات چې د جاري کال په حسابونو کې درج شوي دي، عاجلتاً ځنډی کيږي او وروسته په راتلونکي کال کې پستونه د هغو اړوند حساب ته ليږدول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- اکټیف تحدیدي حساب (اکټیف انتقالي):

مور د خپلې تجارتخانې لپاره یو اپارتمان انتخابوو او په میاشتني ډول یې کرایه ورکوو. فرض کوو چې د راتلونکي کال کرایه مو په پیشــکي ډول تادیه کړیده. په دې ځای کې یوه پرداخت صورت نیولی دی، خو پکار نه ده چې د مخارجو په توګه یې دغې حسابې دورې د ګټې او ضرر حساب ته انتقال کړو. ځکه دغه مخارج په دې دوره پورې اړه نه لري بلکې په راتلونکي حســابي دوره پورې اړه لري او باید په راتلونکي کې د مخارجو په توګه ثبت شي.

د ورته معاملې د ثبت صورت په لاندې ډول ښــوول کیږي. په ډبټ ستون کې نغدي پیسې او په کریډیت ستون کې د کرایې مخارج ۹۰۰ افغانی.

کرېډټ د کرایې مخارج ډبټ		کرېډټ نغدي یا کېسه ډبټ	
900	(1) 900		(900 (1

پورتنی مبلغ باید په محاسبه کې د پورتني ترتیب په ډول ثبت نشي، که چیرته د پورتني ترتیب له مخې په حسابونو کې ثبت شي نو پکار ده چې د کال په پای کې د کرایې مخارج د ګټې او ضرر حســاب ته و لیږدول شي. د دې لپاره چې د ګټې او ضرر حســاب ته د دغو مخارجو د انتقال مانع شو، له حساب څخه د کرایې مبلغ باسو او په یوه بل حساب کې یې ثبت کوو چې انتقالي اکټیف ورتــه ویــل کیږي، یعنې (انتقالي اکټیف تــه، د کرایې له مخارجو څخه ۲) او نومورې حســاب د حسابونو د ټرلو په وخت کې د دارایې د یوه موجوده حساب په توګه اخیرې بیلانس ته انتقالیږي.

وروستی بیلانس پسیف اکټیف		انتقالي اکټیف کریدت ډبټ	
(3) 900 انتقالي اکټیف	(1) 900	(900 (3	(2) 900

نوی کال: انتقالي اکټیف پست د نورو ټولو پستونو په څیر په اخیري بیلانس کې د ثبت د کال په حســابونو کې ځای لري او د حســاب اقلام خاصتاً انتقالي اکټیف(۱) بیا هم په دوباره حســاب وېشل کیږي یعني انتقالي اکټیف پستونو له افتتاحیه بیلانس څخه دوباره د انتقالي اکټیف حساب تــه راوړل کیــږي او له هغه ځایه د یوې حســابي معاملې په توګه د مخارجــو دیوه قلم په توګه د کرایې د مخارجو حســاب ته له انتقالي اکټیف څخــه را وړل کیږي(۲) او څنګه چې دغه پرداخت د دغه کال حقیقي پرداخت دی، نو کولای شــو د کرایې د مخارجو له حســاب څخه یې د ګټې او ضرر حساب ته انتقال کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ		کریډیټ د کرایې مخارج ډبټ	
900	(3) 900	(900 (3	(2) 900

کریدت انتقالی اکټیف ډبټ	
(900 (2	(1) 900

۲- د پسیف تحدیدي حساب (پسیف انتقالي):

فرض کوو چې بیا هم یو پرداخت منځته راغلی دی خو دا ځل موږ ته پرداخت کیږي.

د مثال په توګه له هغه کریډیټ څخه چې اعطاء کړی مو دي، د هغه ربحه په پیشـــکي توګه ترلاســه کوو. د کال په پای کې تفکیک کوو چې ایــا دغه حاصلات له دغې دورې سره تړاو لري او کنه؟ چون د پیســو تادیه په پیشــکي ډول وه او په راتلونکي کال پورې اړه لري، نو پکار ده چې د هماغه یعنې راتلونکي کال په حاصلاتو کې درج شي.

کریدت دربحې حاصل ډبټ		کریدت نغدې پیسې ډبټ	
(500 (1	(2) 500		(1) 500

په دې توګه د ربحې حاصل د هغه یعنې د روان کال د ربحې له حساب څخه کاږو او یوه بل حساب ته چې انتقالي پسیف ورته ویل کیږي، راوړو .

یعنې(د ربحې حاصل ته، له انتقالي پسیف څخه) (۲)

اخیري بیلانس کریدت ډبټ		انتقالي پسیف کریدت ډبټ	
(500 (2		(500 (2	(3) 500

د انتقالي پسیف حساب د کال په پای کې په اخیري بیلانس کې پسیف ستون ته را وړل کیږي. (۳)

په نوي کال کې چې پســتونه له سره تر پایه له افتتاحیه بیلانس څخه د هغوی حســابونو ته لیږدول کیږي، د انتقالي پســیف پســت هم د یوې حسابې جملې په واسطه (انتقالي پسیف ته ، د ربحې له حاصل څخه(۲))، انتقالوو او څنګه چې دغه رقم د دغې دورې حقیقې حاصل دي، نو د ربحې د حاصل حساب ته لیږدول کیږي او له هغه ځایه د ګټې او ضرر حساب ته لیږدول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ		کریډټ د ربحې حا صل ډبټ	
(500 (3		(500 (1	(3) 500

انتقالي پسیف کریډټ ډبټ	
موجود اولی 500	(3) 500

ج- تحدیدي او غیر انتقالي پستونه

پــه دې ځــای کې مور د تحدیدي حســابونو له دوهــم ډول څخه بحث کــوو چې دغه ډول تحدیدي پستونه د ټولو طلباتو او یا ټولو دائنینو یا Creditors په حسابونو کې معامله کیږي.

۱- ټــول طلبات: یو کس د کال په پای کې د کمیشــن لــه درکه له مور څخه مقروض دی، خو یاد شوی کمیشن زمور لپاره یو حاصل دی او باید د ګټې او ضرر په حساب کې سنجش شي، ځکه د کمیشــن مبلــغ د جاري کال له حاصل څخه عبــارت دی او د دې لپاره چې هغه د جاري کال په حســابونو کې په ســمه توګه معامله کړو، د هغــه لپاره د د ټولو طلباتو په نامه یو نوی حســاب ځانګړی کوو او د لاندې حســابي جملې په واســطه یې نا تادیه شــوی حاصل انتقال کوو، (د ټولو طلباتو حساب ته د کمیشن د حاصل له حساب څخه) مبلغ ۳۰۰ افغانی (۱).

او کله چې یاد شوی مبلغ په پورتنیو حسابونو کې درج شي نو د حسابونو د تړلو په وخت کې د ګټې او ضرر حساب ته نقل شي.

د جاري کال مفاد او ضرر کریډټ ډبټ		د کمیشن حاصل کریډټ ډبټ	
(300 (3		(300 (1	(2) 300

د ټولو طلباتو حساب (اکتیف غیر انتقالی) کریډټ ډبټ	
300 ((3	(1) 300

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه وروسته د غير انتقالي اکتيف حساب وروستي بيلانس ته راوړل کيږي(۳).

وروستی بیلانس	
کریډټ	ډبټ
	(3) 300

پــه نــوي کال کې د ټولو طلباتو پســت له بيلانس څخه دوباره د هغوی خصوصي حســاب ته تقســيم کيږي او دغه مبلغ تر هغه وخته د ټولو طلباتو په حســاب کې باقي پاتې کيږي تر څو چې حقيقي تاديه صورت نيسي . کله چې نوموړی شــخص تاديې ته حاضر شي، حســابي جمله يې داسي ليکل کيږي، ، نغدو ته له ټولو طلباتو څخه (۲).

د نغدې تاديې په واســطه حاصل په تير کال کې صورت نيولی دی او د کال په پای يې نتيجه هم سنجش شويده ، اوس چې نوی کال دی د هغوی د خالصو پولې تادياتو عمل صورت نيسي.

کریډټ نغدې پیسې		کریډټ ټولطلبات	
	ډبټ		ډبټ
(2) 300		(300 (2	(1) 300

– **ټــول دائنين يا Creditors:** په دې صورت کې هــم پولې جريان صورت نه نيسي خو له دې سره سره هغــه مخارج چې تير کال منځته راغلي دي، په حســاب کــې ثبت کيږي. فرض کوو چې مور د 100 افغانی مالياتو د تاديې مکلفيت لرو خو ياد شوی مبلغ مو تر اوسه پورې نه دی تاديه کړی. دغه مبلغ سره له دې چې نه دی تاديه شوی، د ګټې او ضرر په حساب کې سنجش کيږي.

د دې لپاره چې په ســمه توګه او د محاســبوي قواعدو مطابق يې ثبت کړو، د دې موخې لپاره د ټولو دائنينو يا Creditors په نامه يو حســاب په نظر کې نيول کيږی او په دې حســاب کې د مالياتو مخارج د لاندې حسابي جملې په واسطه محاسبه کيږي، (د مالياتو د مخارجو حساب ته، د ټولو دائنينو له حساب څخه).

اخيري بيلانس		مفاد ا و ضرر	
پسيف	اکتيف	کریډټ	ډبټ
(100 (3 ټول دائنين يا Creditors		(300 (1	(2) 100

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ ټول دائنین یا Creditors ډبټ		کریډټ د مالیاتو مخارج ډبټ	
(100 (1	(3) 100	(100 (2	(1) 100

د مالیاتو د مخارجو حساب د روان کال د ګټې او ضرر په حساب کې د نورو حسابونو د پایلو په توګه سنجش کیږي او ټول دائنین یا Creditors په وروستي بیلانس کې د پیسو ستون ته انتقالیږي(۳).

په نوي کال کې د غه پســتونو چې په بیلانس کې موجود وو، دوباره د ټولو دائنینو حساب ته لیږدول کیږي(۱). دغه حساب تر هغه وخته هلته پاتې کیږي تر څو چې تادیه صورت مومي. کله چې مبلغ تادیه شي ، دلاندې حسابي جملې په واسطه ثبت کیږي:

غیر انتقالي اکټیف حساب ته، د نغدو له حساب څخه.

(۲) پــه تیر کال کې مو مخارج په حســاب کې مدنظــر ونیول، په نوي کال کې یې پولي جریان صورت و نیو.

مثال:

پسیف دافتتاحیې بیلانس اکټیف	
150000شخصي سرمایه 100000 دائنین یا Creditors	1000000 تعمیرات 60000 ماشینونه 80000 د امتعې ذخایر 10000 نغدې پیسې
250000	250000

د معاملاتو جریان

۱- مزد تادیه کوو.....100 افغانۍ

۲- د کرایې حاصل تر لاسه کوو.....800 افغانۍ

د حسابونو د ختم په اړه معلومات

الف: له تادیه شــوي مزد څخه 600 افغانۍ یې د راتلونکي کال مزد دی، چې په پیشــکي توګه تادیه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: له تر لاسه شوې کرایې څخه 200 افغانۍ یې د راتلونکي کال پیشکي کرایه ده.

ج: د مدیونینو له ډلې څخه یو مدیون چې قرض مو ورکړی وو، 2000 افغانۍ یې د ربحې له درکه زمونږ قرضداره دی.

د: مونږ له خپل نماینده څخه د کمیشن له درکه ۵۰۰ افغانۍ قرضدار یو.

د پورتني سوال ځواب:

کریډټ امتعه ډبټ		کریډټ ماشینونه ډبټ	
80000	80000	60000	60000
80000	80000	60000	60000

کریډټ تعمیرات ډبټ		کریډټ نغدې پیسې ډبټ	
100000	100000	1000	10000 اولی موجود
100000	100000	9800	800

کریډټ دائنین ډبټ		کریډټ شخصي سرمایه ډبټ	
100000	100000	150000 1700	151700
100000	**100000**	**151700**	**151700**

کریډټ د کمیشن مخارج ډبټ		کریډټ د ربحي حاصل ډبټ	
500	500	2000	2000
	500	2000	2000

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ د کرایې حاصل دبټ		کریډټ د مزد مخارج ډبټ	
800	200 600	1000	600 400
800	800	1000	1000

کریډټ ټول دائنین ډبټ		کریډټ ټول طلبات ډبټ	
500	500	2000	2000
500	500	2000	2000

کریډټ انتقالي پسیف ډبټ		کریډټ انتقالي اکټیف ډبټ	
200	200	600	600
200	200	600	600

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
کرایه 600	400 مزد
ربحه 2000	500 کمیشن
	1700 تفاوت
2600	2600

پسیف	وروستی بیلانس	اکټیف
151700 شخصي سرمایه		100000 تعمیرات
100000 دائنین یا Creditors		60000 ماشینونه
200 انتقالي پسیف		80000 د امتعې زېرمه
		9800 نغدې پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

	600 انتقالي اکتیف
	2000 ټول طلبات
252900	252500

مثال

پسیف افتتاحیه بیلانس اکتیف	
70000 شخصي سرمایه	30000 تعمیرات
15000 دائنین	10000 اثاثیه و تجهیزات
3000 دائنین	50000 امتعه
4000 انتقالي پسیف	20000 بانک
10000 غیر انتقالي پسیف	5000 نغدي پیسې
	2000 اکتیف انتقالي
	3000 غیر انتقالي اکتیف
102000	120000

د کال د پای د معاملاتو جریان

۱- موږ په تیر کال کې 2000افغانۍ کرایه تادیه کړې وه ، نوموړی رقم په روان کال پورې تړاو درلود او ددغه کال په پای کی یادشوی رقم د مخارجو په توګه په خپل حساب کې د لاندې حسابي جملي په واسطه ثبتوو:

د کرایې د مخارجو حساب ته، د انتقالي اکتیف له حساب څخه.

۲- په تیر کال کې شرکت د اجارې له درکه 3000افغانۍ قرضداره وو، په روان کال کې پورتنی مبلغ نغداً تادیه کوو.

د نغدو حساب ته، د ټولو طلباتو له حساب څخه 3000 افغانۍ.

۳- پــه تیر کال کې موږ 4000 افغانی کمیشــن په پیشــکي توګه تر لاســه کــړی وو، نوموړی کمیشن په روان کال پورې اړه درلوده او موږ یې د روان کال په حسابونو کې محاسبه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انتقالي پيسيف حساب ته، د کميشن د حاصل له حساب څخه 4000 افغانۍ.

۴- تېر کال مور د ربحې له درکه 1000 افغانۍ مقروض وو، چې اوس يې په نغدي توګه تاديه کوو او د لاندې حسابي جملې په واسطه يې په حساب کې داخلوو:

د ټولو دائنينو يا Creditors حساب ته، د نغدو له حساب څخه 1000 افغانۍ.

نوټ: هغه حســابونه چې پورتنــي معاملات په کې درج کيږي، د ګټې او ضرر له حســاب او وروســتي بيلانس څخه عبارت دی. له هغو پســتونو څخه چې په افتتاحيه بيلانس کې شــته دي، صرف نظر کيږي.

کريډټ نغدي ډبټ		کريډټ ټول دائنين ډبټ	
1000	5000 اولي موجود	1000	(4) 1000
7000	(2) 3000		
8000	**8000**	**1000**	**1000**

کريدټ انتقالي پسيف ډبټ		کريدټ د غيرانتقالي اکتيف ټول‌طلبات ډبټ	
4000	(3) 4000	(3000 (2	**3000**
4000	**4000**	**3000**	**3000**

کريډټ انتقالي پسی ډبټ		کريدټ شخصي سرمايه ډبټ	
2000	2000	70000 2000	72000
2000	**2000**	**72000**	**72000**

کريډټ انتقالي اکتيف ډبټ		کريډټ شخصي سرمايه ډبټ	
(4000 (3	4000	مفاد او ضرر ته 2000	2000
4000	4000	2000	2000

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
د کمیشن حاصل 4000	2000 د کرایې مخارج 2000 مفاد
4000	4000

پسیف وروستی بیلانس اکټیف	
72000 شخصي سرمایه 15000 پور 30000 دائنین	30000 تعمیرات 10000 اثاثیه او تجهیزات 50000 امتعه 20000 بانک 7000 نغدې پیسې
117000	117000

مثال

پسیف افتتاحیه بیلانس اکټیف	
9000 شخصي سرمایه 400 انتقالي پسیفت 600 نور دائنین	5000 بانک 3000 کسه 1200 انتقالی اکټیف 800 نور طلبات
10000	10000

الف: د حسابونو له افتتاح وروسته معاملات:

۱- په تیر کال کې مو د کارګرانو 1200 افغانی مزد په پیشکي توګه تادیه کړی وو. په نوي کال کــې هغوی خپل خدمات تر سره کړي دي او مورږ هغه د مخارجو په توګه په خپلو حســابونو کې ثبت کوو.

۲- په تیر کال کې مو په پیشکي توګه 400 افغانی اخیستې وې. په نوي کال کې له تجارتخانې څخه مستاجر استفاده کړیده او هغه د حسابونو د حاصل په توګه ثبت کوو.

۳- په تیر کال کې مو یو کس د کمیشن له درکه 800 افغانی مقروض وو، خو سږ کال یاد شوی مبلغ د بانک حساب ته انتقال شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- مـوږ پـه تیر کال کې د بیمـې د جایزې له درکه 600 افغانۍ مقروض وو او د سـږ کال په جریان کې یاد شوی مبلغ په نغدي ډول تادیه کوو.

ب: د کال په جریان کې معاملات

۵- مالیات چې نغداً یې تادیه کوو.....۲۰۰ افغانۍ.

۶- دخپلو قرضونو ربحه د بانکي انتقال له لارې تر لاسه کوو.....۲۲۰۰ افغانۍ

ج: د کال د پای معاملات:

۷- له تادیه شویو مالیاتو څخه (چې په پنځمه شمیره کې یاد شول) 100 افغانۍ یې له پیشکي تادیې څخه تشکیل شوي دي.

۸- له هغې ربحې څخه چې موږ ته تادیه شـویده،(په شـپږمه شـمیره کې) 300 افغانۍ یې پیشکي تادیه دي.

۹- د معامله دارانو له ډلې څخه یو یې د کمیشن له درکه 500 افغانۍ زموږ قرضداره دی.

۱۰- د برق د ماشین له درکه چې ز موږ تجارتځای یې روښانه کاوه، 700 افغانۍ.

مقروض یو.

کریډټ انتقالي اکټیف ډبټ		کریډټ نغدي پیسې ډبټ	
(1200 (1 (100 (20	1200 اولیموجود 100	(600 (4 (300 (5 (19)2200	3000 اولي موجود
1300	1300	3000	3000

کریډټ بانک ډبټ		کریډټ انتقالی پسیف ډبټ	
8000 تفاوت	5000 اولي موجود (3)800 (6) 2200	400 اولي موجود 300 (8)	(2) 400 (23)300
8000	**8000**	**700**	**700**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ شخصي سرمایه ډبټ	
اولي موجود9000	
(800 (17	9800 (22)
9800	**9800**

کریډټ ټول طلبات ډبټ	
	(800 (3
800 اولي وجود	(500 (21
500	
1300	**1300**

کریډټ د کرایې حاصل ډبټ	
(400 (12	(14) 400
400	**400**

کریډټ د مزد مخارج ډبټ	
(1200 (11	(1) 1200
1200	**1200**

کریډټ ټول دائنین ډبټ	
اولی موجود 600	(4) 600
700 (10)	700
2200	**2200**

کریډټ د برق مخارج ډبټ	
(100 (7	
(100 (12	(5) 200
200	**200**

کریډټ د ربحې حاصل ډبټ	
2200 (1)	(8) 300
	(19)1900
2200	**2200**

کریډټ د مالیاتو مخارج ډبټ	
100 (7)	
100 (12)	(5) 200
200	**200**

کریډټ د کمپشن حاصل ډبټ	
(500 (9	(6) 500
500	500

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
	1200 مزد 11))
14)کرایه 15) 400 ربحه 1900	100 مالیات 12))
16) کمپشن 200	700 برق 13))
	800 مفاد 17))
2800	**2800**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
2) 9800 شخصي سرمایه 300 23 انتقالي پسیف 700 ټول دائنین یا Creditors	8000 بانک 18)) 2200 نغدي پیسې 19)) 100 انتقالي اکتیف 20)) 500 ټول طلبات
10800	**10800**

مثال:

پسیف افتتاحیه بیلانس اکتیف	
1900 شخصي سرمایه 1000 انتقالي پسیف 4000 ټول دائنین	1200 بانک 7000 نغدي پیسې 2000 انتقالی اکتیف 3000 ټول طلبات
24000	**24000**

۱- په تېر کال کې مو د بیمې جایزه 2000 افغانۍ په نغدي توګه تادیه کړې وه اوس یې کال یې وعده را رسیدلې ده.

۲- تیر کال یو کس د کرایې له درکه 3000 افغانۍ زمونږ قرضدار وو او سږ کال د بانکي حساب له لارې یاد شوی مبلغ تادیه کوي.

۳- په تیر کال کې مو له خپلې قرضې څخه د هغې ربحه چې 1000 افغانۍ کیدله، په پیشکي توګه تر لاسه کړیده، او سږ کال یې وعده پوره کیږي.

۴- مونږ 4000 افغانۍ د معاشاتو له درکه قرضداره وو ، چې سږ کال یې د بانکي حساب له لارې پرې کوو.

۵- مزد چې نغداً یې تادیه کوو..... 1500 افغانۍ.

۶- هغه کمیشن چې په نغدي توګه یې تر لاسه کوو.....3000 افغانۍ.

د حسابونو ټرل

۷- له هغه مزد څخه چې د (۵ نمرې) له مخې تادیه شویدی ، د تیر کال د ډسمبر له میاشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه نیولې، د نوي کال دفبروري د میاشتې تر 27 نېټې پورې تړاو لري.

۸- د کمیشـــن تادیات چې په شـــمیره کې یاد شویدي، د تیر کال د نومبر له میاشتې څخه پیل، د نوي کال د مارچ د میاشتې تر 31نېټې پورې تړاو لري.

۹- یو کس د کرایې له درکه زمور قرضداره دی.....5000 افغانۍ.

۱۰- د مالیاتو له درکه مقروض یو.....500 افغانۍ.

کریډټ انتقالي اکتیف ډبټ		کریډټ شخصي سرمایه ډبټ	
(2000 (1	2000 اولی موجود	2000 اولی موجود	23200
1000	1000	2400	
3000	**3000**	**23200**	**23200**

کریډټ نغدې پیسې ډبټ		کریډټ بانک ډبټ	
(1500 (5	7000	(4000 (6	12000
8500	3000	11000	(2)3000
10000	**10000**	**15000**	**15000**

کریډټ د بیمې مخارج ډبټ		کریډټ ټول دائنین ډبټ	
2000	(1)2000	4000	(4)4000
		(500 (10	500
2000	**2000**	**4500**	**4500**

کریډټ انتقالي پسیف ډبټ		کریډټ ټول طلبات ډبټ	
1000	(3000 (2	3000	
(1800 (8	5000	(9)5000	
2800	**2800**	**8000**	**8000**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ د کرایې حاصل ډبټ		کریډټ حال کمیشن ډبټ	
5000	5000	3000	(8)1800 1200
5000	5000	3000	**3000**

کریډټ د مزد مخارج ډبټ		کریډټ حاصل ربع ډبټ	
(1000 (7 500	(5) 1500	(1000 (3	1000
1500	**1500**	**1000**	**1000**

کریډټ د مالیاتو مخارج ډبټ	
500	(10) 500
500	**500**

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
د ربحې حاصل 1000 کمیشن 1200 کرایه 5000	2000 د بیمې مخارج 500 مزد 500 مالیات 4200 مفاد
3000	**3000**

پسیف اخیري بیلانس اکټیف	
23200 شخصي سرمایه 1800 انتقالي پسیف 500 ټول دائنین	11000 بانک 8500 نغدې پیسې 1000 اکټیف انتقالي 5000 ټول طلبات
25500	**25500**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم مثال:

پسیف افتتاحیه بیلانس		اکتیف افتتاحیه بیلانس	
		80000	تعمیرشوې ځمکې
		15800	اثاثیه تجهیزات
		148600	امتعه
194800 شخصي سرمایه		34500	طلبات
90000 دائنین		4500	ویکسل‌ونو دارای
6000 ویکسل‌ونه قرضه 1200 ټول دائنین		6900	بانک
		800	نغدې پیسې
		900	انتقالي اکتیف
292000		**292000**	

د تحدیدي پستونو په اړه معلومات

۱- په تیر کال کې مو په پیشکي توګه مالیات تادیه کړي وو .....900 افغانۍ.

۲- په تیر کال کې موږ د بیمې د جایزې له درکه قرضدار وو.....1200 افغانۍ.

د معاملاتو جریان

۳- په 200 افغانییو باندې اثاثیه او تجهیزات نقداً خریداري کوو.

۴- امتعه پلورو 1500 افغانۍ.

۵- زموږ یو مشتري د نیمګړتیاؤ له کبله د امتعې یوه برخه مسترد کوي..... 1000 افغانۍ.

۶- امتعه چې په قرضي توګه یې اخلو..... 4500 افغانۍ.

د بانکي انتقال په واسطه..... 2450 افغانۍ.

۲ د تنزیل فیصدي ..... 7000 افغانۍ.

۷- د پورتنیومالونو حمالي مخارج چې نغداً تادیه کیږي.....200 افغانۍ.

۸- اســتوونکي په موږ باندې یو ویکســل لیکلی دی او له قبلولو وروسته یې بیرته هغه ته ور استوو، د ویکسلونږ مبلغ عبارت دی له.....4500 افغانیو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- د بیمې له جایزې څخه چې موږ یې قرضدار وو او په (۲ نمره کې یې یادونه وشــوه) نقداً تادیه کوو، ..... 1200 افغانۍ.

له خپل بانکي حساب څخه د خپل شخصي مقصد لپاره ..... 2000 افغانۍ اخلو.

۱۰- خپله امتعه په لاندې توګه پلورو: د ویکسلونو په مقابل کې 22000 افغانۍ او د نغدو په مقابل کې 1960 افغانۍ.

2 فیصد تنزیل - / 40 افغانۍ

جمله - / 24000 افغانۍ

۱۱- یو شمیر خپل ویکسلونه د ډیسکاونټ یا تخفیف لپاره بانک ته وړو.

د ډیسکاونټ عوارض - / 250 افغانۍ

د بانکونو د حساب معامله -/ 9750 افغانۍ

۱۲- موږ کرایه په نغدي توګه تر لاسه کوو...../ 3000 افغانۍ.

د حسابونو د ټرلو اړوند معلومات

له ثابتې دارایۍ څخه په لاندې ډول په غیرمستقیمه توګه استهلاک کیږي.

۱۳- له تعمیر شویو ځمکو څخه په غیر مستقیمه توګه یو فیصد له دفتري قیمت څخه.

۱۴-موږ 1600 افغانۍ له خپل تجهیز څخه په غیر مستقیمه توګه استهلاک کوو.

۱۵- زموږ له طلباتو څخه 90% فیصده یې قابل حصول او یوازې 5 فیصده یې له 1750 افغانیو سره مساوي کیږي، غیر قابل حصول شوي او موږ یې په غیر مستقیمه توګه استهلاک کوو.

۱۶- له هغې کرایې څخه چې (په 12 نمره کی یې یادونه وشوه) د تېر کال د اکتوبر د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د روان کال د مارچ د میاشتې تر 21 پورې اړه لري، 1500 افغانۍ یې تحدید کیږي.

۱۷- یو کس مو د ربحې د تادیاتو له درکه د تیر کال د ډسمبر دمیاشتې له لومړۍ نیټې څخه د روان کال د فبروري د میاشتې تر 28 نیټې پورې قرضدار دی، د قرضو میاشتنۍ ربحه 600 افغانۍ ده چې یوازې د ډسمبر د میاشتې ربحه یې تحدید کیږي.

اخیرې موجودي (انونتور په مرسته) 135600 افغانۍ.

د مثال ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ د امتعې پیر ډبټ		کریډټ اثاثیه او تجهیزات ډبټ	
(20200 (22 موجود اولی (21)135600	148600 اولی موجود (6) 7000 (18) 200	1600 (35	15800 اولی موجود (3) 200
155800	**155800**	**16000**	**16000**

کریډټ تعمیرشوې ځمکې ډبټ		کریډټ ویکسل دارائی ډبټ	
80000	80000	16500(12)10000	4500 اولی موجود (11)22000
80000	80000	26500	26500

کریډټ طلبات ډبټ		کریډټ د امتعې پلور ډبټ	
(1000 (5 (1750 (16 (33250 (36	34500 موجود اولی (6) 1500	(4)1500 (24000 (11	(20) 1000 (22) 20200 4300
36000	36000	25500	25500

کریډټ شخصې سرمایه ډبټ		کریډټ نغدې پیسې ډبټ	
194800 اولي موجود (1110 (33	(37) 2000 (6) 193910	(200 (3 (7)200 (9)1200 4160	800 اولي موجود 1960 3000
195910	195910	5760	5760

کریډټ بانک ډبټ	
(6)2450 (10)2000 (38)12200	6900 اولی موجود 9750
16650	16650

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ غیر انتقالي اکتیف ډبټ		کریډټ انتقالي اکتیف ډبټ	
(17 1500)	1500	(1 900)	900 اولي موجود
1500	1500	900	900

مثال

پسیف افتتاحیه بیلانس اکتیف	
46000 سرمایه شخصی 3000 دائنین 1000 انتقالی پسیف	10000 اثانیه او تجهیزات 30000 امتعه 2000 طلبات 300 ویکس‌ل دارائی 3300 بانک 1200 نغدې پیسې 500 ټول طلبات
50000	50000

د تحدیدي پستونو انحلال

۱- په تیر کال کې یو کس د کرایې له درکه زمونږ قرضدار وو مبلغ 500 افغانۍ.

۲- په تیر کال کې مو 1000 افغانۍ کمیشن په پیشکي توګه اخیستی وو.

د معاملاتو جریان

۳- شیان چې په قرضي توګه یې اخلو.....5000 افغانۍ.

۴- د پورتنیو اموالو حمالي مخارج نغداً تادیه کیږي..... 200 افغانۍ.

۵- کوم کس چې زمونږ قرضدار وو ا وپه لومړۍ شمیره کې یې یادونه شوې وه مبلغ500 افغانی د بانکي انتقال په واسطه یې تادیه کوي.

۶- د خپل بانک حساب څخه یې.....800 افغانۍ.

۷-لاندې شیان پلورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرضه 6000 افغانی
په نغدو 3920 افغانی
2 فیصده تنزیل 80 افغانی

جمله 10000

یو شمیر ویکسلونه په مشتریانو باندې کارو او هغه یې له منلو وروسته بیرته موږته را استوي د ویکسلونو مبلغ 6000 افغانۍ دی.

۸- یو شمیر ویکسلونه بانک ته د تنزیل لپاره وړو.

د بانکي تنزیل عوارض 500

زمونږ د بانکي دارایې معامله 4000

۹-د ویکســلونو له لړ څخه یو چې موده یې پوره شــوې وي، وجه یې نغداً تر لاســه کوو مبلغ 1500 افغانۍ.

۱۰- د بیمې جایزه نغداً تادیه کیږي.....2400 افغانۍ.

۱۱- د اثاثیې او تجهیزاتو استهلاک په مستقیمه توګه له دفتري قیمت څخه 10 فیصده.

۱۲- د طلباتو استهلاک ، په مستقیمه توګه له دفتري قیمت څخه 20 فیصده.

۱۳- د بیمې جایزه چې په (۱۱) نمره کې تادیه شــوې، د تېر کال د ډســمبر د میاشــتې پیشکي احتوا کوي چې د نوي کال د جنوري د میاشتي لپاره ده.

۱۴- د نومبر او ډسمبر د میاشتو د مالیاتو له درکه قرضداره یو، د هرې میاشتې د مالیاتو سهم یا ونډه 90 افغانۍ ده.

کریډټ طلبات ډبټ		کریډټ د امتعې پلور ډبټ	
(60000 (8	2000	(10000 (7	6000
2000	(7) 6000		4000
8000	8000	8000	8000

کریډټ ډبټ		کریډټ ډبټ	
400	400	400	400
400	400	400	400

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ د طلباتو د قیمت مصیحح ډبټ		کریډټ د طلباتو استهلاک ډبټ	
180	(15) 180	(180 (15	180
180	180	180	180

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
	80 تنزیل
	500 دیرکونت
داموالومفاد 4000	1200 بیمه
دکمیشن حاصل 1000	1000 د طلباتو استهلاک
	180 دطلباتومخارج 1640 مفاد او ضرر
5000	5000

پسیف اخیري بیلانس اکټیف	
	9000 اثانیه و تجهیزات
	29200 امتعه
	2000 طلبات
	3000 ویکسل دارائی
	7000 بانک
	4020 نغدي پیسې
	1200 انتقالی اکټیف
55420	55420

دوهمه برخه، پس انداز

پــه تیرو درســونو کې مو تحدیدي پســتونه مطالعه کړل چې د حقیقــي تحدید لپاره یې دوه نتیجــوي عناصر یعني مخارج او حاصلاتو د ملاحظې ورتیا درلوده. په هره حســابي دوره کې هغه مخارج او حاصلات تثبت کیږی چې په ریښتني توګه په هماغې دورې پورې تړاو لري.

تر کومه ځایه چې د خالصو تادیاتو جریانات مثلاً پرداخت او حاصلات په معینو وختونو کې منځته نه راځي. پکار ده چې د تحدیدي پستونو په مرسته د کال په پای کې لازمه تصحیح اجرآ کړل شي.

د پــس انــداز په بحث کی هــم یو بل ډول مبحث مطالعه کوو چې هغــه هم د کال د پای د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حســابونو په تحديدي برخه کې مرسته کوي او پواسطه يې يوازې د مخارجو واقعي تحديد منځته راوړل کيږی ، نه د حاصلاتو.

پس انداز د قرضونو خاصيت لري هغه دا چې مور مقروض يو او کنه؟

پــه دې مــورد کې کوټلی مثبت ځواب داســې دی چــې پس انداز د يوه نامعلــوم دين يا پور خصوصيت لري.خو په ورځني ژوند کې تل داسې حالات منځته راځي چې مور تل د دغو قرضونو د اندازې او د هغوی د موعد رســېدو په برخه کې شکمن کوي. غوره ده دغه موضوع د يوه مثال په واسطه واضيح کړو.

مثال: مور په محکمه کی دعوا لرو او زيات وخت تير شو چې دعوا نه ختميږي، دا چې مور او که زمور مقابل لوری د دعوا مصارف پرې کوي، د دعوا له ختميدلو ورســته به معلومه شي. په دې صورت کې هر څوک چې په دعوا کې مغلوب و شــميرل شي بايد د دعوا ټول مصارف پرې کاندي. خــو څنګه چې تر اوســه پورې دعوا په جريان کی ده، مور نــه پوهيږو چې د عوا به زمور په ګټه پای ته ورسيږی او که د مقابل لوري په ګټه.احياناً که چيرته دعوا و بايلو، بيا هم نه پوهيږو چې د دعوا مصارف به څومره وي. همدغه لامل دی چې زمور لپاره دغه دعوا د يوې قرضې حيثيت لري چې د پرې کيدلو وخت او اندازه يې د شک او ترديد په حالت کې ده.

خو د احتياطي پرنســيپ له مخې چې په سوداګری کې معمول او مروج دی، مور يې تر اوسه پــورې د يوه دين يا قرض په توګــه ارزوو. په بل عبارت سره لدې چې دعوا په جريان کی ده، مور خپل ځان مغلوب فرض کوو او دهغې موخې لپاره پس انداز کوو.

فرض کوو مور په دې دعوا کې ماتې وخوړله، د مخارجو يوه برخه سر کال په خپل حساب کې د دعوا د مخارجو په نامه سنجش کوو. د دې لپاره چې د روان کال په حساب کې هغه مخارج چې په اينده کې واقع کيږي په محاســبه کې ثبت کړای شــو او د محاسبوي قواعدو مطابق يوه د حل لاره ورته پيدا کړو، هغه دا ده چې راتلونکي مخارج د روان کال د ګټې او ضرر په حساب سنجش کوو، البته وروســته چې له مور څخه حقيقي پرداخت غوښــتل کيږي بايد پوه شو چې تاديه مو لا له وړاندې په نظر کې نيولې ده.

يو بل مثال: يوه فابريکه د اوبو کشــولو پمپونه پلوري او ياد شــوي پمپونه د دوو کلونو لپاره ګارنټي شوي دي يعني که چيرته ددو کلونو په اوږدو کې ياد شوي پمپونه له کاره ولويږي، اړونده فابريکــه بــه يې په مجاني توګه ترميم کوي. فرض کړئ پــه 1370 ام کال کې د فابريکي حاصلات 10000,000 افغانــۍ شــول . دلتــه امکان لري چې په 1371 , 1372 کلونــو کې يو لړ ترميمات په مجاني توګه تر سره شي ، د دې لپاره چې په 1370 کی واقعي مفاد څرګند شي، پکار ده چې د خپلو فروشاتو حجم چې 10000,000افغانۍ دی د ترميم له مخارجو سره پرتله او يو د بل په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیښودل شي. څنګه چې تر اوسه پورې د ترمیم مقدار او مخارج معلوم ندي نو پکار ده چې شرکت د ترمیم دغه مصارف تخمین کړي او په خپل حساب کې یې د پس انداز په توګه در ج کاندي.

خو په ځینې حالاتو کې پس انداز نه یوازې قانوني مکلفیت لري، بلکې یو اقتصادي مجبوریت هم لري چې مورډ یې په راتلونکي کې انتظار باسو. په دې حالت کې هم په کار دی چې د محاسبې د دې کال پــه اوږدو کــې د مخارجو په توګه یو مبلغ درج کړو، خو دا په هغه صورت کې چې په پیل شوي کال کې د هغه مجبوریت سبب او علت معلوم وي.

د مثــال په توګه زمورډ فابریکه یــوه ضروري ترمیم ته اړتیا لري خو هغه علت چې له کبله یې مــورډ پــه روان کال کی له ترمیم څخه صرف نظر کړی دی ممکن د پیســو نشــتوالی او یا کوم بل ســبب وي ، پــه دې صورت کې یقیني وړاند وینه کولای شــو چې پــه راتلونکي کال کې باید دغه ترمیم عملي شي.

طبعاً د یاد شوي مقصد د عملي کیدلو په صورت کې یو لړ مصارف یا لګښت منځته راځي چې بایــد سر له نن ورځــي د ترمیم هغه مصارف چې په راتلونکي کال کې عملي کیږي، دګټې او ضرر په حساب کې وسنجول شي، خو دا چې ایا دغه لګښت به ځومره وي او څه وخت به واقع کیږي، په دقیقه توګه یې نشو ثبت کولای.

هغه روش چې په مرسته یې په محاسبه کې ورته دین مدنظر نیول کیږي له پس انداز یا سپما څخه عبارت دی . دین د سپما له لحاضه د قرضې یا پور خصوصیت لرلای شي.

پس انداز یا ســپما هغه دیون یا liabilities تشــکیلوي چې مقدار او د رســیدلو وخت یې په دقیقه توګه نشي ثبت کیدلای . د پس انداز د حســاب په مرســته هغه مخارج چې په کومه اندازه او څه وخت به په مصارفو تبدیلیږي، تثبیت کیږي.

لکه چې وویل شــول پس انداز له دیونو څخه په بشــپړه توګه توپیر لري . ځکه په عادې توګه د دیونو د مبلغ مقدار او د هغه د پرې کیدلو وخت په بشــپړه توګه څرګند وي . مورډ غواړو چې دغه نامعلوم دین د پس انداز یا سپما په مرسته د محاسبې له نظره په ترتیب سره معامله شي.

مثلاً: د حســابي دورې په پای کې هغه دعوا چې په جریان کې ده، په یاد راوړو چې تر اوســه پــورې یــې قطعي فیصله معلومه نده چې د چا په ګټه به تمامه شي. که مورډ دعوا و بایلله، د دعوا مصارف په خپل حســاب کې معامله کوو، او د لاندې حســابي جملې په واسطه یې په حساب کې درج کوو.

(د مخارجو حساب ته، د پس انداز له حساب څخه مثلاً1000 افغانی)

کــه چیرته مو د دعوا مخارج په نظر کې نیــولي وي، د کال په پای کې د دعوا مخارج او توپیر چې د نتایجو له حســاب څخه لاســته راځي، د ګټې او ضرر په حســاب کې سنجش کوو او د پس

(c) ketabton.com: The Digital Library

انداز توپیر د بیلانس پسیف ستون ته انتقالیږي.

کریډټ	پس انداز	ډبټ
د دعوا مخارجو ته 1000		1000 له وروستي بیلانس څخه
1000		1000

کریډټ	د دعوا مخارج	ډبټ
ګټې او ضرر ته 1000		1000 له پس انداز څخه
1000		1000

کریډټ	وروستی بیلانس	ډبټ
پس انداز 1000		
1000		

کریډټ	مفاد او ضرر	ډبټ
		1000 د دعوا مخارج

په دې حالت کې پس انداز نه یوازې لـه حقیقي پس انداز څخه کم دی، بلکې زیات تخمین شـویدی یعنې په تیر کال کی مورِ د ګټې او ضرر په حسـاب کې له حده زیات مخارج سـنجولی وو او د دې لپاره چې اضافي مخارج موتصحیح کړي وي، په خپل حسـاب کې یې د یوه حاصل په توګه په نظر کې نیسو. خو یو نورمال حاصل نه بلکې د یوه فوق العاده حاصل یا داسي حاصل په توګه یې په نظر کې نیسـو چې مورِ یې ټمه نه درلوده او دروان کال د ګټې او ضرر په حسـاب کې یې سنجوو.

په حساب کې یې د ثبت ډول په لاندې توګه اجرا کیږي.

فرض کوو چې پس انداز 300 افغانۍ زیات تخمین شوی دی، پداسې حال کې چې باید د یادو شویو حقیقي مخارجو مبلغ تادیه شي.

د بانک له حساب څخه..... / 700 افغانۍ

له فوق العاده حساب څخه ..... / 300 افغانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوق العاده حاصل	
پس انداز ته 300	

بانک	
پس انداز ته 700	

فوق العاده حاصل	
پس انداز ته 300	

په تير کال کې يو مبلغ د فوق العاده حاصل په توګه په مفاد او ضرر کې شاملېږي.

درېيم حالت، له تخمين شويو مخارجوسره مساوي پس انداز:

فرض کوو چې د دعوا مخارج مو په سمه توګه تخمين کړيدي يعنې سپمول شوی مبلغ د دعوا له مخارجو سره مساوي دي.

کريډټ بانک ډبټ	کريډټ د دعوا پس انداز ډبټ
100	1000 اولی موجود 1000

32000 شخصي سرمايه 12000 دائنين	8900 اثاثيه او تجهيزات 26100 امتعه 7000 بانک 2000 نغدې پيسې
44000	**44000**

د معاملاتو جريان

۱- امتعه په نغدي توګه پلورو.....5000 افغانۍ.

د حسابونو د ختم په اړه معلومات

۲- د مالياتي تفتيش له امله وليدل شول چې ممکن زيات مالیات تادیه کړو او مور د مالياتو اضافي مبلغ چې په راتلونکی کې به تادیه کيږي، 200 افغانۍ تخمين کړې وي او هغه پس انداز کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په تیر کال کې د ســپکې زلزلې له امله زمونږ تجارتخانې زیان ولید او مونږ ته پکار ده چې هغــه ترمیم کړو چې دغه ترمیــم ممکن په نوي کال کې پیل کړو. د ترمیم مصارف چې ممکن په راتلونکي کې یې پرداخت کړو مبلغ600 تخمین شویدي او په همدې مقدار پس انداز یا سپما کوو.

۴- یو کار ګر په محکمه کې په مونږ باندې دعوا کړیده او ادعا یې کړې چې په تیر کال کې په میاشتني ډول 100 افغانۍ کم مزد ورکړل شویدی.

د دې لپاره چې دعوا و بایلو 1200 = 100 × 12 د کارګر د مزد لپاره او په هغه برســیره 500 افغانۍ د دعوا د مخارجو په توګه تخمین کوو.

وروستی موجود د انونتور په واسطه.....24100 افغانۍ

د مثال حل:

کریډټ بانک ډبټ		کریډټ د امتعې پلور ډبټ	
7000	7000 اولي موجود	5000	2000 د شیانو د خریداری
7000	7000	5000	5000

کریډټ د امتعې پیر ډبټ		کریډټ اثاثیه او تجهیزات ډبټ	
2000 24100 وروستی موجود	26100	8900	8900
26100	26100	8900	8900

کریډټ شخصي سرمایه ډبټ		کریډټ نغدې پیسې ډبټ	
اولي موجود 32000 مفاد 500	32500	7000	2000 اولي موجود (1)5000
32500	32500	7000	7000

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ پس انداز ډبټ		کریډټ د محکمې مخارج ډبټ	
(200 (2 (3)600 (1200 (4 (500 (4	2500	500	500
2500	2500	500	500

کریډټ مزد ډبټ		کریډټ دترمیم مخارج ډبټ	
12000	(4)12000	600	(3) 600
12000	12000	600	600

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
امتعه 3000	200 مالیات 600 ترمیم 1200 مزد 500 د محکمې مخارج 500 مفاد
3000	**3000**

کریدت اخیري بیلانس ډبټ	
32500 شخصي سرمایه 12000 دائنین 2500 پس انداز	8900 اثاثیه او تجهیزات 24100 امتعه 7000 بانک 7000 نغدې پیسې
47000	**47000**

د پس اندازد پستونو د انحلال په برخه کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ افتتاحیه بیلانس ډبټ	
23500 سرمایه شخصي 12000 دائنین 2500 پس انداز	8900 اثانیه او تجهیزات 24100 امتعه 7000 بانک 7000 کسه
47000	**47000**

د معاملاتو جریان

۱- د بانکي انتقال په واسطه امتعه په .....8000 افغانۍ پلورو.

۲- پــه تیــر کال کې د مالیاتو د بیاځلې تادیې لپاره مبلغ 200 افغانۍ پس انداز کړي وي، اوس یاد شوی مبلغ د بانک د چک په واسطه ورکوو (پس انداز ته، له بانک څخه 20 افغانۍ)

۳- پــه تیر کال کــې د ترمیم لپاره چې په راتلونکي کې عملی کیږي ۱۰۰ افغانۍ مو پس انداز کړي وي، اوس یعني په نوي کال کې مو یاد شــوی ترمیم شروع کړی دی او د دې مقصد لپاره مو 900 افغانــۍ نغــدې تادیه کوو. پس انداز ته 600 / او د ترمیم مخارجو ته 300/= له نغدو پیســو څخه 900/.

۴- په تیر کال کې مو د دعوا د مخارجو لپاره پس انداز تشکیل کړی ؤ. د پس انداز مقدار12000 افغانیو ته رسیده تر څو د کارګر احتمالي معاش تادیه کړي او په دې برسیره مو 500 افغانۍ نورې د دعوا د مخارجو لپاره تخمین کړې وې.

اوس دعوا ختمه شــویده او مورِ باید په واقعي توګــه (د کارګر لپاره 270=60×12) افغانۍ د بانک له لارې تادیه کړو او د دعوا د مخارجو لپاره 800/ افغانۍ د بانک په واسطه ورکوو.

۴ الف) پس انداز ته 1200 له بانک څخه 720 افغانۍ.

۴ ب) پس انداز ته 500 افغانۍ.

د دعوا مخاجو ته 300له بانک څخه 800 افغانۍ.

وروستی موجود د انونتور پواسطه 17100 افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ د امتعې پلور ډبټ		کریډټ بانک ډبټ	
8000	7000 1000 د امتعې حاصل	(2 200) (6 750) 800 13280	7000 اولی موجود (1 8000)
8000	8000	15000	15000

کریډټ فوق العاده حاصل ډبټ		کریډټ د دعوا مخارج ډبټ	
480	480	300	300
480	480	300	15000

کریډټ پس انداز ډبټ	
اولي موجود 2500	(2) 200 (3) 600 (4) 1200 500
2500	**2500**

کریډټ دائنین ډبټ		کریډټ د ترمیم مخارج ډبټ	
12000 اولی موجود 1200		300	(3) 300
12000	12000	300	300

کریډټ مفاد او ضرر ډبټ	
د امتعې حاصل 1000 فوق العاده حاصل 480	300 د ترمیم مخارج 300 د دعوا مخارج 880 مفاد
1480	**1480**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډټ اخیري بیلانس ډبټ	
8900 اثاثیه او تجهیزات	
17100 امتعه	شخصي سرمایه 33380
13280 بانک	دائنین 12000
6100 نغدي پیسې	
45380	**45380**

د حسابونو د حل لپاره کومه طریقه پکار اچوو؟

پوهیږو چې پس انـداز له دین سره ورته والی لري چې د تادیې وخـت او د مبلغ مقدار یې معلوم نه وي، خو ځینې وخت پس انداز له هغه مبلغ سره مساوي کیږي چې مور یې تادیه کوو.

تر تخمین شویو مخارجو لږ پس انداز

پـه نـوي کال کې تر پس انداز زیات مخارج د دغې حسـابي دورې د مخارجو په توګه پیژندل کیږي او باید د ګټې او ضرر په حساب کې درج شي.

د مثال په توګه متشـکله پس انداز 1000/ افغانۍ او مخارج چې په واقعي توګه منځته راځي 1200/ افغانۍ دي یعنې پس انداز مو تر واقعي مصارفو 200 افغانۍ کم دي.

حسابي جمله یې داسي ده:

د پس انداز حساب ته 1000 افغانۍ.

د دعوا د مخارجو حساب ته 200 افغانۍ.

په نوي کال کې یو ځل بیا ۲۰۰ افغانۍ د ګټې او ضرر په حساب کې سنجش کیږي.

او نوي استول شوی مبلغ یوځل بیا د ګټې او تاوان په حساب کې سنجول کیږي.

د تابلو ګانو په واسطه د مجموعې بیلانس

لومړۍ برخه: مجموعي بیلانس

په حسابونو کې د معاملاتو د جریان دثبت او د کال په پای کې د هغوی د ټرلو په صورت کې ځینې وخت د حسابونو د توپیر د ثبت په برخه کې د محاسبوي اعدادو د جمع کولو په موقع کې یو لږ تېروتنې را منځته کیدی شي. نو په دې اسـاس د حسـابونوله ټرل کیدلو د مخه د یوې تابلو په واسـطه د دغو حسابونو کنترول صورت نیسي. د تیروتنو د واقع کیدلو احتمال په لاندې مواردو کې صورت نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمعه کولو په وخت کې تیروتنه: په دې صورت کې د حســابونو ســتونونه په سمه توګه نه وي جمع شوي.

د تفاوت د تثبیت په وخت کې تیروتنه: د حسابونو د دوو لوریو توپیر یا تفاوت په سمه توګه نه وي ایستل شوي.

په لومړي سر کې د حســابونو ټول اقلام په یوه تابلو کې نوشــته کوو او هغه جمع کوو او په دې توګه مجموعي بیلانس منځته راوړو.

مثال: د کال په پای کې لاندې حسابونه داسې مشاهده کیږي.

C اثاثیه او تجهیزات D	
40000 لومړی	
موجود	
10000 افزودی	

C د امتعې خرید D	
	30000 لومړی
	موجود
	40000 افزودی

C طلبات D	
تقلیل 70000	50000 لومړی موجود4000 افزودي
تقلیل 20000	90000افزودي
تقلیل 50000	20000 افزودي

C د امتعې پلور D	
تقلیل 100000	
تقلیل 50000	
تقلیل 70000	
تقلیل 30000	
تقلیل 60000	

C شخصي سرمایه D	
	121000

C د دفتر مخارج D	
15000	

C دائنین D	
اولي موجود 150000	
افزودي 35000	90000 تقلیل
افزودي 20000	70000 تقلیل
افزودي 10000	

(c) ketabton.com: The Digital Library

C د کرایې مخارج D		C برداشت D	
1000	12000 8000		8000 7000

له پورتنیو حسابونو څخه مجموعي بیلانس ترتیب کوو، په داسې ډول چې ښی او چپ ستون سره جمع کوو او بالاخره د هر ستون مجموع تثبیت کوو.

حساباتو نومونه	د بیلانس مجموع	
	D	C
اثاثیه او تجهیزات	50000	----
د امتعې خرید	340000	----
پلور	----	310000
طلبات	200000	140000
نغدې پیسې	320000	319000
شخصي سرمایه	----	121000
دائنین یا Creditors	160000	215000
برداشت	15000	----
د کرایې مخارج	20000	1000
د دفتر مخارج	15000	----
د کمیشن حاصل	----	14000
	1120000	**112000**

په بیلانس کی د کریډیټ د ستون مجموعه د ډبټ د ستون له مجموعې سره مساوي وي.

۱- د کریډیټ لوري هره معامله د ډبټ لوري د ورته معاملې په مقابل کې ښودل کیږي.

۲-د حســابونو د جمــع کولو په وخت کې باید اشــتباه یا تیروتنه صــورت و نه نیسي ، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې باید ډاډ حاصل شي چې پورتني حســابونه په ســمه توګه جمع شوي دي او له معاملاتي تیروتنو او غلطیو څخه پاک دي.

خو څنګه ډاډ تر لاســه کولای شــو چې د پورتنیو حسابونو د توپیر تثبیت له تېروتنې او خطاء څخه پاک دي.

د دې مقصد د درک لپاره د تابلو تر څنګ د لومړي توپیر د بیلانس په نامه یو بیل ستون هم اضافه کوو چې په لاندې ډول تشریح کیږي:

الف: د لومړني توپیر بیلانس:

لکه څنګه چې پوهیږو د حســابونو د ټرلو په صورت کې د حســابونو توپیر ځانګړي اهمیت لري چې یاد شــوي توپیر هم له مجموعي بیلانس څخه تر لاســه کولای شو، د حساب توپیر یو بل ځانګړي مجموعي چې د بیلانس د لومړني ستون په نامه یادیږي.

خو کله چې حســابونه ټرل کیږي ، توپیر یې په یوه کوچني ســتون کې د توازن په موخه درج کوو او په بیلانس کې د دغو توپیرونو توپیر د حساب په لوی ستون کې ثبت کوو.

د مثال په توګه: د مجموعي بیلانس له اعدادو څخه چې مخکې یې یادونه وشوه د تفاوت بیلانس یا د توپیر بیلانس اشتقاق کوو:

د حسابونو نوم	مجموعي بیلانس		د لومړني توپیر بیلانس	
اثاثیه او تجهیزات	D	C	D	C
د امتعې پیر	50000	----	50000	----
د امتعې پلور	340000	----	340000	----
طلبات	----	310000	----	310000
نغدې پیسې	20000	140000	60000	----
شخصي سرمایه	320000	319000	1000	----
دائنین یا Creditors	----	121000	----	121000
برداشت	160000	215000	----	55000
د کرایې مخارج	15000	----	15000	----

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دفتر مخارج	2000	1000	19000	----
د کمیشن حاصل	----	14000	----	14000
	1120000	**1120000**	**500000**	**500000**

د بیلانس د ډبټ ستون وروستۍ مجموعه د هغه د کریډیټ د ستون له نهایي مجموعې سره مساوي ده چې په دې توګه ثابتیږي چې حسابونه په سمه توګه تثبیت شوي دي.

ب- د دوهم توپیر بیلانس: (د اختتامیه مقدماتي معاملاتو درج کیدل)

د لومړني توپیر د بیلانس ټول ارقام د انونتور (اخیري موجود) په مرسته امتعه تثبیت کوي،مطابقت نلري. د دې لپاره چې د شرکت درسته پایله تثبیت شي پکار ده چې د لومړني توپیر د بیلانس تر څنګ د اختتامیه مقدماتي معاملاتو لپاره یو ستون ترتیب شي. په هغه کې لاندې معاملات د اختتامیه معاملاتو په توګه ثبت کوو.

۱- د محاسبې له مخې د اثاثې او تجهیزاتو قیمت 50000 افغانۍ دی له یاد شوي قیمت څخه 10000 افغانۍ یې استهلاک شوي دي. حسابي جمله یې داسې ده: د استهلاک حساب ته، د اثاثې او تجهیزاتو له حساب څخه 10000 افغانۍ.

۲- د امتعې اخیري موجود88000 ته رسیږي. د ډبټ په ستون کې د امتعې د خرید حساب امتعه 340 000 افغانۍ.

۳- د امتعې پیر ډبټ 34000

۴- د انونتور په واسطه اخیري موجودي 88000

۵- د پیرلو په قیمت سره د امتعې پلور 252000

حسابي جمله:

د امتعې پیر ته، د امتعې له پلور څخه.....252000 افغانۍ.

شخصي سرمایې ته، له شخصي برداشت څخه.....15000 افغانی.

پورته دریواړه معاملې په لومړي سرکې د اختتامیه مقدماتي حسابونو په ستون کې درج کوو او له هغه وروسته له دغه ستون څخه د هر حساب توپیر تثبیت کوو او د هغه په بل ستون کې یې درج کوو چې د دوهم ستون د بیلانس د دوهم توپیر په نامه هم یادیږي. د دوهم توپیر په بیلانس کې ټول حسابونه سره مخلوط یا ګډیږي یعنې دغه ستون د خالصې موجودي یا stock

(c) ketabton.com: The Digital Library

حســابونه او د خالصو پايلو ټول حســابونه په بر کې نيسي. د دې لپاره چې پورتنۍ موضوع د يوه مثال په واسطه توضيح شي د پخواني ټمرين له ارقامو څخه استفاده کوو:

د حسابونو نوم	اختتاميه مقدماتي معاملات		د دوهم توپير بيلانس	
	D	C	D	C
اثاثيه او تجهيزات	----	10000	40000	----
د امتعې پيرر	252000	----	88000	----
د امتعې پلور	----	252000	----	58000
طلبات	----	----	60000	----
نغدې پيسې	----	----	1000	----
شخصي سرمايه	15000	----	----	106000
دائنين يا Creditors	----	----	----	55000
برداشت	----	15000	----	----
د کرايې مخارج	----	----	19000	----
د دفتر مخارج	----	----	15000	----
د کميشن حاصل	----	----	----	14000
د اثاثيې او تجهيزاتو استهلاک	10000	----	10000	----
	277000	**277000**	**233000**	**233000**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موجودي او نتايجو بيلانس:

د دوهــم بيلانــس تر څنګ د موجودي يا stock بيلانس ترتيب کوو. دغه ســتون په اکتيف او پســيف کې د موجودې دارايې او ذخيري حســابونه تثبيت کوي. د دارايي د موجودي د حسابونو توپير هم يو بيلانس منځته راوړي چې د يوه مثال په واسطه يې شرحه کوو.

د حسابونو نوم	موجود بيلانس	
	D	C
اثاثيه او تجهيزات	40000	----
د امتعې پير	88000	----
د امتعې پلور	----	----
طلبات	60000	----
نغدې پيسې	1000	----
شخصي سرمايه	----	106000
دائنين يا Creditors	----	55000
برداشت	----	----
د کرايې مخارج	----	----
د دفتر مخارج	----	----
د کميشن حاصل	----	----
د اثاثې او تجهيزاتو استهلاک	----	28000
	189000	189000

په دې برســيره د نتايجو د حســابونو توپير د دوهم توپير له بيلانس څخه اخيستل کيږي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نتایجو د بیلانس ســتون ته انتقالیږي. هغه توپیر چې له دې ســتون څخه تر لاسه کیږي د کټې او ضرر حساب زیاتوي او یا یې کموي.

د شخصي برداشت له ایستلو وروسته اخیرې سرمایه تر لاسه کیږي.

بیا هم خپل مثال ته انکشاف ورکوو.

د حسابونو نوم	موجود بیلانس	
	D	C
اثاثیه او تجهیزات	----	----
د امتعې پیر	----	----
د امتعې پلور	----	58000
طلبات	----	----
نغدې پیسې	----	----
شخصي سرمایه	----	----
دائنین	----	----
برداشت	----	----
د کرایې مخارج	19000	----
د دفتر مخارج	15000	----
د کمیشن حاصل	10000	----
د اثاثې او تجهیزاتو استهلاک	----	14000
جمله	44000	

(c) ketabton.com: The Digital Library

	28000	مفاد
72000	**72000**	

مورِ د بیلو بیلو جدولونو په واســطه په شرکت کې یو معلوماتي نظر مومو، د دې لپاره چې د شرکت د حسابونو په اړه یو عمومي نظر تر لاسه کړو، هغه ټولې تابلوګانې چې تر اوسه مو مطالعه کړي دي، په یوه تابلو کې راټولوو او ترسیم کوو یې:

د حسابونو نوم	**موجود بیلانس**	
	D	C
اثاثیه او تجهیزات	30000	----
شخصی سرمایه	----	146000
طلبات	250000	160
بانک	210000	205000
نغدې پیسې	220000	21500
برداشت	16000	----
دائنین	135000	175000
ټول دیون	40000	5000
د امتعې پیر	19000	----
مزد	20000	----
کرایه	13000	----
د کمیشن مخارج	3000	----

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دفتر مخارج	----	----
استهلاکات	16000	----
د امتعې پیر	----	180000
د کمیشن حاصل	----	12000
	1143000	**1143000**

د لاندې معلوماتو په مرسته د بیلانس د ستون مجموعه د اختتامیه حسابونو په ستونونو کې او له هغه وروسته د لومړي توپیر بیلانس ، د دوهم توپیر بیلانس ، موجود بیلانس او د نتایجو بیلانس ترتیب کړئ.

د انونتور په واسطه اخیري موجودي 82000 او اثاثیه او تجهیزات 5000 افغانۍ استهلاک کیږي.

پورتنۍ حسابونه ترتیب کړئ او د اختتامیه حسابونو تابلوګاني چې د مجموعې بیلانس، د اختتامیه مقدماتي معاملاتو په ستون کې د بیلانس د لومړي توپیر، بیلانس د دوهم توپیر د موجودي یا stock د بیلانس او نتایجو د بیلانس لرونکی وي، حل کړئ؟

د حسابونو نوم	**موجود بیلانس**	
	D	C
ماشینونه	30000	----
د امتعې پیر	----	----
بانک	250000	3000
نغدې پیسې	210000	4000
شخصی سرمایه	220000	40000
دائنین	16000	20000
انتقالي اکتیف	135000	----
ټول طلبات	40000	----
انتقالي پسیف	19000	----
ټول دائنین یا Creditors	20000	----

(c) ketabton.com: The Digital Library

برداشت	13000	----
د معاش مخارج	3000	----
مخارج کرایه	----	----
د تنزیل مخارج	16000	----
د مالیاتو مخارج	----	----
د تنزیل حاصل	----	----
دبحې حاصل	----	3000
د کمیشن حاصل	----	----
د امتعې پلور	----	2000
د ماشینونو استهلاک	----	48000
	120000	**120000**

د مجموعې بیلانس درکړل شو ،د لاندې معلوماتو په مرسته له هغه څخه د اختتامیه تابلو نور ستونونه تثبیت کړئ.

۱- د ماشینونو استهلاک 50% په مستقیمه توګه.

۲- مزد 500 افغانۍ په پیشکي توګه تادیه شویدي.

۳- یو کس د ربحې له درکه له مورِ څخه 2000 پوروړی دی.

۴- 1500 کمیشن مو په پیشکي یا اډوانس توګه ترلاسه کړي دي.

۵- مورِ د مالیاتو له درکه 1000 مقروض یو.

۶- د انونتور په واسطه اخیري موجودي یا stock 13000 افغانۍ.

حسابي جملې:

۱- د ماشینونو استهلاک ته ، د ماشین له حساب څخه.....2000.

۲- انتقالي اکتیف ته، د مزد له مخارجو څخه.....500 .

۳- غیرانتقالي ته ، د ربحې له حاصل څخه.....2000.

۴- د کمیشن حاصل ، له انتقالي پیسف څخه 1500.

۵- د مالیاتو مخارجو ته، له غیر انتقالي پسیف څخه 1000.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امتعې پیر..... 55000	د امتعې پلور ته ، د امتعې له پلور څخه 42000
وروستی موجود 13000	
42000	

د حسابونو نوم	موجود بیلانس	
	D	C
تعمیر شوې ځمکې	20000	-----
اثاثیه او تجهیزات	10000	3000
د امتعې پیر	90000	5000
طلبات	30000	10000
بانک	5000	4000
نغدې پیسې	1000	500
شخصی سرمایه	-----	60500
دائنین	-----	27000
پس انداز	-----	-----
انتقالي اکتیف	-----	-----
ټول طلبات	-----	-----
انتقالي پسیف	-----	-----
ټول دائنین	-----	-----
برداشت	7000	-----
د مالیاتو مخارج	9000	-----
د کمیشن مخارج	1000	-----
د ترمیم مخارج	-----	-----
د کرایې حاصل	-----	3000
حاصل ربح	-----	70000

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې استهلاک	10000	-----
د اثاثې او ځمکې استهلاک	-----	-----
د طلباتو استهلاک	-----	-----
د اثاثې د استهلاک تصحیح	-----	-----
د طلباتو د استهلاک تصحیح	-----	-----
مشکوک طلب	-----	-----
	183000	**183000**

د مجموع بیلانس راکړل شوی، له هغه څخه د اختتامیه تابلو نورو ستونونو ته انکشاف ورکړئ او د مقدماتي معاملاتو په ستون کې یې درج کړئ.

۱. د انونتور په واسطه اخیر.....45000Af

۲. یو کس د کرایې له درکه زمونږ قرضداره دی 2000Af..... .

۳. تادیــه شــوي مالیات د یوه نیم کال لپاره دي ، کلنــي مالیات 60000Af دي چې مونږ د نوې حسابي دورې نیمایي یا شپږ میاشتني مالیات په پیشکي توګه تادیه کړي دي.

۴. مونږ د کشمشو له درکه 4000Af قرضدار یو.

۵. د ربحې حاصل د دوو میاشتو مربوط دی چې زمونږ مدیون د یوې میاشتې ربحه په پیشکي توګه تادیه کړیده.

۶. مــونږ د شرکــت د ترمیم په موخه چې ممکن په راتلونکي کــې عملي شي، احتیاطاً 1000Af پس انداز کوو.

۷. د تعمیر شوې ځمکې استهلاک له دفتري قیمت څخه په غیر مسقیمه توګه یو فیصد دی.

۸. د اثاثې او تجهیزاتو استهلاک 10%په غیر مستقیمه توګه له دفتري قیمت څخه .

۹. زمونږ له طلباتو څخه 2000 افغانۍ مشــکوکې شــوي، طمعه کیږی چې د یاد شــوي مبلغ نیمایي هغه تادیه شي. په غیر مستقیمه توګه استهلاک کیږي.

د حسابونو نوم	**موجود بیلانس**	
	D	C
ځمکه	100000	-----

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثاثیه او تجهیزات	20000	2000
د امتعې پیر	70000	10000
بانک	30000	3000
نغدې پیسې	5000	
شخصې سرمایه	-----	135000
دائنین	-----	15000
پس انداز	-----	-----
انتقالي اکتیف	-----	-----
ټول طالبات	-----	-----
انتقالي پسیف	-----	-----
ټول دائنین	-----	-----
برداشت	3000	-----
د مزد مخارج	2000	-----
د بیمې مخارج	-----	-----
اداري مخارج	1000	-----
د دعوا مخارج	-----	-----
د ربحې مخارج	4000	-----
د ربحې حاصل	-----	10000
د کمیشن حاصل	-----	-----
د کرایې حاصل	-----	5000

(c) ketabton.com: The Digital Library

50000	-----	د امتعې پلور
-----	-----	د ځمکې استهلاک
-----	-----	د اثاثې استهلاک
-----	-----	د ځمکې مصحیح
-----	-----	د اثاثې د استهلاک مصحیح
183000	**183000**	

د بیلانس مجموعه را کړه شـوه او له هغې څخه د اختتامیه تابلو ټولو سـتونونو ته انکشـاف ورکړل شو، اختتامیه مقدماتې معلومات ثبت کړئ؟

P	بیلانس A
I شخصی سرمایه 10000 II اخیر سرمایه 41000 د ویکسل قرضه 9000 پس انداز 7000 انتقالي پسیف1000 ټول دائنین 2000	I ثابته دارایي 10000 تعمیر شوې ځمکې15000 اثاثیه او تجهیزات II سیاره دارایي 100000 اشیا 5000 طلبات 2000 د دارایې ویکسل 13000 بانک 8000 نغدې پیسې 3000 انتقالي اکتیف 4000 ټول طلبات
160000	**160000**

د معاملاتو جریان

د تحدیدي اقلامو توضیح چې په اختتامیه بیلانس کې وجود لري.

۱. مور په تیر کال کې په پیشکي توګه کرایه تادیه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. یو کس په تیر کال کې د کمیشن له درکه مقروض وو.

۳. یوکس تیر کال مور ته په پیشکي توګه ربحه تادیه کړې وه.

۴. مور تیر کال د مالیاتو له درکه مقروض وو.

د ټولو معاملاتو جریان

۵. مور په قرضي توګه شیان خریداري کوو.....6000Af

په نغدو.....3920Af

په تنزیل 2 فیصد.....80 Af

جمله.....10 000Af

۶. د حمل او نقل مخارج 1080Af

۷. مور د خپل ځان لپاره شیان او امتعه را اخلو.....2000Af

۸. لــه هغه پس انــداز څخه چې په اختتامیه بیلانس کې ذکر شــوي دي، پــه راتلونکي کې د ماشــینونو د ترمیم لپاره په نظر کې نیول شــوی وو، اوس زمور ترمیم عملي شو، د ترمیم مبلغ چې په حقیقي توګه د بانک له حساب څخه تادیه شو .....6000Af ده.

۹. مور د بانکي انتقال په واسطه یوه پایه ټایپ پېرو 1900Af.

50% تنزیل 100 Af

جمله.....2000Af

۱۰. له هغو مالیاتو څخه چې مور یې تیر کال مقروض وو، اوس خپل مالیات د بانکي انتقال له لارې تادیه کوو 2000 Af

۱۱. مور نغدي معاشات تادیه کوو 3000 Af

۱۲. مور خپل شیان په قرض باندې پلورو، 40000Af

د بانکي انتقال په واسطه 49000Af

2% تنزیل.....1000Af

جمله.....9000Af

۱۳. زمور یو مشتري د شیانو یوه برخه مسترده کړه مبلغ 5000Af

۱۴. مور په خپلو مشــتریانو باندې ځلور ویکســلونه کارو، هغوی له قبلولو وروســته ویکسلونه بیرته مور ته را استوي د ویکسلونو مبلغ.....35000Af دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵. هغه کمیشـــن چې له تیر کال راهیسې یې غوښـــتونکي وو، اوس یې په نغدي توګه تر لاسه کوو مبلغ.....4000Af .

۱۶. خپل دوه قطعې ویکســـلونه د ډیســـکاونټ لپاره بانک ته وړو. د ډیســـکاونټ عوارض 100Af

زموږ بانکي حاساب ته معامله. 19000Af.

جمله 20000Af .

۱۷. ربحه په نغدي توګه را ته تادیه شوه..... Af 7000

۱۸. د یوې مېلمستیا لپاره.....5000Af پس انداز کوو.

۱۹. وه کس ته چې موږ یې د اموالو داستولو له درکه مقروض یو، د تادیې په موخه یو ویسکل ور استوو. د ویکسلونه 12000Af ده.

۲۰. له طلباتو څخه مبلغ.....1000Af مشکوک کیږي.

۲۱. مـــوږ یـــو خپل ویکســـل چې موعـــد یې را رســـیدلی وو، مبلغ یـــې په نغدي توګه تر لاســـه کوو.....5000Af .

اختتامیه حسابونه

الف:لـــه دفـــتري قیمت څخه د تعمیر شـــوې ځمکې اســـتهلا ک 2% د دفتر لـــه قیمت څخه (مستقیم استهلاک)

ب: له دفتري قیمت څخه د اثاثیې او تجهیزاتو استهلاک 10% (استهلاک غیر مستقیم).

ج: زموږ د مشکوک طلب استهلاک 1000Af (استهلاک مستقیم).

ح: د بیمې د جایزې له درکه مقروض یو 500 افغانۍ.

د: له تادیه شوي ربحې څخه چې (17 نمره کې یې یادونه وشوه)، پیشکي ربحه هم په ځان کې لري او یاده شـــوې ربحه د اوو میاشـــتو لپاره تادیه شوې ده چې د اوو میاشتو له جملې څخه دری میاشتې یې د راتلونکي کال مربوطې دې.

ط: له تادیه شـــوې مزد څخه چې (په 11 نمره کې یې یادونه وشـــوه) درې میاشتنی مزد دی. د درې میاشتني مزد له جملې څخه دوه میاشتي یې په راتلونکي کال پوري اړه لري..

ظ: یو کس د کرایې له درکه زموږ قرضدار دی 8000Af .

هـ: د آنونتور په واسطه د شیانو اخیري موجود 33080Af دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورتني تمرين د حل لپاره حسابي جملې.

۱- اکتیف ته، له اختتامیه بیلانس څخه

د اختتامیه بیلانس حساب ته، له پسیف څخه

د کرایې مخارجو ته ، له انتقالي پسیف څخه.....3000

۲- تر څو چې تادیاتو صورت نه وي نیولی د ټولو طلباتو په حساب کی کوم مبلغ نه درج کیږي.

۳- انتقالي پسیف ته، د ربحې له حاصل څخه.....1000

۴- د ټولو دائنینو یا Creditors په حســاب کې معامله هغه وخت صورت نیسي چې موږ یوه تادیه تر سره کړې وي.

۵- د شیانو خرید ته 10000 له دائنینو څخه 6000

له نغدو څخه 3920

د تنزیل له حاصل څخه 80

۶- د تهیې مخارجو ته ، له نغدو څخه.....1080

۷- برداشت ته ، د شیانو له پلور څخه 2000

۸- پس انداز ته 70000 له بانک څخه.....6000

له فوق العاده حاصل څخه.....1000

۹- اثاثې او تجهیزاتو ته 2000 له بانک څخه 1900

د تنزیل له حاصل څخه.....1000

۱۰- د مزد مخارجو ته، له نغدو څخه 3000

۱۱- طلباتو ته.....40000

بانک ته..... 49000

مخارجو ته 1000

۱۲- د شیانو مستردي ته، له طلباتو څخه.....5000

۱۳- د ویکسلونه دارایي ته ، له طلباتو څخه..... 35000

۱۴- نغدو ته ، له ټولو طلباتو څخه.....4000

۱۵- ډیسکاونټ ته 1000

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانک ته.....19000

۱۶- نغدو ته، د ربحې له حاصل څه.....7000

۱۷-د میلمستیا مخارجو ته، له پس انداز څخه.....5000

۱۸- دائنین یا Creditors ته ، د ویکسلونو له دارایي څخه.....12000

۱۹- مشکوکو طلباتو ته، له طلباتو څخه.....1000

۲۰- نغدو ته، د ویکسلونه له دارایي څخه.....5000

الف: د تعمیر شوې ځمکې استهلاک ته، له تعمیر شوې ځمکې څخه 200

ب: د اثاثیې او تجهیزاتو استهلاک ته، د اثاثیې او تجهیزاتو د قیمت مصحیح ته.....1700

ج: د مشکوکو طلباتو استهلاک ته، د مشکوکو طلباتو له حساب څخه 1000

د: د بیمې مخارجو ته، له ټولو دائنینو څخه.....500

هـ: د ربحې حاصل ته، له انتقالي پسیف څخه.....3000

و: انتقالي اکتیف ته، د مزد له مخارجو څخه.....2000

ظ: ټولو طلباتو ته، د کرایې له حاصل څخه.....8000

اختتامیه معاملات

۱- د شیانوخرید ته، د تهیې له مخارجو څخه.....1080

۲- د شیانو پلور ته، له مشتري څخه او د مشتري حساب ته له معامله کولو څخه 5000

۳- وروستي بیلانس، د آنونتور د موجوده شیانو له پلور څخه.....33080

۴- وروستي پلور ته، د شیانو له پیر څخه.....78000

۵- د شیانو پلور ته، له مفاد او ضرر څخه.....9000

۶- د ربحې حاصل ته، له مفاد اوضرر څخه.....5000

۷- د کمیشن حاصل ته، له مفاد او ضرر څخه.....180

۸- فوق العاده حاصل ته، له مفاد او ضرر څخه.....1000

۹- د کرایې حاصل ته، له مفاد او ضرر څخه.....8000

۱۰- مفاد او ضرر ته، د کرایې له مخارجو څخه.....3000

۱۱- مفاد او ضرر ته، د تنزیل له مخارجو څخه.....1000

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲- مفاد او ضرر ته، د ډیسکاونټ له مخارجو څخه.....1000

۱۴- مفاد او ضرر ته ، د دعوا له مخارجو څخه.....5000

۱۵- مفاد او ضرر ته، د ځمکې له استهلاک څخه.....200

۱۶- مفاد او ضرر ته، د اثاثیې له استهلاک څخه.....1700

۱۷- مفاد او ضرر ته ، د مشکوک طلب له استهلاک څخه.....1000

۱۸- مفاد او ضرر ته، د بیمې له مخارجو څخه.....500

-19 مفاد او ضرر ته، له شخصي سرمایې څخه (مفاد) 8780

۲۰- سرمایې ته، له برداشت څخه.....2000

بیلانس ته، له اکتیف څخه

پسیف ته، له وروستي بیلانس څخه

C شخصي سرمایه D		C برداشت D	
اولي موجود 100000 8780	2000 (20) 10678 تفاوت	تفاوت 2000	2000
108780	**108780**	**108780**	**108780**

C کسه D		C پس انداز D	
اولي موجود 1000 3000	1000 3000تفاوت	اولي موجود 7000 5000	7000 5000 تفاوت
4000	**12000**	**12000**	

C د ربحې حاصل D		C د کرایې مخارج D	
1000 7000	3000 5000	تفاوت 3000	3000
8000	**8000**	**3000**	**3000**

(c) ketabton.com: The Digital Library

C د مزد او معاش مخارج D		C انتقالی پسیف D	
(2000 (9 (1000 (12	3000 (11)	اولي موجود 1000 3000	(3)1000 3000تفاوت
3000	**3000**	**4000**	**4000**

C فوق العاده حاصل D		C د کمیشن د تنزیل حاصل D	
1000	1000 1000تفاوت	80 100	180
1000	**1000**	**180**	**180**

C د تهیې مخارج D		C د ډیسکاونټ مخارج D	
1080	1080	1000	1000
1080	**1080**	**1000**	**1000**

C انتقالي اکتیف D		C نغدې پیسې D	
3000 2000	3000 اولی موجود 2000	3920 1080 3000 16000	8000 اولي موجود (15)4000 (17)7000 (21)5000
5000	**5000**	**24000**	**24000**

C ویکسل قرضه D		C دائنین یا Creditors D	
اولي موجود 9000	9000 تفاوت	اولي موجود 41000 6000	12000 3500 تفاوت
9000	**9000**	**47000**	**47000**

(c) ketabton.com: The Digital Library

C	مفاد او ضرر D
د کرايې عايد 8000 د شيانوعايد 9000 د ربحې حاصل 5000 د کميشن حاصل 180 فوق العاده عواید 1000	3000 کرايه 1000 معاشات 1000 تنزيل 1000ډيکونټ 5000 د دعوامخارج 200 د تعمير شوې ځمکې استهلاک 1700 داثاثيې او تجهيزاتو استهلاک 1000 د مشکوکو طلباتو استهلاک 500 د بيمې مخارج 8780 مفاد
23180	**23180**

C	د پای بيلانس D
شخصي سرمايه 106780 دائنين يا 35000 Creditors ويکسل قرضه9000 پس انداز 5000 انتقالي پسيف 3000 ټول دائنين يا 500 Creditors د اثاثيې او تجهيزاتو د مصحيح استهلاک 1700	I ثابته دارايي 9800 تعمير شوې ځمکې 17000 اثانيه او تجهيزات II سياره دارايي 33080 امتعه 4000 طلبات 71100 بانک 16000 نغدې پيسې 2000 انتقالی اکتيف 8000 ټول طلبات
160980	**160980**

(c) ketabton.com: The Digital Library

C افتتاحيه بيلانس D	
I شخصي سرمايه 9000 II سرمايه غير دائنين يا Creditors 15000 پس انداز 10000 ټول دائنين يا Creditors 5000	I ثابته دارايي 20000 معمېر شوې ځمکې 5000 اثانيه او تجهيزات II سياره دارايي 50000 شيان (امتعه) 12500 طلبات 4500 ويکسل داريي 15000 بانک 1000 نغدې پيسې 3000 انتقالي اکټيف
12000	**12000**

الف: د اختتاميه بيلانس د تحديدي پستونو د حسابونو توضيح:

۱- تير کال مو په پيشکي توګه مالیات تاديه کړي وو.....3000

۲- له تير کال راهيسې د کميشن له درکه قرضدار يو.....50

ب: د معاملاتو جريان:

۳- امتعه پلورو، په قرضي توګه 20000

په نغدي توګه 19600

2% تنزيل 400

40000

۴- مورِ په مشـتريانو يا پيرودونکو باندې ځلور ويکسـلونه کارو او هغوی له قبولي وروسـته ويکسلونه مورِ ته را استوي. د يادو شويو ويکسلونو مبلغ 20000.

۵- کوم پس انداز چې په اختتاميه بيلانس کې وليدل شـو، د يوې دعوا لپاره په نظر کې نيول شـوی و، اوس نو دعوا پای ته رسـېدلې او هغه مو بايللې ده او يا اړ وو چې د دعوا مخارج چې حقيقي مبلغ يې 8000Af کيږي، د بانک له لارې ور کړو.

۶- مورِ کرايه په نغدي توګه تر لاسه کوو. 10000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د تنزیل په موخه درې قطعې ویکسلونه بانک ته وړو.

د تنزیل عوارض 1600

له بانکي حساب سره معامله 13400

15000

۸-له اثاثې او تجهیزاتو څخه مو د شخصي مقاصدو په موخه استفاده کړې 1000Af

۹- د کمیشن له درکه چې تیر کال یې قرضدار وو(دوهم نمبر قلم و ګورئ)، اوس یاد شوی مبلغ په نغدي توګه تادیه کوو 5000Af

۱۰- څو قطعې خپل ویکسلونه چې موعد یې رسیدلی وو، مبلغ یې تر لاسه کوو 9500Af

ج: اختتامیه حسابونه:

۱۱- د دفتر له قیمت څخه د تعمیر شــوې ځمکې 1% اســتهلاک، داستهلاک د مستقیم میتود په اساس.

۱۲- د دفتر له قیمت څخه د اثاثې ا و تجهیزاتو اســتهلاک 25% د اســتهلاک د غیر مســتقیم میتود په اساس.

۱۳- تادیه شوې کرایه چې په ۶ نمره کې یې یادونه وشوه، یوه برخه یې په پیشکي توګه تادیه شوې ده.

تادیه شــوی مبلغ د پنځو میاشــتو لپاره وو چې د هرې میاشــتې کرایــه 2000Af ده، د پنځو میاشتو د ټولې کرایې له جملې څخه د دوو میاشتو هغه (4000) په نوي کال پورې اړه لري.

۱۴- یو کس د ربحې له درکه زمور قرضدار دی 2800Af.

۱۵- په روان کال کې د زلزلې یوه پیښه را منځته شوه چې زمور تعمیراتو ته یې زیان و رساوو او تر میم یې تر اوســه پــورې ځنډېدلی دی، په راتلونکي کې یې د ترمیــم لپاره په تخميني توګه 1600Af پس انداز کوو.

۱۶- د آنونتور په واسطه اخیري موجودي.....15000Af

د پورتني مثال حسابي جملې

مختلف اکټیف ته، له اختتامیه بیلانس څخه

اختتامیه بیلانس ته ، له مختلف پسیف څخه

۱- د مالیاتو مخارجو ته، له انتقالي اکټیف څخه 3000

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-تادیې په حقیقې توګه صورت نه دی نیولای ، نو په وروستي حساب کې نه معامله کیږي.

طلبات 20000

نغدې پیسې19601 د امتعې له پلور څخه 40000Af

د تنزیل مخارج 400

۴- ویکسل دارایي ته، له طلباتو څخه.....20000Af

۵- پس انداز 10000 له بانک څخه 8000Af

۶- کسر د کرایې له حاصل څخه 10000Af

د بانکي تنزیل عوارض 1600

بانک 13400

۸- له اثاثې او تجهیزاتو څخه برداشت 1000Af.

۹- ټولو دائنینو ته، له نغدو څخه 5000Af.

۱۰- نغدې، د ویکسل له دارایې څخه 19500Af.

۱۱- د تعمیر شوې ځمکې استهلاک، د تعمیر شوې ځمکې له مصحیح څخه 200Af.

۱۲- د اثاثې او تجهیزاتو استهلاک، د اثاثې او تجهیزاتو د استهلاک له مصحیح څخه 1000Af.

۱۳- د کرایې حاصل ، له انتقالي پسیف څخه.....4000.

۱۴- ټول طلبات، د ربحې له حاصل څخه 2800Af.

۱۵- د کور مخارج ، له پس انداز څخه 1600Af

۱۶- د ختم بیلانس ، د امتعې له خرید څخه 15000Af

۱۷- د امتعې پلور، د امتعې له خرید څخه 35000

۱۸- د امتعې پلور، له مفاد او ضرر څخه (حاصل امتعه) 5000Af

۱۹- د حاصلاتو حسابونه، له مفاد او ضرر څخه.

۲۰- مفاد او ضرر، د مخارجو له مختلفو حسابونو څخه

۲۱- مفاد اوضرر ته، له شخصي سرمایې څخه..... 8000Af

۲۲- شخصي سرمایه ، له برداشت څخه.....8000Af

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳- د ختم بیلانس، له اکټیف حسابونوڅخه.

۲۴- د پسیف مختلف حسابونه، د ختم له بیلانس څخه.

C فوق العاده حاصل D		C د کور مخارج D	
2000	2000	1600	1600
2000	2000	1600	1600

C د اثاثې او تجهیزاتو استهلاک D		C د اثاثې د قیمت مصحیح D	
1000	1000	1000	1000
1000	1000	1000	1000

C مفاد او ضرر D	
د امتعې حاصل 5000 فوق العاده حاصل 2000 د کرایې حاصل 6000 د ربحې حاصل 2800	3000 د مالیاتومخارج 400 د تنزیل مخارج 1600 د تنزیل مخارج 1600 د کور مخارج 200 د ځمکې استهلاک 8000 مفاد
15800	**15800**

P د ختم بیلا نس A	
شخصي سرمایه 97000 دائنین 15000 پس انداز 1600 انتقالي پسیف 4000 د ځمکې د قیمت مصحیح 200 د اثاثې د قیمت مصحیح 1000	20000 تعمیر شوې ځمکې 4000 اثانیه لو تجهیزات 15000 امتعه 12500 طلبات 20400 بانک 44100 نغدې پیسې 2800 غیر انتقالي اکټیف
118800	**118800**

(c) ketabton.com: The Digital Library

P د ختم بیلانس A	
	I ثابته دارایی
	30000 تعمیر شوې ځمکې
شخصي سرمایه 7000	8000 اثانیه او تجهیزات
شخصي سرمایه	II سیاره دارایي
دائنین 13000	30000 امتعه
پس انداز 1500	2000 طلبات
ټول دائنین 2000	4000 بانک
	19000 نغدې پیسې
	7000 غیر انتقالي اکتیف
100000	**100000**

الف:د اختتامیه بیلانس د تحدیدي پستونو توضیح:

۱- یو کس د کرایې له درکه تیر کال زمورږ مقرو ض و.

۲- یوه کس تیر کال په پیشکی توګه مورږ ته کمیشن تادیه کړی و.

ب- د معاملاتو جریان:

۳- په قرضي توګه امتعه خریداري کوو 16000Af

د بانکي انتقال په واسطه 3920

2% تنزیل 80

۴-استوونکي په مورږ باندي یو ویکسل کارې، هغه 16000Af.

۵- د هغه پس انداز مبلغ چې په اختتامیه بیلانس کې ولیدل شـو، د ترمیم لپاره جمع شـوی و، اوس پـه ترمیـم باندې پیل کوو او د هغه مصارف چې 17000Af افغانیو ته رسـیږي، په نغدي توګه تادیه کوو.

۶-د ویکسل په واسطه امتعه پلورو 40000Af.

۷-یو شمیر ویکسلونه د تنزیل په موخه بانک ته وړو.

د بانکي تنزیل عوارض..... 1000Af

زمورږ بانکي دارایي ته حاصل.....29000Af

جمله30000

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- مالیات د بانکي انتقال په واسطه تادیه کوو. 6000Af

۹- کوم کس چې تیر کال د کرایې له درکه زمونږ مقروض وو، اوس په نغدي توګه زمونږ پیسې را کوي چې مبلغ 7000Af کیږي.

۱۰-له خپلې امتعې څخه د شخصي مقصد لپاره استفاده کوو په 1000Afقیمت سره .

ج- اختتامیه معاملات:

۱۱- د غیر مستقیم میتود په اساس په دفتري قیمت کې د تعمیر شویو ځمکو استهلاک 2%.

۱۲- د غیر مستقیم میتود په اساس په دفتري قیمت کې د اثاثیې او تجهیزاتو استهلاک 10% .

۱۳- لکه څنګه چې په 16مه نمره کې و ښودل شول، تادیه شوي مالیات د شپږو میاشتو لپاره وو او د هرې میاشتې وندې زر افغانۍ ده، د شپږ میاشتنیو مالیاتو له جملې څخه 4 میاشتې یې په راتلونکي حسابې دورې پورې اړه لري چې مونږ په پیشکي توګه تادیه کړېدي.

۱۴- د ربحې له درکه 3000Af مقروض یو.

۱۵- یوه کار ګر په مونږ باندې دعوا وکړه. په احتیاطي توګه د دې لپاره چې دعوا و بایلو 4000Af پس انداز کوو.

۱۶- د انونتورپه واسطه اخیري موجودي 34000Af

د پورتني مثال حسابي جملې:

مختلف اکتیف، له اختتامیه بیلانس څخه

د اختتامیه بیلانس حساب ، له مختلف پسیف څخه

۱- په دې ځای کې واقعي تادیې صورت ندی نیولای ، نوپه حساب کې نه معامله کیږي.

۲- انتقالي پسیف ، له کمیشن څخه 2000Af

۳- له دائنینو یا Creditors څخه د امتعې پیر.....16000Af

له بانک څخه 3920Af

د تنزیل له حاصل څخه..... .....80Af

۴- دائنین ، د ویکسلونه له قرضې څخه.....16000 افغانۍ.

۵- پس انداز.....15000

د ترمیم مخارج .....2000 افغانۍ.

۶- د ویکسلونو دارایي، د امتعې له پلور څخه 40000 افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د بانکي تنزیل عوارض 1000

بانک 29000

۸-د مالیاتو مخارج، له بانک څخه.....6000

۹- نغدې، له ټولو طلباتو څخه.....7000

۱۰- برداشت ، د امتعې له پلور څخه.....1000

۱۱- د تعمیر شویو ځمکو استهلاک د ځمکو د استهلاک له مصحیح څخه 600

۱۲- د اثاثې استهلاک ، د اثاثې او تجهیزاتو د استهلاک له مصحیح څخه 800

۱۳- انتقالي اکتیف، د مالیاتو له مخارجو څخه.....4000

۱۴-د ربحې مخارج، له ټولو دائنینو څخه.....3000

۱۵- د دعوا مخارج، له پس انداز څخه .

۱۶- د ختم بیلانس ، د امتعې له خرید څخه

۱۷- د امتعې پلور، د امتعې له پیر څخه.....16000

۱۸- مفاد او ضرر، د مخارجو له مختلفو حسابونو څخه

۱۹- مختلفو حسابونو ته، له مفاد او ضرر څخه

۲۰- مفاد او ضرر، له شخصي سرمایې څخه 1368

۲۱- شخصي سرمایه، له برداشت څخه.....1000

۲۲- وروستی بیلانس، له مختلف اکتیف څخه.

۲۳- مختلف پسیف، له وروستي بیلانس څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپږم څپرکي پوښتنې

۱.د تحديدي پستونو د منځته راتلو علتونه واضح کړئ؟

۲.د پرداخت، عايد، حاصل او مخارجو په برخه کې لنډ معلومات ورکړئ؟

۳.داکټيف او پسيف د تحديدي پستونو په برخه کې له مثال سره معلومات وکړئ؟

۴.د حســابونو له پرانســتلو وروسته د معاملاتو د تحديدي پستونو په هکله خپل معلومات له مثال سره وړاندې کړئ؟

۵.د حسابونو د تړلو په هکله خپل معلومات وليکئ؟

۶.د تحديدي پستونو انحلال له مثال سره واضح کړئ؟

۷.په بيلانس کې د پس انداز نقش څه شی دی واضح يې کړئ؟

۸.د لومړنی توپير بيلانس څنګه لاسته راځي، له مثال سره يې واضح کړئ؟

۹.د دوهم توپير بيلانس له مثال سره واضح کړئ؟

۱۰. د موجودي او نتايجو بيلانس رسم کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچينې او مأخذونه

۱. حسابداری مقدماتی مؤسسه فرهنگی نشر اینده گان ایران یوسف ولیئی.

۲. محاسبه وسنجش مصارف در انستیتوت اداره صنعت کابل دکتور هربرت «هیرشی».

۳. مؤسسات صنعتی افغانستان پوهنحی اقتصاد پوهنتون بوخوم المان هانس«دگنر».

۴. حسابداری مالی واداری پوهنحی اقتصاد پوهنتون کابل مترجمین ذبیح الله مدثرمحمد.

۵. Dr. Ravi sharma Bharat Law hous P.v.T Fundamentals of Accounting- L.T.D
. new Delh:

۶. لکچر نوت محاسبه ریاست عمومی اصلاحات اداری اموزگاران کورس ذکر الله.

۷. محاسبه شرکت ها مؤسسه کمکی المان وافغانستان دکتور سخي اشرف زی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښـــوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپســـې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښـــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســـابداری ځانګې د ښـــوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حســـابداری درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســـتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابداری د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شـــاګردانو او د تخنيکي او مســـلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شـــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښـــوونکو او د ادارې او حســـابداری ځانګې د مســـلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مســـلکي، تخنيکـــي او علمي مطالبـــو او مفاهيمو د څرنګوالي په هکلـــه خصوصاً د هغوی املايي او انشـــايي اشـــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شـــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شـــان له ګرانو شـــاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســـتفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ســـتونزې، فقر او وروســـته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

پته: د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا رياست
د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library